# په افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولي

## اوله برخه: اوسنی وضعیت

آریا نجات


## دوهمه برمه: د ولسوالیو او کلیو د استازیتوب راتلونکی

کرېستوف گوستوني، بصیر فدا، او یان کولر

زمری ۱۳۹۵









څېړنې د ښه افغانستان لپاره
AREU

۱۵ کاله
باکیفیته څېړنه

Govern4Afg
Governance Forum Afghanistan
مجمع حکومتداری افغانستان
د افغانستان د حکومتداري غونډه

همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
او د جرمني د اقتصادي همکاريو او پراختيا فدرالي وزارت

څېړنپاڼه

# په افغانستان کې سيمه ييزه حکومتولي

## اوله برخه: اوسنی وضعيت

آريا نجات

## دوهمه برمه: د ولسواليو او کليو د استازيتوب راتلونکی

کرېستوف ګوستوني، بصير فدا، او يان کولر

زمری ۱۳۹۵

دا څېړنه د جرمني د اقتصادي همکارۍ او پراختيا د فدرالي
وزارت له خوا تمويل شوې

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۲۲۸-۵۳-۳ (بریښنایي کتاب)

د خپروني کوډ: P ۱۶۱۵

سمونګره: وېکتوریا ګرېس

ژباړه: ګلستان شینواری

د پښتې انځورونه: د پوښ انځورونه (له پورته ښکته خوا ته) د ولسوالۍ د پرمختیایي شورا غړي ( کرېستوف ګوستوني لخوا، کندوز ولایت، ۲۰۱۲ کال)؛ د افغانستان د څېړنې او ارزونې مرکز مشورتي غونډه ( د خالد بهزاد لخوا، ۲۰۱۵ کال)؛ د ټولنیزې پرمختیایي شورا لومړنۍ ټاکنې ( د کرېستوف ګوستوني لخوا، بدخشان ولایت، ۲۰۰۳ کال)؛ ولسوالي ( د کرېستوف ګوستوني لخوا، بلخ ولایت، ۲۰۱۵).

© ۱۳۹۵ د خپراوي حقونه د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) او د آلمان نړیوالې پرمختیا او همکارۍ له ټولنې (GIZ) سره خوندي دي.

یوازې د سوداګریزو موخو لپاره په نورو لیکنو کې د دغې خپرونې نکل او یادونه کېدای شي یا له سره تولیدېدای شي او په دې شرط چې د خپرونې د لیکوالانو او سرچینې نومونه په کې یاد شي. په دې خپرونه کې څرګند شوي نظرونه د لیکوالانو دي او حتمي نه ده چې د جرمني د اقتصادي همکارۍ او پراختیا فدرالي وزارت، AREU او GIZ د نظرونو استازیتوب وکړي. ځینې حقونه یې خوندي دي. کومو ځایو کې چې دغه خپرونه بیا وړاندې کېږي، ساتل کېږي یا په الیکترونیکي ډول لېږدول کېږي نو هلته باید د www.areu.org.af (AREU) او www.giz.de (GIZ) وېبپاڼو لینکونه ورکړل شي. له دغو اجازو پرته د خپرونې بل هر ډول کارولو لپاره باید په لیکلې بڼه له مرستیالو خپرونکو، افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره AREU او GIZ څخه اجازه واخیستل شي. اجازه د دغه ایمیل: areu@areu.org.af یا دې شمېرې +۹۳۰۲۰۲۲۱۲۴۱۵ له لارې لاسته راوړلی شئ.

# لیکوالانو په اړه

**اریا نجات**، د حکومتولۍ او مشرۍ د تګلارې شنونکې، د ډیوران څېړنې او شننې مرکز ( www.duran.af) ګډه چلوونکې ده، چې د ستراتیژیکو پروګرامونو یو کابل مېشتی پر مختیایي او څېړنیز مرکز دی. نوموړې له هارورډ پوهنتونه فارغه ده او د فولبرایټ پروګرام او د مري بویس او اټلانټیک شورا څېړونکې غړې ده. د دې تازه څېړنیز کارونه چې د امریکا د سولې انسټیټیوټ او د افغانستان د څېړنې او ارزونې مرکز لخوا خپاره شوي په افغانستان کې پر حکومتولۍ او د ښځو پر مشرۍ متمرکز دي.

**یان کولر** د همغږې څېړنیزې اداري ۷۰۰ (SFB) په سي۹ پروژې کې څېړونکی او د ډکري څېړنې څارونکی دی او د کیفي څېړنو د چلنلارو د پرمختیا مسول دی. نوموړی په افغانستان او د مرکزي اسیا له شوروي نه جلا شویو دولتونو کې د څېړنو پراخه تجربه لري. نوموړی د نظم/ بې نظمۍ توان: په قفقاز او پخوانۍ یوګوسلاویا کې د کړکېچ او ټیکاو روښانول ( چې په **۲۰۰۳** کال کې د مانچېسټر پوهنتون لخوا چاپ شوې) څېړنې ګډ ایډیټر دی. دی یو ټولنیز وګړپوه دی، چې د برلین په ازاد پوهنتون کې یې دوکتورا کړې ده.

**بصیر فدا** د برګاف بنسټ " په شمالي او شمال ختیځ افغانستان کې د نارسمي حکومتولۍ بنې" پروژې کې څېړونکی دی. له دې پروژې نه وړاندې نوموړې په کابل کې د جرمني په سفارت او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوی ماموریت، یوناما، کې کار کړی. نوموړي په ګوا پوهنتون کې په اقتصاد کې لېسانس کړی او د برلین د هرټي حکومتولۍ پوهنځي کې یې په عامه پالیسۍ کې ماسټري کړې، چې د نورو ځانګو تر څنګ یې د شمېرنو شننې په تطبیقي کمي چلنلارو ځانګړی تمرکز کړی.

**کریستوف ګوستوني** د برګاف بنسټ " په شمالي او شمال ختیځ افغانستان کې د نارسمي حکومتولۍ بنې" د پروژې تنظیموونکی دی. دا بنسټ هغه سیمه ییز ټولنیز-کلتوري فکتورونه پلټي، چې په نازکو او کړکېچ نه راوتلو دولتونو کې پر حکومتولۍ د اداري فساد اغېز کموي. په دغه بنسټ کې له کاره وړاندې نوموړي په افغانستان، منځنۍ اسیا، او مکسیکو کې د سلاکار او د کړکېچ د شنونکي او اغېز د ارزوونکي په توګه کار کړی. کرېستوف یو ټولنیز وګړپوه او سیاست پوه دی او د برلین په ازاد پوهنتون کې یې دوکتورا کړې ده.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري (AREU) په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) په کابل کې د څېړنې یو خپلواک بنسټ دی. د AREU موخه دا ده چې د لوړ کیفیت اړوندو څېړنو او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو خپرولو، او د څېړنې او زده کړې د کلتور د ملاتړ له لارې پر پالیسۍ او عمل خپل اغېز وساتي او په دې اړه پوهاوی لوړ کړي. د خپلې موخې لاسته راوړلو لپاره، AREU د پالیسیو جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کوونکو سره کار کوي چې دوی د AREU له څېړنو او کتابتونه کار واخلي او د څېړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي، او AREU شننو، فکرکولو او بحثونو ته لاره هواره کړي.

د AREU بنسټ په ۲۰۰۲م کال کې په افغانستان کې د مرستندویه ټولنو له خوا کېښودل شو چې د مرستندویه ادارو، ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو غیر حکومتي ادارو له استازو جوړ د مشرانو یو بورډ لري.

په ۲۰۱۲م کال کې د AREU ځانګړې پروژې د اروپايي ټولنې (EU)، د پراختیا بهرنۍ اداره (PROMOTE ،(ODI د امریکا حکومت د نړیوالې پراختیا ادارې پروژه (چې ټېټرا ټېک WLD يې پلې کوي)، امنیتي حکومتولۍ ډله (SGG)، د امریکا حکومت د امنیت اداره (USIP)، د جرمني د اقتصادي همکارۍ او پراختیا فدرالي وزارت (GIZ) ،(BMZ)، د جوارو او غنمو د ودې نړیوال مرکز (CIMMYT)، د هالنډ ساینسي څېړنو اداره (NWO) او د بریتانیا-افغانستان د جګړې ماشوم په نامه ادارې له خوا تمویلېږي.

# مخلیک

د ښې حکومتولۍ اډانه د درېمې پایښت لرونکې موخې (SDG) په نامه د ملګرو ملتونو تګلارې کې په جوت ډول خوندي شوې ده، چې هلته د " خلکو د زیاتېدونکې ښېګڼې لپاره په سیمه ییزه کچه د همکارۍ په موخه د ولس او حکومت د ورتیاو لوړول" بلل شوي دي. همداراز د SDG په اهدافو کې هم مهم ځای ورکړل شوی دی، چې " په یوه ولسواک سېستم کې د یوه اغېزناک حکومت پرمختګ او د نړیوالې همکارۍ له مخې د پایښت لرونکې پرمختګ د اصولو عملي کول" پکې شامل دي. دا چې افغانستان د هغو ۱۹۳ هېوادونو په ډله کې دی، چې د ملګرو ملتونو هغه کاري چوکاټ یې لاسلیک کړی، چې له مخې یې د پایښت لرونکي پرمختګ لپاره د ریو د پرېکړه لیکونو او د یویشتمې تګلارې د عملي کولو ژمنه شوې، دغه هېواد په دې برخه کې پر خپلو ژمنو ولاړ دی. د ملګرو ملتونو دغه تګلاره په افغانستان کې د حکومتولۍ د ناستې ( Govern۴Afg ) په نامه پروګرام له لارې فعالیت کوي.

دغه پروګرام چې د جرمني او افغان همکارانو لخوا پیل شوی، ډېر په وخت کار دی، ځکه چې زموږ په هېواد کې د حکومتولۍ د تګلارو په اړه بحث ته زمینه برابروي. څېړونکي او تګلاره جوړوونکي د حکومتولۍ په برخه کې د پرمختیایي همکارۍ د پیاوړي کولو په موخه د بحث او خبرو د ودې لپاره د شواهدو له مخې تر لاسه شوې پوهه او نظرونه ورسره شریکوي. د ۲۰۱۵-۲۰۱۷ کال لپاره د دغه پروګرام د شپږو غوره شویو موضوعاتو له ډلې یوه " په افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولي: د ولسوالیو او کلیو د استازیتوب اوسنی وضعیت او راتلونکی" ده.

په دې څېړنه کې په افغانستان کې سیمه ییزې حکومتولۍ ته پېښې ننګونې او فرصتونه وړاندې کېږي. په دې څېړنپاڼه کې همداراز په افغانستان کې د کلیو او ولسوالیو د استازیتوب په اړه عملي شواهد او پایلې هم وړاندې کېږي. افغان حکومت د عامه چوپړونو په وړاندې کولو کې ښه والي راوستو ته ژمن دی. خو دا کار یوازې سیمه ییزې کچې ته د یو څه واک د ورکولو په صورت کې شونی دی. په حقیقت کې، د بېلګې په توګه د وخت په تېرېدو ولایتونو ته د ۴۰ سلنه پلان او عملي کولو د واک د لېږد په اړه پیاوړې سیاسي اراده شته.

افغان حکومت دا خبره باوري کوي، چې دغه بحث به د سیمه ییزې حکومتولۍ په راتلونکې تګلارې کې له پامه و نه غورځول شي او هیله کېږي، چې د افغانستان د حکومتولۍ د ناستې په څېر دریځونه به د دا ډول سمونونو لپاره د سیمه ییزو بنسټونو ګډون ته د لارو اواری روان وساتي.

نادر نادري
په عامه او ستراتېژیکو چارو کې د ولسمشر سلاکار
او د بیان د خپلواکۍ عمومي سفیر
زمرۍ ۱۳۹۵

# مخلیک

د افغانستان د حکومتولۍ غونډه (Governance Forum Afghanistan) د بحث د یوه دریځ په توګه د افغانستان د حکومتولۍ په برخه کې د تګلارو د سمون او پلي کولو ملاتړ کوي. ښه حکومتولي، د قانون حاکمیت، حساب ورکونه او روڼتیا د افغانستان د پرمختګ او ټیکاو لپاره ډېر اړین دي. افغانان پر دولتي بنسټونو د باور پیدا کولو ته اړتیا لري، د اداري فساد پر ضد باید اغېزناکه مبارزه وشي او سمونونه باید د خلکو په ورځني ژوند کې ښه والی راولي. خو یوازې دا بسنه نه کوي، چې سمونونه پر کاغذ ولیکل شي، بلکې د افغانستان په کلیو او ښارونو کې باید عملي شي.

د بحث د دغه دریځ موخه دا ده چې د افغان او جرمن دبدلون-مخکښانو تر منځ د ښې حکومتولۍ په برخه کې د تګلارو په اړه بحث او خبرو اترو ته لاره جوړه شي. د دواړو هېوادونو څېړونکي او تګلاره جوړوونکي د حکومتولۍ په سېکتور کې د لوړې کچې بحث او مشورو په ترڅ کې سره د شواهدو پر بنسټ تر لاسه شوي مالومات شریکوي. نو د تګلارې په اړه بحثونه له عملي ډګر سره پرتله کېږي. په پایله کې یې، د حکومتولۍ غونډه د جرمني د اقتصادي همکارۍ او پرمختیا وزارت د افغان-جرمن پرمختیایي پروګرام **۲۰۱۴-۲۰۱۷** د پلي کولو د یوې وسیلې په توګه کار کوي.

د **۲۰۱۵** کال په پیلنۍ کارغونډې پسې د افغان او جرمني لومړیتوبونو له مخې شپږ موضوع ګانې ( د ولایتي پلان او بودیجې جوړول، د جنسیتي انډول په موخه د بودیجې جوړول، د کانونو اداره کول، سیمه ییزه حکومتولي، مدني ټولنه او د ملکي خدمتونو سمون) د ژور بحث لپاره غوره شوې.

د **۲۰۱۵** کال په اوږدو کې د دواړو هېوادونو څېړنډلو خپل تخصص شریک کړ او د ځانګپوهانو او چارواکو تر منځ یې د ازادو خبرو اترو د ناستو او نورو لارو له مخې خبرو اترو ته زمینه برابره کړه او د تګلارو په اړه د بحثونو د سپارښتنو درلودونکې څېړنپاڼې یې وړاندې کړې.

د جرمني د اقتصادي همکارۍ او پرمختیا وزارت هیله من دی، چې دا څېړنیزې مطالعې به په افغانستان کې په دې تړاو نور بحث ته هم لارې پرانیزي او له دې برخې سره به د مرستندویانو تړاو روان وساتي.

## د دې څېړنې په اړه

په افغانستان کې د سیمه ییزې حکومتولۍ په اړه دا څېړنیزه مطالعه، چې د **۲۰۱۲** کال په جولای کې عامه لوستنې ته وړاندې شوه، د مېز تر شا او عملي څېړنې د یوه پېچلي بهیر او له بېلابېلو اړوندو خواو سره د بحثونو پایله ده. افغانستان اوسمهال یو مرکزواکی حکومت لري، که څه هم اساسي قانون د نامتمرکزو حکومتي جوړښتونو رامنځته کېدو ته اجازه ورکوي. په اوسني نازک او بې ټیکاوه وضعیت کې مهم پرېکړه کوونکي د دغه پراخ هېواد بېلابېلو برخو ته د چوپړونو په رسولو کې د ښه والي لپاره د متمرکز واک پر ځای د نامتمرکزوالي اطلاح خوښوي.

د دې اوسنۍ څېړنې له لارې دا څېړنډله په افغانستان کې د حکومتولۍ د مهمو مفاهیمو په اړه د پوهنې په زیاتېدو کې مرسته کوي. د دې څېړنپاڼې لیکوالان د ولایتي، ولسوالیو او ښاروالیو په کچه سیمه ییز جوړښتونه تر غور لاندې نیسي، چې یا د دولت برخې دي او یا هم تر ډېره د دولت لخوا تنظیمېږي. له همدې امله په دې څېړنه کې د سیمه ییزې حکومتولۍ د شوني سمون لپاره د یوې مهمې برخې په توګه د شورا پر اغېزناک جوړښت تمرکز کېږي، چې دودیزه او نومهالې یا مودرنه حکومتولي دواړه پکې سره ګډې شوې دي.

په افغانستان کې د حکومتولۍ غونډې لخوا له حکومتي ادارو سره تر مشورو او د افغان حکومت، د مدني ټولنو له استازو او نورو اړوندو خواو سره تر یوه ازاد بحث وروسته د غونډې د ډلې د مهمو موندنو له مخې دا سپارښتنې رامخته شوې:

- د سیمه ییزې حکومتولۍ په تګلارې کې له اوسني سمون سره د سیمه ییزې حکومتولۍ د پلي کوونکو د کارونو، ونډو، بهیرونو او چوپړونو په اړه پوره وضاحت کول؛
- د اغېزناک سمون او ښې چوپړ رسونې د لوړ توان لرونکي بنسټ په توګه ښاروالیو ته د سمون په لړ کې د دندو د وېش له مخې لومړیتوب ورکول؛
- د ولایتي شوراګانو د څار د حق د ملاتړ له لارې له ښکته-پورته خوا ته د حساب ورکونې پیاوړي کول؛
- د شورا د جوړښت ساتنه او پرمختیا، څکه دا د کلیو په کچه حکمتولۍ کې د عمومي ذهنیت ښه کېدو ته لاره اواروي.

دې څېړنې د جرمني د همکارۍ د ادارې (RCD) د سیمه ییزو وړتیاو د پرمختیا پروګرام له کاره مالومات هم تر لاسه کړي او ښېرته ورسره د کارونو په ښه کولو کې مرسته هم کوي، ځکه چې دا اداره د افغانستان په شپږو شمالي ولایتونو کې د ولایتي او ولسوالیو د ادارو د وړتیاو د لوړولو موخه لري. همدراز، د بحثونو د غونډو او د سیمه ییزې حکومتولۍ په تړاو د څېړنو د مثبتو پایلو په توګه د افغانستان د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکې ادارې د سیمه ییزې حکومتولۍ په اړه د حکومتولۍ د غونډې د نور ملاتړ غوښتنه هم وکړه.

له دې لارې د سیمه ییزې حکومتولۍ د ملاتړ لپاره یو بنسټ رامنځته شو چې د تګلارو په جوړولو کې د حکومتولۍ د غونډې اوږدمهالې او مهمې ونډې اخېستنې ته زمینه برابروي او همدراز د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې ادارې او د جرمني د همکارۍ د ادارې تر منځ د دوامدارې همکارۍ په برخه کې هم مهمه ونډه لري.

دا څېړنه به نه یوازې د افغانستان د حکومتولۍ د غونډو پر مهال بلکې د افغان حکومت د بېلابېلو ادارو، مرستندویانو او علمي کړیو تر منځ د لا نورو بحثونو لپاره د یوه بنسټ په توګه کار وکړي. د دې څېړنپاڼې په پراخه کچه خپراوی به په بېلابېلو کچو او د هغوی تر منځ بحثونو او د تګلارو سمون ته لاره اواره کړي. د افغانستان د حکومتولۍ غونډه به د **۲۰۱۲** کال په اوږدو کې د نویو رامخته شویو موضوعاتو په اړه خپل بحثونه روان وساتي.

کلاوس کرامر
په کابل کې د جرمني د سفارت د پرمختیایي همکارۍ مشر
زمرۍ **۱۳۹۵**

# مننې

د دې څېړنې لیکوالان د نظرونو او لیدتوګو د شریکولو له کبله د ټولنې د غړو، د ټولنیزو پرمختیایي شوراګانو د استازو، حکومتي چارواکو، د سیمه ییزې حکومتولۍ د کارپوهانو، او د افغان او بهرینو پرمختایي ځانګپوهانو مننداوی دي. دا څېړنه د دوی د نظرونو له څرګنداوي پرته شونې نه وه. موږ همداراز په کابل او برلین کې د افغانستان د حکومتولۍ غونډې د ارزونو او ملاتړ له امله مننداوی یو. موږ د دې څېړنې د ملاتړ له امله د جرمني د اقتصادي پرمختیا او همکارۍ د فدرالي وزارت (BMZ) مننه کوو. او په پای کې موږ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره کې د خپلو همکارانو نه ډېره مننه کوو، چې د خپل باکیفیته کار په مټ باکیفیته څېړنې هڅوي.

# د موضوعاتو لیکلړ


لیکوالانو په اړه ..... ه

مخلیکونه ..... ز

مننې ..... ي

لنډنومونه ..... م

ځانګړوییونه ..... ن

سریزه ..... ۱

اجرایي لنډیز ..... ۲

**لومړی برخه: د سیمه ییزې حکومتولۍ او سنی وضعیت ..... ۵**

۱. جوړښت ..... ۶

۲. تګلاره او قانوني چوکاټونه ..... ۷
۲.۱ د سیمه ییزې حکومتولۍ تګلاره ..... ۷
۲.۲ د ولایتي بودیجې جوړونې تګلاره ..... ۹
۲.۳ جوړېدونکي قانوني چوکاټونه ..... ۱۰

۳. د سیمه ییزې حکومتولۍ سمون ..... ۱۱
۳.۱ شوی پرمختګ ..... ۱۱
۳.۲ مهمې ننګونې ..... ۱۲
۳.۳ شته فرصتونه ..... ۱۵

۴. سپارښتنې ..... ۱۷
۴.۱ د ستراتېژیک ژورلید او عملي چارو تر منځ د همغږۍ باوري کول ..... ۱۷
۴.۲ د سیمه ییزې حکومتولۍ د مهمو برخوالو په ګوته کول او د هغوی د دندو روښانه کول ..... ۱۷
۴.۳ هغه بنسټ ته لومړیتوب ورکول چې د اغېزناک او اړین سمون تر ټولو ډېر توان لري: ښاروالۍ ..... ۱۸
۴.۴ له ښکته-پورته حساب ورکولو پیاوړي کول: د ولایتي شوراګانو د څار د حق ملاتړ ..... ۱۸

**دویمه برخه: د ولسوالۍ او کلي استازیتوب ..... ۱۹**

۵. د پرمختیایي شورا جوړښت ..... ۲۱
۵.۱ د شورا دندې او تنظیم ..... ۲۱
۵.۲ د شورا جوړښت او ارزونه یې: ..... ۲۳

۶. د څېړنې اړوندې پوښتنې ..... ۲۶
۶.۱ د شورا او حکومتولۍ په پوهاوي کې خلاګانې ..... ۲۶
۶.۲ د تشو ډکول ..... ۲۷
۶.۳ شمېرنې او چلنلار ..... ۲۷

۷. عملي پایلې ..... ۲۸
۷.۱ تشریحي احصائیې ..... ۲۸
۷.۲ پر حکومتولۍ د شورا د جوړښت د اغېزګڼ اړخیزه تراوي شننه ..... ۲۹
۷.۳ سیمه ییزې حکومتولۍ ته د رسیدو قرینوي تګلاره؟ ځایي ګواښونه او توان ..... ۳۸
۷.۴ تر اوسه لاس ته راغلې پایلې ..... ۴۱

۸. پایلې ..... ۴۳
۸.۱ لامرکزي پرمختیا او حساب ورکونه ..... ۴۳
۸.۲ د بلدتیا او خبراوي له لارې بدلېدونکي نظرونه ..... ۴۴
۸.۳ د اړتیاو په اړه د خبراوي او د ستونزو د اواري لپاره د اړیکو لار ..... ۴۴
۸.۴ سپارښتنې: د شورا د جوړښت ساتنه او رغاونه ..... ۴۴

ضمیمه ..... ۴۷

**اخځلیک ..... ۵۰**

# جدولونه

۱ جدول: د سیمه ییزه پرمختیایي شورا فعالیت او د کلي په کچه د حکومتولۍ پایلې ۳۴

۲ جدول: د سیمه ییزه پرمختیایي شورا فعالیت او د ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ پایلې ۳۶

۳ جدول: د شورا کالي فعالیت او د کلي په کچه د حکومتولۍ برداشتونه د سیمه ییزه پرمختیایي شورا له خوا ۳۶

۴ جدول د شورا کاري فعالیت او د ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ په اړه برداشتونه ۳۷

۵ جدول: د امنیت وضعیت له مخې په ویشل شویو ولسوالیو کې د شورا د کاري فعالیت شاخص ۴۰

۶ جدول: لویو لارو (عمومي پاخه سړکونه ) ته د لاس رسي پر بنسټ د ویش له مخې د شورا د کاري فعالیت شاخص ۴۱

# ګرافونه

۱ شکل: په کلي کې د تر ټولو پیاوړي کس په اړه د پوښتل شویو کسانو برداشت د ۲۰۰۰ کال له نیمایي راهیسې د سیمه ییزې پرمختیایي شورا مشر د کلي په کچه د مهم مشر په توګه ځای نیولی. سرچینه: پنځه بریالۍ سروې ګانې چې جان کویلر د کندز او تخار ولایتونو په څلورو ولسوالیو کې کړې دي. په عین کلیو کې په هرو دوه کالونو کې سروې شوې ده ، خو له عین کسانو څخه بیا نه دي پوښتل شوي. نو دا یوه کلاسیکه سروې نه ده. (Freie Universität Berlin, SFB ۷۰۰ C۹ ) ۲۲

۲ شکل: د کلي په کچه د حکومتولۍ برداشت ۲۸

۳ شکل: د ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ برداشتونه ۲۹

۴ شکل: د سیمه ییزه پرمختیایي شورا CDC د فعالیت او د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ د برداشتونو ترمنځ د اړیکو د اغیز د څېړنې موډل. دغه موډل دوه اساسي خپلواک متحول فکتورونه-د سیمه ییزه پرمختیایي شورا لپاره بیا ټاکنې او د ملي پیوستون پروګرام NSP د دویم پړاو لپاره د مالي سرچینو برابرول- څاري. موډل دغه راز د تیورۍ له پلوه اړوند یو شمیر نور متحول فکتورونه هم رانغاړي. ۳۰

۵ شکل: د اغېز موډل د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ د برداشتونو او د شورا د تکامل (د شورا د فعالیت شاخص ) ترمنځ اړیکې څېړي. دغه موډل د ټولو اړخونو په پام کې نیولو سره کټ مټ د لومړي موډل په څېر دی، البته زموږ د اساسي شاخص په استثنی (د شورا تکامل ) دغه توپیر د رنګونو په بدلولو روښانه کوو. ۳۰

# لنډنومونه

| | |
|---|---|
| AREU | د افغانستان د څېړنې او ارزونې مرکز |
| BMZ | د جرمني د اقتصادي همکاريو او پرمختيا فدرالي وزارت |
| CDC | د ټولنيزې پرمختيا شورا |
| CLDC | د کلستر د کچې پرمختيايي شورا |
| DC | د ولسوالۍ شورا |
| DDA | د ولسوالۍ پرمختيايي شورا |
| DLD | د وزارت د ولسوالۍ څانګه |
| GIZ | د جرمني د نړيوالې همکارۍ اداره |
| KII | د مهم مالومات ورکوونکي مرکه |
| MRRD | د کليو پراختيا او بيارغونې وزارت |
| NGO | نادولتي ټولنه |
| NSP | د ملي پيوستون پروګرام |
| PC | ولايتي شورا |
| PLD | د وزارت ولايتي څانګې |
| SNGP | د سيمه ييزې حکومتولۍ تګلاره |

# ځانګړویيونه

| | |
|---|---|
| ارباب | د کلي مشر، چې ډېری وختونه لوی ځمکوال وي او په عامه توګه د مرکزي حکومت لخوا د کلي او د مرکزي حکومت تر منځ د تړاو په توګه کار کوي. |
| اربکي | نارسمي ملېشه |
| حشر | ټولنیز ګډ کار |
| خان | لوی ځمکوال |
| ملک | د ارباب په تړاو مالومات وګورئ |
| ملا | سیمه ییز دیني مشر |
| شورا | د سلا غونډه، لکه د ټولنیزې پرمختیا شورا |
| ولسوال | د ولسوالۍ تنظیموونکی؛ په ولسوالۍ کې د مرکزي حکومت لخوا ګومارل شوی استازی |
| ولسوالي | د ولسوالۍ په کچه اداره چې مشري يې ولسوال کوي |

# سریزه

د افغانستان د حکومتولۍ غونډه د افغان-جرمن اوږدمهالې همکارۍ د ملاتړ کوونکي پروګرام په توګه د افغانستان د حکومتولۍ په سېکتور کې یو لاسنیوی دی. د افغانستان وضعیت ته د شننې له ځانګړې لیده په کتو دا پروګرام د مهمو حکومتي او خصوصي ادارو، مدني ټولنو او نړیوالو اړوندانو تر منځ د تګلارې په اړه بحث ته د یوه دریځ د رامنځته کولو له لارې د حکومتولۍ په برخه کې د پرمختیایي همکارۍ په ډېرولو کې د ونډې اخېستو هڅه کوي. د افغان او جرمني د حکومتولۍ کارپوهان او شنونکي به د ۲۰۱۵-۲۰۱۷ په موده کې د تګلارې په اړه د لوړې کچې ګڼ شمېر ناستو کې سره راټول شي. په دې غونډو کې پر مهمو موضوعاتو تمرکز کېږي او په اړه یې په تګلارې کې مرستندویه څېړنپاڼې وړاندې کېږي، چې د سیمه ییزې حکومتولۍ په اړه دا څېړنه هم د هغوی له ډلې ده.

یاد شوی پروګرام د حکومتولۍ په اړه د ازمېښتي ارزونو د تر سره کولو او شریکولو له لارې خپلمنځي زده کړې او غور ته زمینه برابروي. نو د دغه بهیر په پای کې هیله کېږي، چې  په افغانستان کې د حکومتولۍ د مهمو مفاهیمو په اړه زموږ په پوهې کې وضاحت او ژوروالی رامنځته شي او د حکومتولۍ د بېلابېلو بڼو د ځار، د ننګونو د پېژندنې او د حل لارو د موندنې وړتیا مو لوړه شي. دا هیله هم کېږي، چې دا بهیر به د  افغان او جرمني د حکومتولۍ کارپوهانو یوه داسې شبکه رامنځته کړي، چې په نوښت او ښایي بېل ډول فکر وکړي او په نظر کې د همدغه بېلتون له لارې یو بل بشپړ کړي او په افغانستان کې د حکومتولۍ د پیاوړي کولو د ګډې موخې په پرمختګ کې ونډه واخلي.

له مخکې تګه وړاندې، راځئ چې د خپلې پلټنې موضوع تعریف کړو. د همکارۍ د څېړنیز مرکز SFB ۷۰۰ سره په همغږۍ چې ( د محدودې دولتمندۍ په سیمو کې حکومتولي) تر سرلیک لاندې دی، موږ حکومتولي د ټولنیزو چارو د همغږۍ د داسې لارو په توګه پېژنو چې موخه یې د تړاو د اصولو پلي کول او د عامه ښېګڼې وړاندې کول دي. د دې پېژند مانا دا ده، چې د قانون، نظم، امنیت، عامه توکیو او چوپړونو رسول او همداراز پرمختګ، عامه خیر ښېګڼه او همداراز نورې ځانګې ټول د حکومتولۍ چارې دي. د حکومتولۍ دا چارې ډېری وختونه-خو یوازې نه- د دولت لخوا تر سره کېږي. په افغانستان کې د حکومتولۍ د وړاندې کوونکو په نورو بنسټونو کې د دولت لخوا د ځینې تنظیمېدونکو جوړښتونو په ډله کې داسې جوړښتونه شامل دي، چې په اصل کې د دولت برخه نه دي ( د بېلګې په توګه ټولنیزې پرمختیایي شوراګانې، د ولسوالیو پرمختیایي شوراګانې)، همداراز نارسمي بنسټونه چې یا د دولت لخوا نه تنظیمېږي او یا هم په ډېرې کمې کچې د دولت لخوا تنظیمېږي ( د بېلګې په توګه قومي مشران، دودیزې شوراګانې، ملکان او نور)، نړیوالې ټولنې، ملي او نړیوالې ناحکومتي ټولنې او همداراز دولت مخالفې ډلې لکه طالبان د حکومتولۍ په چارو کې دخیلې دي. نو له همدې امله د حکومتولۍ مفهوم له هغو مقرراتو او چوپړونو ډېر پراخ دی چې د دولت لخوا وړاندې کېږي.

زموږ په دې څېړنپاڼې کې موضوع سیمه ییزه حکومتولي ده. مخکنې پېژند ته په کتو، په سیمه ییزې حکومتولۍ کې د حکومتولۍ ټولې بڼې شاملې دي ( چې قوانین، مقررات او چوپړونه ټول پکې راځي)، چې له ملي کچې په ټیټ پوړ کې د بېلابېلو خواو لخوا ولس ته وړاندې کېږي. زموږ د څېړنې تمرکز بیا د سیمه ییزې حکومتولۍ له دغه پراخ ډګره یو څه راغونډ دی. موږ د سیمه ییزې حکومتولۍ یوازې پر هغو خواوو تمرکز کوو، چې یا د دولت برخې دي او یا هم تر ډېره د دولت لخوا تنظیمېږي. د دولت لخوا د وړاندې کېدونکې حکومتولۍ د برخې په توګه موږ ولایتي، د ښاروالیو او ولسوالیو د کچې حکومتولي په نظر کې نیسو. د نادولتي، خو د دولت لخوا د تنظیمېدونکو بنسټونو په توګه په ځانګړې توګه د پرمختیایي شوراګانو جوړښت تر غور لاندې نیسو چې د کلیو پراختیا او بیا رغونې وزارت لخوا جوړې شوې دي، چې ټولنیزې پرمختیایي شوراګانې، د کلستر د کچې پرمختیایي شوراګانې او د ولسوالیو پرمختیایي شوراګانې پکې دي. په راتلونکي متن کې به موږ دا ټول

" د شورا جوړښت" بولو. اوسمهال، د ولسوالیو په کچه د حکومتولۍ د وړاندې کولو دوه ډوله کړۍ یو له بل سره په اړیکه کې دي او په هممهالې توګه فعالیت کوي.

# اجرايي لنډيز

د سيمه ييزې حکومتولۍ په اړه دا څېړنپاڼه د افغانستان د حکومتولۍ د غونډې په نامه پروګرام د يوې برخې په توګه وړاندې کېږي، چې د افغانستان د حکومتولۍ په سېکتور کې داسې يو لاسنيوی دی، چې موخه يې د ازمېښتي ارزونو د تر سره کولو او شريکولو له لارې خپلمنځي زده کړې ته زمينه برابرول او وده ورکول دي. د دې څېړنې تمرکز د سيمه ييزې حکومتولۍ پر هغو خواوو دی، چې د دولت برخې دي او يا هم تر ډېره د دولت لخوا تنظيمېږي.

دا څېړنيزه مطالعه دوه سره تړلې، خو بېلابېلې برخې لري. لومړۍ برخه د افغان سيمه ييزې حکومتولۍ جوړښتي، تګلاري او قانوني وضعيت ته کتنه کوي، د سيمه ييزې حکومتولۍ د سمون له لارې د عامه خدمتونو د ښه کولو فرصتونه په ګوته کوي او هغه ننګونې، نيمګړتياوې او برخې په نښه کوي، چې په ملي کچه ارادې او پرېکړو کولو ته اړتيا لري. دويمه برخه د کليو او ولسواليو استازيتوب د تشې ډکولو ته ځانګړې شوې چې په ترڅ کې يې د دې مسلې په اړه د پرمختګ لپاره د شواهدو په رڼا کې پاليسي وړاندې کېږي. دا برخه د پرمختيايي شوراګانو پر درېو پوړونو تمرکز کوي چې د کليو پراختيا او بيا رغونې وزارت لخوا جوړې شوې دي او ټولنيزې پرمختيايي شوراګانې، د کلستر د کچې پرمختيايي شوراګانې او د ولسواليو پرمختيايي شوراګانې پکې شاملې دي.

## چلندلار

لومړۍ برخه د کيفي کليدي مالوماتي نيمه جوړښتي مرکو پر بنسټ ده، چې د **۲۰۱۵** کال د سپټمبر او د **۲۰۱۷** کال د مې مياشتې تر منځ د سيمه ييزې حکومتولۍ له **۱۵** پخوانيو او اوسنيو لوړپوړو چارواکو، د سيمه ييزې حکومتولۍ له لوړپوړو شنونکو او کارپوهانو، او د ولسمشر له لوړپوړو سلاکارانو سره تر سر شوې دي. په ډېری مواردو کې له دغو مهمو مالومات ورکوونکو سره د موضوع په اړه د نويو مالوماتو د تر لاسه کولو او شننو په موخه له يوه نه ډېر ځل اړيکې نيول شوې دي. د مالومات ورکوونکو د غوره کولو لپاره ځرنګوالی د موضوع په اړه د هغوی پوهه او ثابته تجربه وه، همداراز د تګلارې جوړونې په روانو پرمختيايي بهيرونو کې د هغوی اغېز کچه هم د دې لپاره په پام کې نيول شوې، چې په عمل کې د سمون له بهير سره تړاو لري.

په دويمې برخې کې د شننې لپاره د کمي او کيفي سروې شمېرنې کارول کېږي، چې په **۲۰۱۴-۲۰۱۵** کال کې د افغانستان د څلورو شمال ختيځو ولايتونو (کندوز، بغلان، تخار او بدخشان) په **۲۵** ولسواليو کې راټولې شوې دي. نو له همدې امله هيله کېږي، چې دويمه برخه به په افغان حکومت کې د تګلاره جوړوونکو لپاره يو مهمه پيليزه سرچينه وي. د شوي اعلان له مخې، حکومت پلان لري، چې پارلماني او د ولسواليو شوراګانو ټاکنې د **۲۰۱۷** کال په اوړي او منې کې تر سره کړي.[۱]

## لومړۍ برخه: د سيمه ييزې حکومتولۍ اوسنی وضعيت

د سيمه ييزې حکومتولۍ د سېستم کاري ډګر مهم دی. د عامه خدمتونو رسونه د ادارې د سيمه ييزو واحدونو لخوا په ځايي کچه تر سره کېږي، خو د دغو چوپړونو په اړه مهمې پرېکړې د مرکزي حکومت لخوا کېږي، چې په بنسټيزه توګه د مراتبو د لړۍ د عمودي اړيکو د مخېږلګې له مخې پر مخ ځي.

په افغانستان کې د سيمه ييزې حکومتولۍ سېستم پر څلورو مهمو بنسټونه ولاړ دی. په دوی کې د وزارتونو ولايتي او د ولسواليو څانګې، ښاروالۍ، واليان او ولسوالان، او ولايتي شوراګانې شاملې دي، او د سيمه ييزو اورګانونو خپلواکه اداره د واليانو، ټاکل شويو شوراګانو او ښارواليو په چارو کې له کابله مرسته کوي. د حکومت چلونې مهمه تګلاره د **۲۰۱۰** کال د سيمه ييزې حکومتولۍ تګلاره ده، چې اوسمهال د سيمه ييزو اورګانونو د خپلواکې ادارې لخوا تر بيا کتنې لاندې ده. په دې وروستيو کې چې د ولايتي بوديجې جوړونې کومه تګلاره تاييد شوې، موخه يې د ولايتي بوديجې جوړونې د پرمختګ او ځرنګوالي ټاکل دي. درې مهم قوانين (د سيمه ييزې ادارې قانون، د ښاروالیو قانون، او د ولايتي شوراګانو قانون) له تېرو څو کلونو راهيسې د قانون جوړونې په بهير کې پاتې دي.

د سيمه ييزې حکومتولۍ سمون، چې مخينه يې **۲۰۰۷** کال ته رسي، د هېواد فکري او سياسي بحث ته د سيمه ييزې حکومتولۍ د مفهوم په ور پېژندنې کې بريالی شوی دی. همداراز دې اړتيا ته يې هم پام را اړولی، چې د عامه چوپړونو د رسبدنې لپاره بايد په کرار کرار يو څه واکونه سيمه ييزې کچې ته ولېږدول شي. په دې موده کې په سيمه ييزې حکومتولۍ کې د متخصصو ملکي مامورينو ځواک رامنځته شوی دی.

---

۱ افغان ولسمشر راتلونکې کال ته د پارلماني ټاکنو د تر سره کېدو ژمنه کړې- رويټرز، **۲۹** دسمبر **۲۰۱۵**.

خو ځايي او بنسټي ننګونې پر ځای پاتې دي. په سېستمي ننګونو کې اداري فساد، د واسطو شبکې، ناامني او پر تخنيکي سمون د سياست لاسبري شامل دي. همداراز د مرکزي حکومت او ولايتونو په دندو کې د ځرګند پېژند نشتون او د اغېزناکې سيمه ييزې حکومتولۍ په اړه د ټولیزې هوکړې يا غوښتنې نشتوالی د دې ستونزو په ډله کې راځي. بنسټي ننګونې د عامه، خصوصي او مدني ټولنې د اړوندانو د مسوليتونو تر منځ په ناځرګند توپير، د سيمه ييزې حکومتولۍ د اصلي برخو په اړه د وضاحت نشتوالي، د وزارتونو لخوا په اړوندو څانګو کې سيمه ييزې کچې ته د واک د نه لېږد له امله د واليانو او ولسوالانو کمزورې مشرۍ او د ښاروالانو، ولسواليو، کليو او ښاروالۍ د شوراګانو د ټاکنو په اړه د اساسي قانون د احکامو په عملي کولو کې پرله پسې ځنډ پورې تړاو لري.

په افغانستان کې د سيمه ييزې حکومتولۍ راتلونکی پرمختګ د هغو ژمنو د پلي کولو په اړه د دولتي بنسټونو له ارادې او وړتيا سره تړاو لري، چې په مهمو حکومتي سندونو کې يې يادونه شوې ده. همداراز، د ولسمشر د ستراتيژيک ليد او د عملي چارو له يوه بل سره د اړخ لګولو باوري کول، له ځرګندو تعريف شويو دندو او مسوليتونو سره د سيمه ييزې حکومتولۍ د مهمو اړوندانو په ګوته کول، د اغېزناک او مناسب سيمه ييز سمون د توان لرونکي بنسټ په توګه ښاروالیو ته لومړيتوب ورکول، او له ښکته-پورته خوا ته د حساب ورکونې د پياوړي کولو په موخه د ولايتي شوراګانو د څار د حق ملاتړ د پرله پسې متمرکز سمون لپاره مهمې برخې دي.

## دويمه برخه: د ولسواليو او کليو استازيتوب

د ولسواليو د شوراګانو په اړه د اساسي قانون د احکامو د پلي کولو اړتيا په دې وروستيو کې د ولسواليو د کچې د حکومتولۍ مقام د لومړيتوبونو د ښکته برخې له بحثه د تګلارې د لومړيتوب سر ته پورته کړی دی. اوسمهال په دې برخه کې د ګڼو حل لارو په اړه بحث کېږي: ځينې حل لارې د اساسي قانون له احکامو سره ډېرې همغږې دي خو لوی ګواښونه ورسره مله دي، نورې بيا له اساسي قانون سره کم اړخ لګوي، خو ګواښونه يې هم کم دي.

خو د اساسي قانون مراعتول او ګواښونه يوازني ټکي نه دي، چې په دې بحث کې بايد پرې غور وشي. له بېلابېلو حل لارو سره تړلې وړتياوې هم بايد د هغوی د اوږدمهال فعاليت له تر سره کولو سره په تړاو په پام کې ونيول شي، د ولسواليو د ځايي کچې وګړو ته د حکومتولۍ د چوپړونو د رسونې په تړاو يې فعاليت په ځانګړې توګه مهم دی. په دې بحث کې د شواهدو له مخې تر لاسه شويو وړانديزونو د رامخې ته کولو لپاره موږ په شمال ختيځ افغانستان کې د راټولې شوې کمي او کيفي سروې شمېرنو ته رجوع کوو. د دې پلټنې تمرکز د ولسواليو او ولسواليو لاندې کچې باندې د حکومتولۍ چارې دي، چې د پرمختيايي شوراګانو د درې پوړيز جوړښت تر اغېز لاندې دي ( چې له دې وروسته به ورته د شورا جوړښت وايو )، چې د کليو پراختيا او بيا رغونې د وزارت لخوا جوړې شوې دي. د شوراګانو جوړښت په تر ټولو ښکتنۍ کچې کې له ټاکل شويو ټولنيزو پرمختيايي شوراګانو رغېدلی. يو شمېر ټولنيزې يا کليوالي پرمختيايي شوراګانې سره يو ځای کېږي او د کلستر د کچې پرمختيايي شوراګانې ترې جوړېږي، چې دوی بيا خپل استازي د ولسواليو شوراګانو ته استوي. د درې پوړيزې شورا دا جوړښت پرمختيايي او د سيمه ييزې حکومتولۍ دواړو چارې پر مخ بيايي.

موږ ومونده چې کليوالي پرمختيايي شوراګانې د کليو په کچه د حکومتولۍ قانوني او د لوړې کچې چوپړونه وړاندې کوي. دا شوراګانې چې څومره ډېرې فعالې وي، په هماغه کچه د کليو په کچه د حکومتولۍ په اړه عامه ذهنيت کې ښه والی راولي. خو که يوه کليوالي شورا هر څومره ښه فعاليت وکړي، يوازې د کلي د کچې د حکومتولۍ په اړه ذهنيت ښه کولای شي. د دولت لخوا د ولسوالۍ په کچه د وړاندې کېدونکې حکومتولۍ د کيفيت او مشروعيت په اړه عامه ذهنيت باندې کوم اغېز نه لري.

خو بياهم، موږ درې داسې مېکانېزمونه په ګوته کړي، چې د حکومت لخوا د وړاندې کېدونکې حکومتولۍ په اړه عامه ذهنيت بدلوي، چې درېواړه د شورا په جوړښت پورې تړلي دي: (۱) نوې ټاکنې (۲) له ملي پيوستون پروګرامه د نورو پيسو ځانګړې کول، او (۳) د کليوالي شوراګانو د کليو پراختيا وزارت لخوا تنظيمېدونکو پرمختيايي شوراګانو ( چې د کلستر او ولسواليو پرمختيايي شوراګانې دي) سره يو ځای کول. دا پايلې د کليو پراختيا وزارت لخوا د تنظيمېدونکې شورا جوړښت په اړه له هغه مشهور نظر سره په ټکر دي، چې دا جوړښت تر ډېره د مرستندويانو په مټ چلېدونکې ټولنې بولي، چې په وينا يې ډېر سيمه ييز مشروعيت نه لري او يوازې له پرمختګ سره تړاو لري.

بالعکس، له اوو نه تر اتو کلونو وروسته له جوړېدو لا هم د شورا جوړښت د لوړې کچې سيمه ييز مشروعيت نه برخمن دی او په کليوالي کچه د حکومتولۍ رسونې په مهم بنسټ بدل شوی دی. پر حکومتولۍ يې اغېز په کليوالي او د ولسوالۍ په کچه جوت دی. تر ټولو مهمه دا چې، د دغه جوړښت فعاليتونه د دولت لخوا وړاندې کېدونکې حکومتولۍ سره سيالي نه کوي، بلکې بالعکس،

دوی کلي له دولت سره تړي او د دولت لخوا د وړاندې کېدونکې حکومتولۍ د کیفیت په اړه ذهنیت پیاوړی کوي.[۲]

دویمه مهمه موندنه له هغو توپیرونو سره تړاو لري، چې د شورا جوړښت د ولسوالۍ امنیتي وضعیت او جغرافیایي موقعیت ته په کتو څنګه فعالیت کوي. زموږ موندنې دا په ګوته کوي، چې د شورا جوړښت په لرې پرتو، خو په پرتلیزه توګه باامنو ولسوالیو کې ښه فعالیت کوي. په دې مورد کې، دا جوړښت د دولت په اړه پر عامه ذهنیت تر ټولو پیاوړی مثبت اغېز لري.

موږ د دغو موندنو له مخې د ولسوالیو د کچې استازیتوب او حکومتولۍ د راتلونکي په اړه درې مهمې سپارښتنې کوو. لومړی، دا اړینه ده چې تر ولسوالیو د ښکته کچې حکومتولۍ لپاره یوه سناریو غوره شي، چې په ټوله کې د شورا جوړښت خوندي کوي او پیاوړي کوي، چې د حکومتولۍ چارې او له ښکته-پورته خوا ته عمودي یووالی به یې هم پکې شامل وي. د دغه جوړښت له کاره غورځول او یا یې د چارو ډېر کمول د هغو نازکو اړیکو د له منځه تګ ګواښ رامنځته کوي، چې ټولنو یې له دولت سره په جوړولو پیل کړی دی. دویم، له حالاتو سره د سمون خوړونکې کړنلارې ښېګنو ته باید ډېر پام وشي، چې د سیمه ییزو بنسټونو جوړونه له جغرافیایي موقعیت او ولسوالیو له امنیت سره عیاروي. دریم، زموږ هغو موندنو ته په کتو، چې د کلیوالي شوراګانو ټاکنې په کلیوالي کچه له شخړو او ګډوډیو سره ملې وي، د ولسوالیو او کلیو په کچه د ټاکنو تر سره کول باید په احتیاط و ارزول شي. ګواښونو ته په کتو، موږ کلکه سپارښتنه کوو چې په هېواد کې د شخړو د لا زیاتېدو د مخنیوي لپاره باید کلیوالي او د ولسوالیو شوراګانو ټاکنې په یوه وخت تر سره نه شي.

۲ دا څرګندونه له یوه پاموړ ټکي سره مله ده. د لرې پرتو او نیمه خوندي ولسوالیو په ډله کې د ښه فعالیت لرونکې شورا جوړښت د دولت لخوا د کړکېچ حلونې له لارو چارو نه کمېدونکې نارضایتۍ سره تړاو لري. دا روښانه نه ده، چې دا یوازې یوه تصادفي خبره ده او که د لا سره متحدو شوراګانو جوړښت د دولت لخوا د وړاندې کېدونکو کړکېچ حلوونکو چوپړونو له کمې رضایتۍ سره لاملي تړاو لري.

# لومړۍ برخه: د سیمه ییزې حکومتولۍ اوسنی وضعیت

افغانستان ۳۴ ولایتونه، کابو ۴۰۰ ولسوالۍ او زرګونه کلي لري. د سیمه ییزې حکومتولۍ کاري ډګر په دې مهم دی، چې د پلازمېنې کابل ښار له چارو پرته د پرېکړې کولو ټول بهیرونه پکې باید شامل وي.

د اساسي قانون له مخې، افغانستان متمرکز یا مرکزواکی حکومت لري. مرکزي حکومت ولایتونو، ولسوالیو او کلیو ته د سیمه ییزې حکومتولۍ د واحدونو له لارې لاسرسی مومي، چې د واک د لېږدولو په اړه د اساسي قانون د ۱۳۷ امې مادې له مخې تر سره کېږي. موخه یې خلکو ته له ښکته-پورته خوا ته د عامه چوپړونو د رسونې د پرېکړې کولو په بهیر کې د ګډون لپاره د لارو چارو برابرول دي.[3]

نو، که څه هم په سیمه ییزه کچه د عامه چوپړونو رسونه د سیمه ییزو اداري واحدونو له لارې تر سره کېږي، د دغو خدماتو په اړه مهمې پرېکړې د مرکزي حکومت لخوا کېږي.[4] په نورو ټکو، د سیمه ییزې حکومتولۍ سېستم د داسې یوه ماشین په توګه کار کوي، چې په مټ یې د عامه چوپړونو د رسونې په اړه د مرکزي حکومت پرېکړې پلې کېږي.

د مرکزي حکومت او سیمه ییزو واحدونو تر منځ د مراتبو اړیکې د یوې داسې مخبېلګې له مخې ځانګړې کېږي، چې په بنسټیزه توګه عمودي بڼه لري. د عامه خدمتونو د رسونې د پرله پسې کمزورې بڼې له کبله حکومتي چارواکي، تګلاره جوړوونکي، شنونکي، څېړونکي د مدني ټولنو ډلې او پر ټولو سربېره د افغانستان خلک اړ شوي چې پر دغه بهیر نیوکې وکړي، چې له مخې یې په سیمه ییزې حکومتولۍ کې د سمون لپاره بحث پیل شوی دی. د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون مفهوم پر دې را څرخي چې د سیمه ییزې حکومتولۍ اوسني سېستم کې بدلون راشي. دا بدلون به د ټول افغانستان په اړه د یوې کړنلارې په مټ عملي کېږي، چې د ټول حکومت د پرېکړې کولو په افقي بهیر کې د بدلون له لارې باید منعکس شي، چې وروستۍ موخه یې د عمودي او افقي بهیرونو د یوه ګټور ګډون رامنځته کول دي.

د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون په اړه بحث پر دوو مهمو پوښتنو تمرکز کوي. یوه یې دا چې د ټول افغانستان دغه ګډون به څنګه رامنځته کېږي او دویمه دا چې د سیمه ییزې حکومتولۍ سېستم د مراتبو د لړۍ د عمودي بهیر، چې پلي کول باوري کوي، او افقي همکارۍ، چې د خدماتو په رسولو کې د ټول حکومت د ګډون کړنلارې ته پایښت ورکوي، تر منځ انډول څنګه رامنځته کولای شي.

د څېړنپاڼې په دې برخه کې د سیمه ییزې حکومتولۍ د جوړښت او همداراز د تګلارې او قانوني چوکاټونو تشریحي بیاکتنه وړاندې کېږي. ورپسې تر اوسمهاله د شوي پرمختګ په اړه د مهمو لیدتوګو شننه او د سمون په بهیر کې د ننګونو او فرصتونو په اړه مالومات وړاندې کېږي. د دې برخې په پای کې د سپارښتنو یوه کوچنۍ ټولګه هم وړاندې کېږي.

---

۳ د افغانستان د اساسي قانون په ۱۳۷ مادې کې راغلي: حکومت د مرکزیت د اصل په ساتلو سره د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري چارو د چټکۍ او ښه والي او د ملت په پرمختیا کې د خلکو د پراخې ونډې اخېستنې په موخه، د قانون له احکامو سره سم، سیمه ییزې ادارې ته لازم صلاحیتونه ورکوي.

۴ د مهم مالومات ورکوونکي مرکه (م م م)، د سیمه ییزې حکومتولۍ نړیوال کارپوه، کابل، ۲۴ سپټمبر ۲۰۱۵.

# ۱. جوړښت

په افغانستان کې د سیمه ییزې حکومتولۍ سېستم له څلورو مهمو بنسټونو جوړ دی.[۵] د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره د مشر اجرایي واحد په توګه د والیانو، ټاکل شویو شوراګانو او ښاروالیو کارونه چلوي، چې په کابل کې مېشته ده او د مرکز او سیمه ییزو واحدونو تر منځ د یوه پول په توګه کار کوي. د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره د وزارتونو په څېر ټاکل شوي پارلمان ته حساب ورکوونکې نه ده، ځکه چې په ۲۰۰۷ کال کې د یوه شوي ولسمشریز فرمان پر بنسټ کار کوي.

لومړی، د وزارتونو ولایتي او د ولسوالیو څانګې د سیمه ییزې حکومتولۍ تر ټولو مهمو جوړښتونو کې راځي. وزارتونه، چې بنسټیزه دنده یې د عامه چوپړونو رسونه ده، په مرکز کې پرېکړې کوي او د ولایتي او ولسوالیو د څانګو له لارې او یا د ملي او نړیوالو نادولتي ټولنو له لارې یې سیمه ییزو کچو ته رسوي. د سیمه ییزو څانګو له لارې د چوپړونو د رسونې په موخه له وزارتونه تمه کېږي، چې ځینې ځانګړې مسولیتونه دغو څانګو ته وسپاري او د دغو کارونو د سر ته رسولو لپاره ورته اړینې مالي سرچینې برابرې کړي او لارښوونې ورته وکړي.

دویم، ښاروالۍ په ولایتي او د ولسوالیو په کچه د سیمه ییزې حکومتولۍ د واحدونو له ډلې دویمه مهمه ټولګه ده. د دوی د عایداتو د راټولو وړتیا په بنسټیزه توګه په ښاري سیمو کې د ښاروالیو د چوپړونو له لارې پر مخ ځي. ښاروالۍ پر خپلو مالي سرچینو د کنټرول د کچې له پلوه په دویم لوړ ځای کې راځي، خو په خپله رامنځته کړو مالي سرچینو ته دا لاسرسی یو رنګي بڼه نه لري او د دغه لاسرسي کچه او څرنګوالی په هرې ښاروالۍ کې توپیر لري.

درېیم، والیان او ولسوالان د سیمه ییزې حکومتولۍ د هغه پوړ استازیتوب کوي، چې له مرکز سره تر ټولو نژدې تړاو لري. دوی په ولایتي او د ولسوالیو په کچه د ولسمشر د استازو په توګه دندې پر مخ وړي. والیان د ولسمشر لخوا ګومارل کېږي، خو د ولسوالانو ټاکنه د وړتیا-بنسټي ګومارنې د سېستم له لارې کېږي، چې د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې ادارې او د اداري سمون او ملکي چوپړونو د کمېسون لخوا په ګډه پر مخ وړل کېږي. د والیانو او ولسوالانو دنده دا ده چې په اړوندو کچو د مشرتوب د کولو له لارې د مرکزي حکومت چوپړ وکړي.

څلورم او وروستی، د اساسي قانون ۱۳۸-۱۴۰ مادې په ولایتي، ولسوالیو، کلیو او ښاروالیو په کچو د ټاکل شویو شوراګانو د جوړولو حکم کوي، خو د سیمه ییزې حکومتولۍ اوسنی سېستم یوازې پر دې توانېدلی چې د ټاکنو له لارې د ولایتونو په کچه شوراګانې جوړې کړي. د کلیوالي شوراګانو د ټاکنو لپاره پلانونه تر اوسه نه ښکاري، خو ولسمشر غني په دې وروستیو کې اعلان کړی، چې د ولسوالیو د شوراګانو ټاکنې به د ۲۰۱۲ کال د اوړي او منې تر منځ تر سره شي.[۶] تر دې اعلانه وروسته د ټاکنو خپلواک کمېسیون لخوا د ۲۰۱۲ کال د جنورۍ په ۱۸ امه یوه خبري غونډه جوړه شوه، چې د پارلماني او ولسوالیو شوراګانو د ټاکنو لپاره پکې د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر د میاشتې پینځلسمه نېټه اعلان شوه.[۷] دا چې منتخبې شوراګانې د ولسي رایو په مټ واک تر لاسه کوي، دنده یې د خلکو استازیتوب، د پرېکړې کولو په بهیر کې د هغوی د ګډون باوري کول او د ولایت د چارو څارنه ده، چې موخه یې په ولایتي او د ولسوالیو په چارو کې د ښه والي د راوستو لپاره حکومت ته مشورې ورکول دي.

---

۵ موږ د سیمه ییزې حکومتولۍ هغو خواوو ته کتنه کوو، چې یا د دولت برخې دي او یا هم تر ډېره د دولت لخوا تنظیمېږي.

۶ افغان ولسمشر راتلونکي کال ته د پارلماني ټاکنو د تر سره کېدو ژمنه کړې.

۷ مارټین وان بیلېرت، ,,د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ټاکنو د تر سره کېدو لپاره د ۲۰۱۲ کال د نېټې اعلان وکړ- خو ټاکنیز سمون به څنګه کېږي،،. د افغان شنونکو شبکه، ۱۸ جنوري ۲۰۱۲. له دغه اعلانه سمدستي وروسته د اجرایوي رییس دفتر د پارلماني ټاکنو نېټه رد کړه او دغه نېټه یې نامشروع او د نه منلو وړ وبلله. د نورو مالوماتو لپاره وګورئ: محمد حسن خطاب ,,اجرایوي رییس د ټاکنو نېټه رد کړه،،. پژواک، ۲۴ جنوري ۲۰۱۲.

# ۲. تګلاره او قانوني چوکاټونه

سیمه ییزې حکومتولۍ تګلاره (SNGP) د ۲۰۰۸-۲۰۱۰ کلونو په موده کې له حکومتي وزارتونو، خپلواکو ادارو او همدارازله مدني ټولنو، او د خصوصي سکتور له بېلابېلو ډلو سره تر سلا مشورو وروسته جوړه شوه او په ۲۰۱۰ کال کې د ولسمشر لخوا تایید شوه او وار له مخه ورته د بیا کتنې او ارزونې لپاره د ۲۰۱۳ کال نېټه وټاکل شوه. دا هوډمنه تګلاره یوه داسې هڅه وه، چې موخه یې د سیمه ییزې حکومتولۍ معرفي کول او په دې اړه بحث ته د زمینې برابرول وو؛ دغه بنسټیزه موخه تر لاسه شوې ده.[۸]

که څه هم، له یوه لیدلوري، د سیمه ییزې حکومتولۍ تګلاره په پخواني یا اوسني وضعیت کې د کوم ریښتیني عملي سمون رامنځته کېدل نه باوري کوي،[۹] د تګلارې دوه داسې چارې شته، چې په راتلونکي کې په سیمه ییزې حکومتولۍ کې د ریښتیني او مانا لرونکي اصلاح راوستو ته لاره اواروي. په دې کې د سیمه ییزې حکومتولۍ د بیا کتنې بهیر او د ولایتي بودیجې جوړونې تایید شوې تګلاره راځي، چې د دې دواړو په اړه لاندې لنډې خبرې کېږي.

## ۲.۱ د سیمه ییزې حکومتولۍ تګلاره

لکه څنګه چې د ۲۰۱۴ کال په دسمبر میاشتې کې د ځان بسیاینې د رامنځته کولو په تګلارې کې ژمنه شوې، د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره اوس د موخو د تر لاسه کولو لپاره د سیمه ییزې حکومتولۍ تګلاره بیا ارزوي، چې له مخې به یې څرګنداوی، لنډون او اسانوالی پکې راشي. له دې لارې به د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون موخې عملي او د تر لاسنې وړ کړي. د سیمه ییزې حکومتولۍ ارزول شوې تګلاره به د هغې مخکنۍ تګلارې پر ځای غوره شي، چې په ۲۰۱۰ کال کې د کابینې له لوري تایید شوې وه.[۱۰]

د سیمه ییزې حکومتولۍ د تګلارې د متن په دې وروستیو کې بیا ارزول شوې بڼه دا موخه لري، چې د سیمه ییزې حکومتولۍ سېستم هغسې پلی کړي، چې په اساسي قانون کې یې یادونه شوې، چې د سیمه ییزې حکومتولۍ د پورته یادو شویو څلورو بنسټونو په اړه به لارښوونې کوي. د سیمه ییزې حکومتولۍ تګلاره د لا زیات واک او مسولیت د لېږد له لارې د سیمه ییزې حکومتولۍ پر کړن-بنسټي پرمختګ تمرکز کوي، خو دا کار یوازې هغه مهال شونی دی، چې کافي سرچینې موجودې وي، او که اغېزناک وي، چې نوره کارنده او حساب ورکوونکې چوپړ رسونه د وزارتونو د ولایتي او د ولسوالیو د څانګو لخوا پر مخ یوړل شي. لکه څنګه چې په تګلارې کې ویل شوي، دا د دندو او چارو د وضاحت او ولایتي او د ولسوالیو څانګو ته د واک ته لېږد لپاره یوې پړاوي کړنلارې ته اړتیا لري.[۱۱]

د والیانو د رول د توضیح کولو په ترڅ کې، د تګلارې متن د وزارتونو د ولایتي څانګو د چوپړ رسونې د موخو د تعریف او څار لپاره د ستراتیژیکې پلان جوړونې او په ټوله کې د مشرۍ له لارې د یو شمېر بهیرونو یادونه کوي، چې له ولایتي شوراګانو نه د تر لاسه شویو غبرګونونو له لارې پر مخ وړل کېږي. همدارازپه ولایتي امنیت کې د ونډې درلودل، د کړکېچونو مخنیوی او د ولایت او اړوندو ولسوالیو اداري څارنه هم پکې راځي.[۱۲] ولسوالان باید همدا ډول کارونه د ولسوالۍ په کچه تر سره کړي، چې هلته د هغوی لپاره له ښکته-پورته خوا ته د غبرګون سرچینه په راتلونکې کې جوړېدونکې د ولسوالیو شوراګانې، مدني ټولنې، کلیوالي پرمختیایي شوراګانې او د ولسوالیو پرمختیایي شوراګانې دي. د ښاروالیو په تړاو باید والیان د مشرۍ رول تر سره کړي، چې د ښاروالۍ د عایداتو او لګښتونو تنظیم پکې نه راځي.

ټاکل شوې شوراګانې به، چې لږ تر لږه ۲۰ سلنه څوکیو باندې یې ښځې ټاکل کېږي، په ولایتي او د ولسوالیو په کچه د څرګند څار چارې پر مخ وړي. د ښاروالیو مشورتي بوردونه به د ښاروالۍ ټاکنو تر تر سره کېدو د ښاروالیو د لنډمهالو شوراګانو په توګه کار کوي. کلیوالي او ښاري ټولنیزې پرمختیایي شوراګانې به د کلیوالي شوراګانو په توګه چارې پر مخ وړي او له ښکته-پورته خوا ته پرمختیایي پلان جوړونه کې به مرسته کوي.

د تګلارې د مخلیکي متن له مخې، د ښاروالیو د چوپړ رسونې چارې به د ښاروالیو د عایداتو د ډېرېدو او د کړن-بنسټو لګوونکو پیسو د ورکړې د یوې ازمېښتي پروژې له لارې ښې شي. که دا ازمېښتي پروژه اغېزناکه ثابته شوه، ټولو ښاروالیو ته غځول کېدای

۸ د مهم مالومات ورکوونکي مرکه (م م م)، د سیمه ییزې حکومتولۍ پخوانی لوړپوړی چارواکی، کابل، ۲۹ سپټمبر، ۲۰۱۵.
۹ م م م، د سیمه ییزې حکومتولۍ نړیوال کارپوه، کابل، ۲۴ سپټمبر ۲۰۱۵.
۱۰ د افغانستان اسلامي جمهویت، ,,د سیمه ییزې حکومتولۍ تګلاره،، (کابل: د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره، ۲۰۱۰).
۱۱ د افغانستان اسلامي جمهوریت، ,,د سیمه ییزې حکومتولۍ د تګلارې مخلیکي متن،، (کابل: د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره، ۲۰۱۲)، ۴.
۱۲ د افغانستان اسلامي جمهوریت، ,,د سیمه ییزې حکومتولۍ د تګلارې مخلیکي متن،، ۵.

شي.[۱۳] همدراز، د سيمه ييزې حکومتولۍ تګلاره د ښاروالانو د ګومارنې لپاره د وړتيا-بنسټي بهير د جوړولو او پلي کولو وړانديز کوي، چې دا به د ښاروالیو د ټاکنو پر لور يو ګام وي، چې په همدې ترڅ کې د دغو ټاکنو لپاره چمتوالی هم نيول کېږي. دا تګلاره همداراز د ښاروالیو وړتيا تنظيموي او په زياتېدونکې توګه پراختيا ورکوي- چې په ترڅ کې يې داسې پروګرامونه جوړېږي چې د دولتي او خصوصي سکتورونو د ملګرتيا لپاره پر پانګونې او د هغوی له فرصتونو د ګټې اخيستنې لپاره د ښاروالیو پر وړتيا تمرکز کېږي. دا همداراز ولسواليو ته دا زمينه برابروي چې خپله توليد کړي عايدات بې له دې چې خزانې ته ولېږدوي، له ځانه سره کېږدي- دا يو داسې ګام دی، چې فعاليت ته په کتو به پلی کېږي. دا وړاندې شوې چارې د ولسمشر له هغو ژمنو سره ښه اړخ لګوي، چې د ولسواليو د ملاتړ په برخه کې يې کړې دي، چې د سيمه ييزې حکومتولۍ د سمون لپاره يوه مهمه برخه ده.[۱۴]

د غاړې ايښودنې او اغېزناکې پلي کېدنې د باوري کولو لپاره، مخليکي تګلاره د کابينې د حکومتولۍ د شورا په چوکاټ کې د دويمې کمېټې د رامنځته کېدو غوښتنه کوي، چې " د هغو حکومتي ادارو د تګلارې غاړې ايښودنې، څار، پرمختيا او تنظيم لپاره به کار کوي، چې د تګلارې تر اغېز لاندې دي.[۱۵] " د سيمه ييزو اورګانونو خپلواکې ادارې ته دنده سپارل شوې، چې د دې کمېټې لپاره دارالانشا برابره کړي.[۱۶]

د سيمه ييزو اورګانونو خپلواکه اداره اوسمهال پلان لري، چې د سيمه ييزې حکومتولۍ ارزول شوې تګلاره ولسمشر ته واستوي. ولسمشر ته نږدې سرچينې وايي، که څه هم هغه د دې بيا-کتل شوې او ارزول شوې تګلارې له محتوا او تګلورې سره همغاړی دی، ټينګار يې دا دی، چې د مخکينۍ تګلارې په څېر دې له نورو حکومتي ادارو او همداراز له مدني ټولنو سره د پراخو سلا مشورو له لارې لا ټول شموله شي. دا اړتيا له هغه رپوټ سره هم همغږې ده، چې د ۲۰۱۵ کال په سپتمبر کې د لوړپوړو چارواکو ناستې ته وړاندې شوی و.[۱۷] ولسمشر پر دې باور دی، چې د سيمه ييزې حکومتولۍ تګلاره د افغان حکومت يوه ملي تګلاره ده او له همدې امله د سيمه ييزو اورګانونو د خپلواکې ادارې د اغېزناک او کارنده لاسنيوي په مټ يې د پلي کولو لپاره بايد د ټولو اړوندو دولتي او مدني ټولنې د اړوندانو لخوا د ملي او سيمه ييزې حکومتولۍ په ټولو کچو کې په ګډه پر مخ يوړل شي او خپله کړل شي.[۱۸] د ولسمشر نظر د سيمه ييزې حکومتولۍ له هغو نړيوالو کارپوهانو سره همغږی دی، چې د سيمه ييزو اورګانونو خپواکه اداره يو داسې اورګان بولي چې د تګلارې د مشرتابه رول لري، نه د تګلارې د خپلونې رول.[۱۹]

۱۳ د افغانستان اسلامي جمهوريت، ,,د سيمه ييزې حکومتولۍ د تګلارې مخليکي متن،،۱۰.

۱۴ م م م، د ولسمشر د دفتر نږدې همکار، کابل، ۱۷ دسمبر ۲۰۱۵.

۱۵ د افغانستان اسلامي جمهوريت، ,,د سيمه ييزې حکومتولۍ د تګلارې مخليکي متن،،۳.

۱۶ د افغانستان اسلامي جمهوريت، ,,د سيمه ييزې حکومتولۍ د تګلارې مخليکي متن،،۱۰.

۱۷ د افغانستان اسلامي جمهوريت، ,,د ځان بسيايني پر لور د افغانستان لار، د لومړي پړاو د پرمختګ رپوټ،، (کابل: د افغانستان اسلامي جمهوريت، ۲۰۱۵)، ۴.

۱۸ م م م، د ولسمشر د دفتر نږدې همکار، کابل، ۱۷ دسمبر ۲۰۱۵.

۱۹ م م م، د سيمه ييزې حکومتولۍ نړيوال کارپوه، کابل، ۲۴ سپتمبر ۲۰۱۵.

## ۲.۲ د ولایتي بودیجې جوړونې تګلاره

د ولایتي بودیجې جوړونې تګلاره چې د **۲۰۱۵** کال په نومبر کې د کابینې لخوا تایید شوې، د تګلارې په برخه کې دویمه مهمه چاره ده. د مالیې وزارت تر مشرتابه لاندې، د افغانستان د بیا رغونې د صندوق د یوه مهم کار په توګه به دا تګلاره،[۲۰] په څلورو ځانګیزو وزارتونو: پوهنې، عامې روغتیا، کرنې، او کلیو پراختیا وزارتونو کې د **۲۰۱۲** کال په اوږدو کې پلې شي.[۲۱]

په تګلاره کې ویل شوي چې تمرکز یې په لاندې ډول دی:

> د سیمه ییزې حکومتولۍ د توانمنولو لپاره د ملي بودیجې کارول، چې له مخې به یې په ولایتي کچه ټولنې دا وړتیا ومومي چې د خپل اړوند ولایت په پرمختیا کې اړینه ونډه واخلي. دا موخه به د پیسو د نامتمرکزولو په مټ د عامه مالي مدیریت ولایتي واحدونو ته د لېږد له لارې تر لاسه شي. د افغانستان حکومت به د بودیجې جوړونې او تدارکاتو د بهیر ساده کړي، خو په څنګ کې به یې اړین کنترول له ځانه سره وساتي، چې په مټ یې سرچینې په اغېزناکه توګه تنظیم شي او ټولو اړوندانو ته یې په اړه باوري رپوټونه ورکړي.[۲۲]

همداراز، دا تګلاره ولایتي بودیجه جوړونه د یوه بهیر په توګه تشرېح کوي:

> ...چې له لارې یې چوپړ رسونه او سیمه ییز پرمختیایي لومړیتوبونه د پلان او بودیجې جوړونې په ملي بهیر کې ور ګډېږي. په ولایتي بودیجې جوړونې کې له سیمه ییزو بنسټونو نه په مرکزي بودیجوي واحدونو سربېره په ملي بودیجه کې مالوماتي لاسنیوی هم کېږي. د بودیجې د پلان او جوړونې په بهیر کې به له ولایتي شوراګانو سره د خلکو د استازو په توګه مشوره کېږي. کله چې د ولایتي شورا ګانو د دندو اړوند قوانینو کې په داسې ډول بدلون راځي چې د ولایتي شورا ګانو رول اغېزمنوي، له هغوی سره سم ګامونه به اخېستل کېږي.[۲۳]

د تګلارې د کاري ډګر او اهمیت په اړه په متن کې راغلي چې دا تګلاره:

> ...د حکومت عادي او پرمختیایي دواړو بودیجو پورې تړاو لري او د مالیې له وزارته غوښتنه کوي، چې د ولایتي اداري لپاره د هغو پروژو د پلي کولو په موخه له بودیجوي پرمختیایي صندوق نه د ,نامشروطو پیسو یو صندوق, بېل کړي، چې په سېکتوري پلانونه کې شاملې نه وي.[۲۴]

په پای کې، د پلي کولو په اړه تګلاره روښانوي، چې " د ولایتي بودیجې جوړونې تګلاره به د دربو کلونو په اوږدو کې په بېلابېلو سېکتورونو کې په ازمېښتي ډول پیل شي، او که پایله یې ښه وه، نو بیا به نورو بودیجوي واحدونو ته هم وغځول شي او پکې عملي به شي. "[۲۵]

۲۰ م م م، د مالي چارو لوړپوړی دولتي چارواکی، کابل، **۲۹** سپټمبر **۲۰۱۵**.

۲۱ م م م، د مالي چارو لوړپوړی دولتي چارواکی، کابل، **۲** جنوري **۲۰۱۲**.

۲۲ د افغانستان اسلامي جمهوریت، ,,د ولایتي بودیجې جوړونې تګلاره،، (کابل: د مالیې وزارت، **۲۰۱۵**)، **۴**.

۲۳ د افغانستان اسلامي جمهوریت، ,, د ولایتي بودیجې جوړونې تګلاره،، ۴.

۲۴ د افغانستان اسلامي جمهوریت، ,,د ولایتي بودیجې جوړونې تګلاره،، **۴**.

۲۵ د افغانستان اسلامي جمهوریت، ,,د ولایتي بودیجې جوړونې تګلاره،، **۴**.

## ۲.۳ جوړېدونکي قانوني چوکاټونه

په قانوني ډګر کې، اساسي قانون او د سیمه ییزې ادارې قانون د سیمه ییزې حکومتولۍ په اړه د مهمو قانوني اسنادو له ډلې دوه سندونه دي. د ولایتي شوراګانو قانون، د ښاروالیو قانون او د سیمه ییزې ادارې بیا ارزول شوی قانون له ۲۰۰۸ کال راهیسې د قانون جوړونې په بهیر کې دي، خو تر اوسه په رسمي توګه وړاندې شوي نه دي. د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره اوسمهال د سیمه ییزې ادارې په قانون کې بدلونونه چمتو کوي، چې د عدلیې وزارت او کابینې له لارې به پارلمان ته استول کېږي.[۲۶] د ښاروالیو او ولایتي شوراګانو قوانین په یوه پرمختللي پړاو کې دي: د کابینې د قانون جوړونې کمېټې د ولایتي شوراګانو د قانون بیا کتنه بشپړه کړې، چې د څار دنده پکې په کلکه ځای پر ځای کړل شوې.[۲۷] د ښاروالیو قانون اوسمهال پارلمان ته له وړاندې کېدو دمخه د ولسمشر تایید ته انتظار کوي.

۲۶ د سیمه ییزو اورګانونو مشرتابه ته یوې نژدې سرچینې تایید کړه، چې پارلمان دې ته چمتو نه دی چې قانون رد کړي او دغې ادارې ته اجازه ورکړي چې نور بدلونونه پکې راولي. پارلمان همداراز له حکومته غوښتي، چې ,, وړاندې کړي بدلونونه پارلمان ته د غور لپاره ور واستوي،،.

۲۷ د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې ادارې لخوا د ولایتي شوراګانو د څار د دندې په اړه یوه بېله مقرره جوړېږي. م م م، د سیمه ییزې حکومتولۍ لوړپوړی چارواکی، کابل، ۲۰ می ۲۰۱۲.

# ۳. د سیمه ییزې حکومتولۍ سمون

د ملي یووالي حکومت د کار له پیل وروسته د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې ادارې د نوي مشرتابه له ګومارل کېدو راهیسې، دغې ادارې د مرکزي او ولایتي ادارو تر منځ د همکارۍ د رول د پرمختیا لپاره یو شمېر چټکې چارې پیل کړې دي. د سیمه ییزې حکومتولۍ د تګلارې د سمون پر بهیر سربېره، د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکې ادارې د والیانو او ولسمشر تر منځ میاشتني ویډیو کنفرانسونه پیل کړي چې موخه یې د ولایتونو او د ولسمشر د دفتر تر منځ د اړیکو د یوې سیده لیکې رامنځته کول دي. همداراز شپږ والیان هره میاشت کابل ته ځي، له وزارتونو، ملي امنیت شورا، او قضایه قوې سره اړیني ناستې کوي او د کابینې غونډې کې هم ګډون کوي او په خپلو ولایتونو کې د وضعیت او د هغو برخو په اړه لنډ مالوماتي پرزنټېشن هم ورکوي، چې د کابینې همکارۍ ته پکې اړتیا وي.د والیانو او رسنیو او ولس تر منځ د اړیکو د پرمختګ لپاره د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکې ادارې سلګونه خبري غونډې جوړې کړې دي. دغو بدلونونو والیانو ته د کار په اړه د ځوابې مالوماتو د یوه مېکانېزم جوړېدو ته هم لاره اواره کړې. د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره اوس د وګړو میثاق ملي لومړیتوب پروګرام یوه مهمه برخواله ده او د ښاري برخې مشري یې کوي. د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې ادارې تشکیل کې اصلاحات راوستل شوي، چې له مخې یې د هر والي په دفتر کې د جنسیتي انډول یو افسر شته، چې د جنسیتي چارو پر همغږۍ تمرکز کوي. د مېرمنو د ملاتړ لپاره د یوه بل ګام په توګه، په ښاري سیمو کې به ټول نارسمي جایدادونه ثبت شي، چې د مالکیت اسناد به یې خاوندانو او مېرمنو دواړو ته ورکول کېږي، چې له مخې یې دا باوري کېږي، چې ښځې به د جایداد ملکیت لري.[۲۸]

د افغانستان د پرمختګ اوسني پړاو ته په کتو او د بدلون په اړه د غور کولو او د راوستو د مهارت د اړتیا په نظر کې نیولو سره یې، د مهمو مالومات ورکوونکو مرکه ورکوونکو یوې غوره شوې ډلې نه پوښتنه وشوه، چې تر اوسه د شوي پرمختګ، شته ننګونو، او د سمون د فرصتونو په اړه خپل نظرونه او مالومات راسره شریک کړي. له دغو مالومات ورکوونکو سره له مرکو د لاس ته راغلو مهمو مالوماتو په اړه یوه شننه لاندې وړاندې کېږي.

## ۳.۱ شوی پرمختګ

افغان حکومت د سیمه ییزې حکومتولۍ د بنسټونو له لارې د هېواد په فکري او سیاسي بحث کې د سیمه ییزې حکومتولۍ د مفهوم ور ګډولو کې بریالی شوی دی.[۲۹] دا چې افغانستان له ډېره وخته د حکومتولۍ یو متمرکز سېسټم لري، په محتوا او د فکر لارو کې بدلون راوستل اسان نه دي ثابت شوي او د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکې ادارې ته یوه سخته چاره تمامه شوې ده، چې له تېرو اتو کلونو راهیسې د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون سرلاری بنسټ دی. په بنسټیزه توګه د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې ادارې د هڅو په پایله کې، د والیانو د رول په اړه یو څه نور وضاحت هم شوی دی، او د افغانستان په تاریخ کې په لومړي ځل ولایتي شوراګانې وټاکل شوې.[۳۰]

د پرمختګ یوه بله ښنه په سیمه ییزه کچه د عامه چوپړ رسونې د ښه والي لپاره د واک د یوې برخې د لېږد لپاره زیاته شوې لېوالتیا ده. د واک د لېږد د مفهوم په اړه د توافق د کچې له نظر کې نیولو پرته، د ولسمشر غني په هغې ژمنتیا کې پیاوړې سیاسي اراده منعکسه شوې، چې له مخې به یې ګام په ګام، ولایتونو ته د پلان جوړونې او اجرایي واک ۴۰ سلنه ولېږدول شي. همداراز د دې موضوع په تړاو بحث لا هم روان دی، چې له مخې یې د معرفي کېدو په صورت کې د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون ملي مالکیت رامنځته کوي.

اته کاله وړاندې افغانستان د ملکي مامورینو داسې ځواک نه درلود چې په سیمه ییزې حکومتولۍ کې یې تخصص درلود او آن د سیمه ییزې حکومتولۍ د مفهوم په اړه پوهاوی هم پکې نه و. خو نن په ځانګړې توګه د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې ادارې، مالیې وزارت، کلیو پراختیا او بیا رغونې وزارت، او د اقتصاد وزارت په څېر بنسټونه د سیمه ییزې حکومتولۍ د مسلکي کارپوهانو پراخېدونکې ډلې لري، چې په حکومت کې دننه او بهر کار کوي چې په افغانستان کې د ریښتینې سیمه ییزې حکومتولۍ د رامنځته کولو لپاره د چمتوالي د تخنیکي پوهې او مهارت استازیتوب کوي.

۲۸ م م م، ولسمشر ته نژدې د سیمه ییزې حکومتولۍ لوړپوړی چارواکی، کابل، ۱۵ دسمبر ۲۰۱۵.

۲۹ مهم مالومات ورکوونکي مرکه، د سیمه ییزې حکومتولۍ پخوانی لوړپوړی چارواکی، کابل، ۲۹ سپټمبر ۲۰۱۵.

۳۰ مهم مالومات ورکوونکي مرکه، د سیمه ییزې حکومتولۍ نړیوال کارپوه، کابل، ۲۴ سپټمبر ۲۰۱۵.

## ۳.۲ مهمې ننګونې

دا چې په افغانستان کې د سیمه ییزې حکومتولۍ سېستم باید د یوه مرکزواکي دولت په اډانه کې سیمه ییزې کچې ته د یو څه چارو او مالي واک په لېږد سره فعالیت وکړي، د مخکې پرتو ننګونو یو اوږد نوملړ پروت دی.

### قرینوي او سېستمي ننګونې

د سیمه ییزې حکومتولۍ د پلي کولو پر وړاندې د اداري فساد، پلوان پالنې او پر تخنیکي سمون د سیاست د لاسبرې مهمې سېستمي ننګونې موجودې دي، چې هر یوه به یې د اوارې لپاره اوږد وخت ونیسي، چې ځواکمنې سیاسي ارادې او په ځانګړې توګه د قانون د پلي کولو او حاکمیت د ادارو په ګډون پیاوړو دولتي بنسټونو ته اړتیا لري. یوه بله ننګونه دا ده، چې د یو شمېر مهمو مسلو په اړه وضاحت او همغږي نشته لکه د ولسوالیو او کلیو استازیتوب، د مرکز او ولایتونو او د مدني ټولنو په ګډون د دولتي او خصوصي واحدونو ترمنځ د واک وېش او د دولتي-خصوصي برخوالۍ په نامه نوی مفهوم.[۳۱]

افغانستان د نورو هغو هېوادونو په څېر نه دی (چې فدرالي دولتونه بلل کېږي)، چې د "نوملړونو" په بڼه د مرکزي او ولایتي واحدونو د مهمو دندو څرګند پوهاوی پکې موجود وي. افغانستان نه د مرکز او ولایتونو لپاره په څرګنده تعریف شوې دندې او د پرېکړې کولو چلندلارې لري او نه هم د دندو داسې کوم موازي لړلیک لري، چې د کرکېچ پر مهال پکې د دواړو خواو پرېکړه پرېکنده وبلل شي.

یوه لویه قرینوي ننګونه دا ده چې افغانستان په ملي کچه سره تړلې مدني ټولنه او وګړټولنه نه لري، چې له همدې امله د اغېزناکې سیمه ییزې حکومتولۍ په اړه همغږي او غوښتنه نه ده رامنځته شوې. لکه څنګه چې د سیمه ییزې حکومتولۍ په اړه د مرستندویانو په یوه مرکزي ټکي کې تشریح شوې "د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره د سمون بهیر پر مخ وړي، خو دا په ګاونډ کې د یوه یوازنې وګړي په څېر ده، نور برخوال یې نه ښکاري".[۳۲] په دې ډګر کې د ښاروالانو، ولایتي شوراګانو یا د والیانو په څېر د اړوندو ډلو د اغېزناکې او فعالې دلچسپۍ تشه لیدل کېږي، چې پکار دي، د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون په برخه کې د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې ادارې د هڅو ملاتړ وکړي. دا کار د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون په بحث کې د پلوۍ د عنصر د کمزورۍ او بې اهمیتۍ لامل ګرځي. دا تر یوه بریده په افغانستان کې د شخصي واک د کلتور له امله ده، چې د حکومتولۍ په سېستم کې د رسمي مرکزیت لپاره لویه قرینه برابروي. بل لامل یې دا دی، چې خلک دخوځنده ټولیزو ځواکونو په جوړولو کې کومه ګټه نه ویني او یا نه غواړي چې برخه یې شي، ځکه چې سېستم د همکاریو رضاکارانه کار ته مکافات نه ورکوي.[۳۳]

د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون په اړه د همغږۍ د نشتوالي په صورت کې د سمون د کړنلارې لپاره هڅې نتیجه نه ورکوي، بلکې خنډونه هم پیدا کوي. د سمون په اړه د عمومي پوهاوي او خوځښت د رامنځته کولو لپاره د ملي همغږۍ د رامنځته کولو او هڅولو اړتیا تر بل هر وخت اوس ډېره اړینه ده.

د سیمه ییزې حکومتولۍ سمون که څه هم یوه بېړنۍ اړتیا ده، که د عمل ډګر ته ولیدل شي، په ټوله کې د حکومت یا د افغانستان لومړیتوب نه دی. د حکومتولۍ فعال جوړښتونه له ټیکاو او امنیت راوستو سره مرسته کوي، خو دا چې افغانستان په جګړه کې ښکېل هېواد دی، له همدې امله ټیکاو او امنیت یې د سر لومړیتوبونه دي.[۳۴] د وزارتونو د مرستیالانو په کچه د سیمه ییزې حکومتولۍ لوړپوړي چارواکي یوه مهمه اندازه وخت په دفاع وزارت او ملي امنیت شورا کې په غونډو کې تېروي. دا وضعیت د تصادف یا د تمرکز د نشتوالي له امله نه دی، بلکې دا د قرینوي اړتیا یو انعکاس دی او باید همداسې ومنل شي. خو بیا هم دا کار د سیمه ییزې حکومتولۍ نورو همدومره مهمو چارو ته د کم پامۍ لامل ګرځي.[۳۵]

---

۳۱ که څه هم لوړپوړي حکومتي چارواکي د دولتي او خصوصي سېکتور یا د دولتي او مدني ټولنې د سېکتور تر منځ د همکاریو د ډېرولو لپاره خپلو هڅو ته د دولتي او خصوصي سېکتور د ملګرتیا اصطلاح کاروي، خو د داسې همکاریو د پیدا کولو لپاره بنسټي بندوبست په نشت حساب دی، چې له مخې یې عامه چوپړ رسونه اغېزناکه شي. پخپله د دغه مفهوم په اړه نه پوهېدل یوه داسې ستونزه ده چې دا مسله یې لا پسې پېچلې کړې ده. م م م، د ولسمشر د دفتر نژدې همکار، ۱۷ دسمبر **۲۰۱۵**.

۳۲ م م م، د سیمه ییزې حکومتولۍ په اړه د مرسته کوونکو د تمرکز ناسته، کابل، ۲۰ سپټمبر **۲۰۱۵**.

۳۳ م م م، د سیمه ییزې حکومتولۍ په اړه د مرسته کوونکو د تمرکز ناسته، کابل، ۲۰ سپټمبر، **۲۰۱۵**.

۳۴ م م م، لوړپوړی حکومتي چارواکی چې له سیمه ییزو بنسټونو سره له نژدې کار کوي، کابل، ۱۰ اکتوبر **۲۰۱۵**.

۳۵ م م م، ولسمشر ته نژدې د سیمه ییزې حکومتولۍ لوړپوړی چارواکی، کابل، **۱۵** دسمبر **۲۰۱۵**.

## بنسټي او جوړښتي ننګونې

په افغانستان کې د سیمه ییزې حکومتولۍ سېستم دوه بڼې لري: کاغذي بڼه لکه د تګلارې په اسنادو کې چې یې یادونه شوې او عملي بڼه. که عملي ډګر ته وګورو، وزارتونو تر اوسه خپلو ولایتي څانګو ته د عامه چوپړ رسونې واک نه دی لېږدولی او د هغو مهمو پروګرامونو په اړه پرېکړې په مرکز کې د ملي کچې د دفترونو له لارې کېږي، چې په بنسټیزه توګه د مرستندویانو لخوا تمویلېږي. کابینې د ولایتي بودیجې جوړونې تګلاره تایید کړې، خو د وزارتونو ولایتي څانګو ته د ورکول کېدونکو دندو په اړه وضاحت نشته، چې هغوی وکولای شي پلان یې کړي او بودیجې ورته وټاکي. د دغه وضعیت پایله دا ده، چې ولایتي څانګې، د امنیتي او عدلي سکټور په استثنا، له اداري، عملیاتي او حفظ و مراقبت له چارو پرته ډېر څه نه کوي. د فعالیتونو هغې کچې ته په کتو چې د مرکز لخوا تر سره کېږي او یا یې په اړه پرېکړه کېږي، ولایتي څانګې ځان څه نا څه فلج شوې ګڼي.

د سیمه ییزې حکومتولۍ په اړه د یوې ټولیزې کړنلارې نشتوالی یوه بله لویه ننګونه ده.[۳۲] د ملي او نړیوالو کارپوهانو په ګډون، ډېرو ته سیمه ییزه حکومتولي د والیانو او ولسوالانو د دفترونو، ښاروالیو او ولایتي شوراګانو په مانا ده. دا نظر سم دی، خو بشپړ نه دی. په حقیقت کې د سیمه ییزې حکومتولۍ سېستم تر دې پراخ دی، چې دولتي او نادولتي بنسټونه او اړوندان دواړه پکې شامل دي. که د موضوع د دولت لوري ته وکتل شي، د ملکي خدمتونو سېستم او سکټوري سمون د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون او په ټوله کې د حکومتولۍ مهمې برخې دي. د یوه اغېزناک بنسټ په توګه د پایېدلو لپاره د ملکي چوپړونو سېستم باید خپلو کارکوونکو ته د دندو خوندیتوب، د وخت په تېرېدو ارتقا، ټیکاو لرونکې تنخوا، د دندې په پای کې تقاعد، درناوی او که څوک په ربښتینولۍ کار کوي، د خدمت فرصت ورکړي. خو اوسمهال داسې نه ده. لوړپوړي حکومتي چارواکي د قلم په یوه ګوزار د سیمه ییزې حکومتولۍ لوړپوړي چارواکي مقررولای یا ګوښه کولای شي. پر دې سربېره اداري فساد یوه ستره ننګونه ده، چې ملکي خدمتونه خلکو ته د ربښتیني چوپړ پر ځای د پیسو پر یوې سرچینې بدلوي. پایله یې دا کېږي، چې د ملکي خدمتونو سېستم د عامه اداري د سېستم د بیوروکراسۍ او بنسټ په توګه، په ښه ډول فعالیت نه کوي.[۳۷]

په عملي برخې کې د پرتو مهمو ننګونو په ډله کې د والیانو کمزورې مشرې هم تر سترګو کېږي، چې ډېری وختونه د وزارتونو د ولایتي څانګو یا ښاروالیو د کوچنۍ-مدیریت له لارې جبرانېږي. تر څنګ یې د ولایتي شوراګانو د حساب ورکونې کمزورې چلنلارې هم موجودې دي. همداراز د ولسوالیو، ښاروالیو او کلیوالي ټاکل شویو شوراګانو نشتوالی هم دی، که څه هم اساسي قانون ورته ځای ورکړی. بلخوا د ولسوالیو او کلیو په کچه له سکټورونو سره تړلې شوراګانې اړین قانوني ملاتړ او د پرمختیایي او د حکومتولۍ د چارو په اغېزناک ډول د تر سره کولو وړتیا نه لري. په حقیقت کې د سیمه ییزې حکومتولۍ د شته دودیزو کړنلارو په اړه د پوهاوي او منني نشتوالی د زړو جوړښتونو له پامه غورځولو او د نویو د را منځته کولو لپاره د پیاوړې هڅې لامل کېږي. په پای کې، د معیاري عامه اداري او ځانګړې قرینوي پرمختیایي چلنلارې تر منځ مانا لرونکې انډول د را منځته کولو په اړه د ملي همغږۍ نشتوالی ستونزه زېږوونکی دی.

والیان په اوسني موقف کې ولایتي چارو کې مانا لرونکې مشري نه کوي، ځکه چې د لوړې کچې متمرکز سېستم له کبله د عامه چوپړونو رسونه په بنسټیزه توګه په مرکز کې کېږي.[۳۸] دا چې والي د چوپړ رسونې د موخو په اړه پرېکړو کولو کې دخیل نه دی او په بنسټیزه توګه دا موخې په مرکز کې ټاکل کېږي، والي یې مالکیت او تر یوې اندازې د دغو موخو په تعقیبولو کې د مشرۍ رول نه لري او نه هم د وزارتونو له ولایتي څانګو سره حساب کولای شي. د سرچینو د دغه نشتوالي د جبران لپاره، والي ښایي د وزارتونو د ځینو ولایتي څانګو پر کوچنۍ-مدیریت تمرکز وکړي او یا ښایي د تنخواو د ورکولو یا کوچنیو تدارکاتو لپاره واک وکاروي یا ترې ناوړه ګټه واخلي. لکه چې وویل شول، دا په امنیتي او عدلي سکټورونو کې د صدق وړ نه دی، چې والیان پکې په زیاته اندازه ښکېل دي یا پرې اغېز لري.

په مخکې یادو شویو دلایلو، ولایتي شوراګانې په ولایتي چارو کې تر اوسه د څار مانا لرونکی رول نه لري. په قانون جوړونې کې څنډ د دې لامل شوی، چې د ولایتي شوراګانو زوړ قانون تر اوسه پر خپل ځای پاتې شي، چې د یادې نیمګړتیا لامل ګرځي، ځکه چې په اوسني قاون کې د ولایتي شوراګانو دنده سلا مشورې ورکول او مرسته ده. د ولایتي شوراګانو د څار راتلونکی رول به په دې برخه کې وضاحت را منځته کړي، خو پلې کېدل به یې وخت ونیسي.

۳۲ م م م، ولسمشر ته نژدې د سیمه ییزې حکومتولۍ لوړپوړي چارواکي، کابل، ۱۵ دسمبر ۲۰۱۵.

۳۷ م م م، پخوانی لوړپوړی حکومتي چارواکي، کابل، ۱۲ سپټمبر ۲۰۱۵.

۳۸ سره له دې د مرکز او ولایتونو تر منځ د واک په انډول کې استثناګانې شته، لکه د بلخ ولایت په مورد کې.

یوه بله مهمه ننګونه له اساسي قانون سره سمې د کليوالي او ولسواليو شوراګانو له نشتوالي او له شته جوړښتونو نه د ګټې اخېستنې له ناتوانۍ سره تړاو لري. ولايتونو او د حکومتولۍ ټيټو کچو ته د واک د مانا لرونکي لېږد نشتوالي ته په کتو، د ټولنيزو پرمختيايي شوراګانو پلان جوړونې ته د عامه پلان جوړونې او د سرچينو له ټاکنې سره تړاو ورکول ستونزمن کار دی، ځکه چې د بوديجې د جوړونې بهير ډېر متمرکز دی. د ولسواليو او ولايتونو له لارې مرکز ته د ټولنيزو پرمختيايي شوراګانو د پلانونو له رسونې سره سره ټولنيزه پلان جوړونه تر اوسه په مرکزي پلان جوړونې او بوديجې جوړونې کې نه منعکسېږي.

د ټاکل شويو ښاروالانو او د ښاروالیو د شوراګانو نشتوالی او په ټوله کې ښاروالیو ته ناپامي نورې مهمې ننګونې دي.[۳۹] ښاروالۍ د عايداتو د راغونډولو او چوپړونو د رسولو پراخ توان لري، چې تر اړتيا ډېره کمه پانګونه پرې شوې ده. د دغه توان لامل دا دی چې ښاروالۍ د ښې عامه چوپړ رسونې او ولسواکې حکومتولۍ د یوه فرصت استازيتوب کوي. خلک د ښاروالۍ چوپړونو ته پام کوي، چې په ښاروالیو کې د دوی د پانګونې لامل ګرځي او يا ورسره لګښتونه شريکوي چې له لارې يې د ښاروالیو د عايداتو جوړونې ورتيا دوام کوي. همدا شان، د ښاروالیو چوپړونه ليدل کېدای شي، چې له لارې يې له ښکته-پورته خوا ته حساب ورکول او د چوپړونه ارزونه او د هغوی معيار يو څه اسانېږي. د ښاروالیو د ورتيا جوړونې پروګرامونو، چې په بنسټيزه توګه يې مالي ملاتړ د مرستندويانو لخوا کېږي، د ورتياو د اصلي لوړونې او د عايداتو زېږوونکو ورتياو د جوړونې پر ځای د دفتري سامان الاتو په مهيا کولو تمرکز کړی. هغه پروګرامونه چې د عايداتو جوړوونکو ورتياو يا چوپړ رسونې پر معيار تمرکز کوي تر اوسه ډېر کم دي او يوازې څو ښارونو يا ښارګوټو پورې محدود دی. نو، د چوپړ رسونې او عايداتو د جوړونې لپاره د ښاروالیو پر ورتيا ريښتينی تمرکز تر اوسه پورې نه دی شوی. د ښاروالیو په چارو کې د واليانو کوچنی-مديريت او يا هم مداخله نورې ننګونې پيدا کوي، که څه هم له نورو ولايتي اداري سره تړاو نه لري. دا هر څه په داسې حال کې دي، چې له دولته ښاروالیو ته د مالي واک د لېږد نشتوالی او د عامه اداري د سمون په بهير کې د ښاروالیو له پامه غورځول شوی ځای وضعيت نور هم پېچلی کوي.

د ارزونو له مخې، د سيمه ييزو اورګانونو خپلواکه اداره سيمه ييزو بنسټونو او چارواکو ته د خپلو سيمه ييزو ځانګو او د ډګري کارکوونکو په توګه ګوري، نه دا چې هغوی داسې واحدونه وبولي چې د چوپړ رسونې حق لري، چې دا کار ننګونې لا پسې سختوي.[۴۰]

## په دندو کې د روښانتيا نشتوالی: د سيمه ييزو اورګانونو خپلواکه اداره د وزارتونو پر وړاندې

د سيمه ييزو اورګانونو د خپلواکې اداري او وزارتونو تر منځ هم دنده ييز کړکېچ يا هم لږ تر لږه د رولونو تر منځ يې د وضاحت نشتوالی شته، چې د همکارۍ پر ځای د سيالۍ لامل ګرځي.[۴۱] د همکارۍ د رامنځته کولو هڅې، لکه د ولسواليو د همکاريو شوراګانو پر چوکاټ باندې د ګډ کار له لارې (چې د سيمه ييزو اورګارنونو خپلواکې اداري او د کليو پراختيا او بيا رغونې وزارت پورې اړوند دی)، په تاسف سره تر اوسه يوازې د کاغذ پر مخ پاتې شوې او پلې شوې نه دي. وزارتونه د سيمه ييزو اورګانونو لخوا د مشرۍ د رول د لوبولو له کبله خپه دي، خو د سيمه ييزو اورګانونو اداره، سيمه ييزو حکومتولي د خپل کاري ډګر بولي او دا خپل مشروع رول ګڼي. د سيمه ييزو اورګانونو مقام، چې د يوه ولسمشريز فرمان له مخې رامنځته شوې، او د وزارتونو لخوا خپلو ولايتونو ته د مسوليت د لېږد نه غوښتل حالت لا پسې پېچلی کوي. ډېر پر دې باور دي چې د سيمه ييزو اورګانونو خپلواکه اداره د تګلارې د مشرتابه د يو څه بڼې په درلودو لکه څنګه چې د سمون د اجندا د معرفي کولو يا وړاندې کولو په رول کې په بنسټيزه توګه منعکسېږي، خو دوی ټينګار کوي چې دا رول څنګه د تګلارې له مالکيت سره توپير لري، چې د سيمه ييزې حکومتولۍ د تګلارې په مورد کې، د افغانستان په حکومت او ور پورې تړلو ادارو پورې تړاو لري.[۴۲]

که څه هم د سيمه ييزې حکومتولۍ اصلاح شوې تګلاره به هڅه وکړي چې د سيمه ييزې حکومتولۍ د واحدونو دندې او فعاليتونه روښانه کړي، په ملي کچه د مسوليت له پراخ وضاحت او وېش پرته به دا هڅه په عملي توګه اغېزناکه نه وي. د مخکنۍ تګلارې د کرار او بالاخره نه پلي کېدونکي وضعيت نه زده شوي درسونه د دغه بهير په اړه ګټور مالومات وړاندې کوي.

۳۹ د يوه لنډمهالي ګام په توګه، د ښاروالیو د چارو رياست د ښاروالیو مشورتي بوردونه جوړ کړي، چې موخه يې د ښاروالیو د شوراګانو په څېر کار کول دي.

۴۰ م م م، د افغان سيمه ييزې حکومتولۍ نړيوال کارپوه، کابل، **۲۵** اکتوبر **۲۰۱۵**.

۴۱ م م م، د سيمه ييزې حکومتولۍ په اړه د مرستندويانو د تمرکز ناسته، **۲۱** سپټمبر **۲۰۱۵**.

۴۲ م م م، د سيمه ييزې حکومتولۍ نړيوال کارپوه، کابل، **۲۴** سپټمبر **۲۰۱۵**.

### په دندو کې د روښانتیا نشتوالی: دولتي سکتور د خصوصي او مدني ټولنې پر وړاندې

د دولتي او خصوصي سېکتور تر منځ د برخوالۍ په اړه بحثونه شوي، خو دا روښانه نه ده، چې کوم چوپړونه باید د دولتي واحدونو له لارې ورسول شي، د کار کومې لیکې باید خصوصي سېکتور ته پرېښودل شي او حکومت په کومو ساحو کې د دولتي او خصوصي سېکتور تر منځ ملګرتیا یا برخوالي رامنځته کولای شي. د منل شوي پوهاوي نشتوالی او د دغو ګامونو د پلي کولو لپاره د لازمو شرایطو نه برابری د همغږۍ د نشتوالي او د چوپړونو د تېر و بېر کېدو او یا هم د دولتي او خصوصي سېکتور د ملګرتیا د مفهوم یوازې تر مدني ټولنې پورې د را کمېدو لامل ګرځي، چې د ډېرو په باور تر هغو لوړپوړو ښارمېشتو نادولتي ټولنو پورې محدوده ده، چې مرستندویان یې مالي ملاتړ کوي.[۴۳]

په سیمه ییزې حکومتولۍ کې د مدني ټولنې د رول په اړه یو پیاوړی لیدلوری د عامه چوپړونو د رسوونکو په توګه، چې د دولت دنده ګڼل کېږي، د مدني ټولنې پر اوسني وضعیت نیوکه کوي، او ټینګار کوي، چې د دوی دنده باید له ښکته-پورته خوا ته د حساب ورکولو د پیاوړي کوونکو واحدونو په توګه وي. دا واقعیت چې مدني ټولنې او حکومتي اداري دواړه په چوپړ رسونې کې ونډه لري، دا دواړه سېکتورونه یو له بل سره ملګري کوي، خو په ګټوره توګه نه، او دا د کمزورۍ-یا تر ټولو بده- د تش په نامه حساب ورکونې لامل ګرځي. په نورو مواردو کې، د عامه چوپړونو په رسونې کې ګډه بوختیا د سرچینو د تر لاسه کولو لپاره مدني ټولنه د دولتي سېکتور سیاله کوي، چې له ښکته-پورته حساب ورکونې په رول کې د مدني ټولنې د موخې حس ناپییلی نه پاتې کېږي او یو طرف نیسي. دا وضعیت د نړیوالې ټولنې لخوا د مرستندوی د رول په لوبولو نور هم سختېږي.[۴۴] همدا راز له مدني ټولنې سره د خپلې اړیکې تعریفولو یا په اغېزناکه توګه د هغې د فعالیتونو تنظیمولو کې د حکومت ناتواني هم لا پسې ستونزمنوونکې ده. په دواړو حالاتو کې، که څه هم د مدني ټولنې سېکتور په سیمه ییزې حکومتولۍ کې بوخت دی، خو په یوې اغېزناکې لارې نه دی، چې په ټوله کې د سیمه ییزې حکومتولۍ پر چارو د یوه مانا لرونکي اغېز ښندلو کې پاتې راغې.[۴۵] د دې لیدتوګې په تایید ، د نړیوالې مرستندویه ادارې یوه بل استازي ومنله، چې ریښتینې مدني ټولنې په کلیوالو سیمو کې دي، چې د مهمو مرستندویانو له لاسرسي بهر دي. لوړپوړو ټولنو ته د مالي مرستو پرله پسې ورکړه د مدني ټولنو د رول په پیاوړتیا کې مرسته نه کوي، بلکې برعکس زیان ور رسوي.[۴۶]

## ۳.۳ شته فرصتونه

د نورو تر څنګ د داخلي سمون غوښتونکو ډلو د نشتوالي په ګډون له خنډونو سره سره، موږ داسې نښې ولیدې، که څه هم ټول شموله نه وې، چې اوس د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون لپاره توان او اراده دواړه شته. دا فرصت په بشپړه توګه د دې مسلې په اړه د ولسمشر غني د روښانه ژمنتیا او د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون په اړه د هغه د راښه ژورلید پر بنسټ تکیه کوي او پرې پر مخ ځي.

د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون په اړه د مثبت اندۍ دویمه سرچینه د موخو اسانوالی دی، لکه څنګه چې د سیمه ییزې حکومتولۍ په بیا ارزول شوې تګلارې کې یې یادونه شوې، چې د ۲۰۱۰ کال له اصلي تګلارې سره توپیر لري. د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره د درې پړاوي کړنلارې وړاندیز کوي، چې لنډمهالي، منځمهالي او اوږدمهالي ګامونه پکې شامل دي، چې هر پړاو پر ورمخکني پړاو تکیه کوي او ګټه ترې اخلي، چې په پایله کې د تړاو او یووالي حس پیدا کوي.

د سیمه ییزې حکومتولۍ اصلاح شوې تګلاره څلور مهمې ساحې په نښه کوي: له وزارتونو نه اړوندو ولایتي څانګو ته د واک لېږد ، د والیانو د مشرۍ د رول پیاوړتیا ، د ولایتي شوراګانو د حساب ورکونې د رول پیاوړتیا او د ښاروالۍ د چوپړونو د ښه کېدو په موخه د عایداتو په تولید کې مرسته.

---

۴۳ م م م، د سیمه ییزې حکومتولۍ نړیوال کارپوه، کابل، ۲۴ سپټمبر ۲۰۱۵.

۴۴ په ځانګړې توګه، موږ د مرستندویانو هغه میلان ته کتنه کوو، چې د هغو نادولتي ټولنو تر منځ له پورته-ښکته حساب ورکول هڅوي، چې مرسته ورسره شوې وي، خو په مناسبو حدودو کې دولت ته له ښکته-پورته خوا ته حساب ورکول ډېرې وختونه له پامه غورځوي.

۴۵ م م م، د سیمه ییزې حکومتولۍ په اړه د مرستندویانو د تمرکز ناسته، کابل، ۲۱ سپټمبر ۲۰۱۵.

۴۶ م م م، د سیمه ییزې حکومتولۍ په اړه د مرستندویانو د تمرکز ناسته، کابل، ۱۹ سپټمبر ۲۰۱۵.

لکه په افغانستان کې د سیمه ییزې حکومتولۍ یوه کارپوه چې وویل، ښاري کېدنه یو پیاوړی میلان دی او د ستنبدنې شونتیا یې نه لیدل کېږي. خلک له کلیوالي سیمو نه ښاري هغو ته په یون دي،[47] چې د وګړو د میثاق ښاري برخه یې اړینه کړې، چې د ښاروالیو په ملاتړ کې مرستې ته ژمنه ده، په ځانګړې توګه په ولایتي او د ولسوالیو په کچه د حساب ورکوونکو لوړپوړو چارواکو په توګه د ښاروالانو ټاکنې ته.[48]

پر ټولو سربېره، د سیمه ییزې حکومتولۍ په اصلاح شوې تګلارې کې یوه پاخه ژورلید ته ځای ورکړل شوی، چې د افغانستان د سیمه ییزې حکومتولۍ سمون باید له ژمنتیا سره، خو په ورو ورو پر مخ ولاړ شي، چې د سمونونو او شته فعال سېستم تر منځ د وخت په تېرېدو همکاري را منځته شي. دا چې اوسنۍ هڅې به په حقیقت کې په عملي ډګر کې بدلونونه را منځته کړي، په اړه یې د مثبت اندۍ دلایل شته. د افغانستان مرکزي دولت د سیمه ییزې حکومتولۍ پیاوړي کولو ته ژمن دی او دا ځواکمنه سیاسي اراده به له کاغذه عمل ته د افغان حکومتولۍ په لېږد کې د مرستې لپاره اړینه وي.

د هیلې بله نښه د سیمه ییز استازیتوب ښه شوی پوهاوی دی، چې د ولایتي شوراګانو د قانون په اړه د بحث پر مهال د دغو شوراګانو لپاره د څار د رول په اړه د خلکو د ملاتړ په څرګنداوي کې لیدل شوی دی. که څه هم په سیمه ییزه کچه د رسمي او نارسمي حکومتولۍ تر منځ پرله پسې او ډېری وختونه منفي سیالي شته،[49] چې له هممهال نشتون سره مله ده، خو په ځایي کچه خلک د نارسمي حکومتولۍ پر مېکانېزمونو، لکه ملکانو، میرابانو، او د قومي مشرانو پر شوراګانو، او په ځینو مواردو کې پر درې پوړیزې شورا جوښت، چې له ټولنیزو پرمختیایي شوراګانو، کلستر د کچې پرمختیایي شوراګانو او د ولسوالیو پرمختیایي شوراګانو نه جوړ دی، باندې باور کول روان ساتي. یو مشهور استدلال دا دی، چې افغانستان که له یوې خوا د خپلو نومهالو بنسټونو پر باوري کولو کار کوي، دا هېواد باید د حکومتولۍ شته نارسمي مېکانېزمونه هم د ښکته-پورته خوا ته حساب ورکونې او په سیمه ییزې حکومتولۍ کې د یوازنۍ باوري وسیلې په توګه پیاوړي کړي.[50]

د اساسي قانون د پلي کولو په اړه د ولسمشر ژمنتیا، د ۲۰۱۲ کال د اوړي او منې تر منځ د ولسوالیو شوراګانو د تر سره کولو په اړه د هغه ژمنه، او د سیمه ییزې حکومتولۍ د اصلاح شوې تګلارې اسانو شویو موخو ته، چې د سرچینو د محدودیت د روښانه پوهاوي له مخې ټاکل شوې، که وکتل شي، د ولسوالیو او کلیو د استازیتوب د مسلې په اړه ملي هوډ تر بل هر وخت اوس پیاوړی دی. د ولسوالیو شوراګانو د بشپړو ټاکنو تر سره کول د سرچینو له جدي محدودیت سره مخامخ چاره ده او همداراز د ولسوالیو د بې ټیکاوه کولو ګواښ هم لري. پر ځای یې د ولسوالیو د همغږۍ شورا غوره کول به، چې د سیمه ییزو اورګانونو د خپلواکې ادارې او د کلیو پراختیا او بیا رغونې وزارت لخوا په ګډه پر مخ بېول شوې، د اساسي قانون هغه حکم پر ځای نه کړي، چې له مخې یې د ولسوالیو شوراګانې باید په رایو ټاکل شوې وي. د سرچینو له پلوه به تر ټولو مناسب او عملي غوراوی دا وي، چې د ولسوالیو د شوراګانو ټاکنې د ټولنیزو پرمختیایي شوراګانو پر بنسټ تر سره شي، چې له لارې به یې ټولنیزې پرمختیایي شوراګانې د ولسوالیو شوراګانو ته استازي استوي. دا غوراوی نه یوازې د اساسي قانون د احکامو اړتیا او د دغه قانون د پلي کولو په اړه د ولسمشر ژمنتیا پر ځای کوي، بلکې له شته جوړښتونو هم ګټه اخلي ( د کلي په کچه)، چې په تېرو ۱۳ کلونو کې یې د نړیوالو مرستندویه پیسو درنه اندازه جذب کړې او پر یوې شتمنۍ بدله شوې ده.[51]

---

۴۷ م م م، د افغان سیمه ییزې حکومتولۍ نړیوال کارپوه، کابل، ۲۵ اکتوبر ۲۰۱۵.

۴۸ ولسمشر د ښاروالیو شوراګانو د ټاکنو تر سره کولو ته ژمن دی، خو د یوې بېلې چلندلارې په مټ، چې د ارزونې د یوې داسې کمېټې جوړول پکې شامل دي، چې د ولایتي شورا له غړو او والي جوړه وي او هغه وړاندیزونه به ارزوي چې د وړاندیزونو د ازادې بلنې له لارې تر لاسه شوي وي. د پینځو غوره نوماندانو لنډ نوملړ به د ولسمشر وروستۍ ارزونې ته وړاندې کېږي. ولسمشر پر دې باور دی، چې له دې سیمه ییزې لارې به ښاروالان ولایتونو ته ځواب ورکوونکي وي او په مټ به یې ښاري حکومتولي ښه شي. م م م، د ولسمشر د دفتر نژدې همکار، کابل، ۱۷ دسمبر ۲۰۱۵.

۴۹ د سیمه ییزې حکومتولۍ په اړه د مرستندویانو د تمرکز ناسته، کابل، ۲۰ سپتمبر ۲۰۱۵.

۵۰ م م م، لوړپوړی حکومتي چارواکی چې له سیمه ییزو بنسټونو سره له نژدې کار کوي، کابل، ۱۰ اکتوبر ۲۰۱۵.

۵۱ د مهم مالومات ورکوونکي مرکه ( م م م)، د ولسمشر د دفتر نژدې همکار، کابل، ۱۷ دسمبر ۲۰۱۵.

# ۴. سپارښتنې

په افغانستان کې د سیمه ییزې حکومتولۍ راتلونکې د هغو ژمنو په اړه د دولتي بنسټونو په ارادې پوره تړاو لري، چې په ځانګړې توګه يې د اساسي قانون په څېر سندونو کې یادونه شوې ده. په تېوله کې د افغان حکومتولۍ او په ځانګړې توګه د سیمه ییزې حکومتولۍ تر ټولو لویه ستونزه د پوهاوي د کموالي، د سرچینو په جذبولو کې د وړتیا نشتوالي او یا هم د ننګونو او فرصتونو په یادولو کې نه ده. تر ټولو مهمه ننګونه چې پر ځای پاتې ده دا ده، چې له کابله ها خوا د حکومتولۍ هر پوړ ته د لومړیتوب په توګه وکتل شي او همداراز دا انګېرنه چې د سیمه ییزې حکومتولۍ ټولې خواوې په هممهاله توګه په لنډ وخت کې ښې کېدای شي او باید دا کار وشي. " د ځان بسیاینې د ریښتیاینې" په نامه لسیزې کې د افغانستان د پرمختګ لپاره د شته امکاناتو او فرصتونو په کارولو د پرله پسې، عملي، پایښت لرونکې او ټول شموله سیمه ییزې حکومتولۍ سمون ته د لومړیتوب ورکولو وړتیا او پرې د ټینګار اراده ډېر مهم دي.

په افغانستان کې حکومتولي له بې شمېره ننګونو سره مخامخ ده، چې د ډېریو بدلون د افغان حکومت، خصوصي سېکتور او مدني ټولنو له وسه بهر دي. په دوی کې د ترهګرۍ په ګواښ پورې تړلې امنیتي کړکېچ، د کوکنارو کر چې د نشه يي توکیو صنعت په پیاوړتیا کې ونډه لري او پلوان پالنې شبکې او اداري فساد چې له سیمه ییزو قوتونو سره پیاوړې تړاوونه لري، شامل دي. د دغو ننګونو پر وړاندې د سیمه ییزو او نړیوالو ټلوالو جوړېدو ته اړتیا ده او کورنۍ او بهرنۍ ژمنتیا او هوډ ته اړتیا لري. خو داسې ساحې هم شته، چې په افغانستان کې بېلابېل اړوندان پکې مرکزي رول لوبولای شي.

## ۴.۱ د ستراتېژیک ژورلید او عملي چارو تر منځ د همغږۍ باوري کول

لکه څنګه چې د سیمه ییزې حکومتولۍ د تګلارې په مخلیکي متن کې لیکل شوي، حکومتي برخوال باید لنډمهالي، منځمهالي او اوږدمهالي پروګرامونه په نظر کې ونیسي او کار پرې وکړي. د سمون له دغه بهیره د تېرېدو پر مهال به د افغانستان لپاره د ژمنو کول او په پرله پسې توګه د هغوی تعقیب یوه مهمه چاره وي. اوسمهال د ولسمشر اشرف غني هغه ژمنتیا چې په وینا يې اساسي قانون به پلی کوي، همدغسې یو مهم ګام دی. خو د دې ژمنې پلي کول باید یوازې له یوه لوري پر ولسمشر غني پورې و نه تړل شي. د دې پر ځای باید دا د همغږۍ او پر یوه بل د تکیه کولو داسې یو تړاو رامنځته کړي، چې د ده ژورلید له عملي وسیلو، لارو چارو او وضعیت سره ونښلوي او دغه لید د عملي، ګټورو او ټول شموله لنډمهالو، منځنمهالو او اوږدمهالو پروګرامونو له لارې پلی کړي، چې د افغانستان پر شته واقعیتونو ولاړ وي.

## ۴.۲ د سیمه ییزې حکومتولۍ د مهمو برخوالو په ګوته کول او د هغوی د دندو روښانه کول

د موجوده عمومي انګېرنې برخلاف، وزارتونه له اړوندو ولایتي او د ولسوالیو له څانګو سره په سیمه ییزې حکومتولۍ او د عامه چوپړونو په رسونې کې مهمه ونډه لري. له همدې امله، د سیمه ییزې حکومتولۍ سمون اړوندو ولایتي او د ولسوالیو څانګو ته د وزارتونو لخوا د مسولیتونو او مالي واک د لېږد په ارادې او ظرفیت پورې اړه لري. د والیانو او ولسوالانو لخوا د مشرۍ د کولو او د ولایتي شوراګانو لخوا د څار د کولو لپاره له وزارتونو د ځینو مسولیتونو او واکونو لېږد سیمه ییزې کچې ته اړین دی. له همدې امله هغه بنسټونه چې د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون لپاره باید پرې تمرکز وشي، تر ډېره د والیانو او ولسوالانو دفترونه، ولایتي شوراګانې او د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره نه دي، بلکې پخپله وزارتونو ته باید ډېر پام وشي.

بیا هم د عامه انګېرنې خلاف، د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره د والیانو او ولسوالانو له دفترونو، ولایتي شوراګانو او ښاروالیو سره د مرستې او د سیمه ییزې حکومتولۍ د مهمو پرېکړو په اړه د ملي همغږۍ د رامنځته کولو په چوپړ کې ونډه لري. د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره د سیمه ییزې حکومتولۍ د تګلارې په اړه د قانون جوړونې، تګلارې جوړونې او پلي کولو په بهیر کې د یوې دارالانشا په توګه کار کوي، چې د دغو تګلارو او قوانینو اصلي مالکیت بیا هم له اړوندو وزارتونو، د هغوی له ولایتي او د ولسوالیو له څانګو، د والیانو او ولسوالانو له دفترونو، ولایتي شوراګانو او ښاروالیو سره پاتې کېږي. د سیمه ییزې حکومتولۍ د مهمو مفاهیمو په اړه په افغانستان کې د کره پوهې د بنسټ په جوړولو کې همدغه اصل د مدني ټولنې، اکاډمیکو ادارو، څېړنیزو بنسټونو او خصوصي سېکتور په برخه کې هم صدق کوي. همداراز د رضاکارو اړوندو ډلو، لکه د والیانو او ولسوالانو، ښاروالانو او ولایتي شوراګانو د همغږۍ ټولنې، د فعال ګډون لپاره د یوه مناسب او پایښت لرونکې چاپېریال رامنځته کول هم د دوی په دندو کې راځي. د سیمه ییزو اورګانونو راتلونکې اصلاح شوې تګلاره باید د سیمه ییزې حکومتولۍ د برخوالو تر منځ دا همغږي منعکسه کړي او د وزارتونو د سیمه ییزو څانګو د هغو دندو، مسولیتونو، بهیرونو او چوپړنو د روښانه کولو له لارې، چې باید په سیمه ییزه کچه يې تر سره کړي، له وزارتونو سره ځان عیار کړي.

## ۴.۳ هغه بنسټ ته لومړیتوب ورکول چې د اغېزناک او اړین سمون تر ټولو ډېر توان لري: ښاروالۍ

که څه هم افغانستان اوسمهال تر ډېره کلیوالي ټولنه لري، د افغان وګړو یوه پاموړ برخه یا وار له مخه په ښارونو کې مېشته شوې او یا به هم په راتلونکي کې دا کار وکړي. ښاري کېدل یو نه ستنېدونکی بهیر دی او د سیمه ییزې حکومتولۍ د سمون لپاره یوه ننګونه ده، لامل یې تر ډېره د وړتیاو او سرچینو نشتوالی، اداري فساد، محدوده روڼتیا، او جنسیتي نابرابري ده.[52] خو د دې ننګونې تر څنګ د ښاروالیو د بنسټ د وړتیا او چارو په ښه یو فرصت هم موجود دی. د افغان وګړو د یوې لویې برخې لپاره ښاروالۍ د دولت د استازو په توګه له وګړو سره د اړیکې لومړی ټکی دی، چې له لارې یې د دوی کارونه ښکاري او په مټ یې ډېره اندازه عامه تړاو پیدا کېږي. د ښاروالیو دا ماموریت چې په ښاري حکومتولۍ کې د لاسنیوي اصل د ریښتیاینې لپاره سیمه ییز عایدات او وړتیاوې باید لوړې کړي، دوی ته د داسې بنسټونو حیثیت ورکوي، چې د عامه چوپړونو په رسونې کې یې ځای څوک نه شي نیولای. د عایداتو د ټولونې او چوپړ رسونې دغه لوی توان ته باید د لوړتیاو د لوړولو او د سرچینو د کره پانګونې له پلوه زیات پام وشي.

## ۴.۴ له ښکته-پورته حساب ورکولو پیاوړي کول: د ولایتي شوراګانو د څار د حق ملاتړ

مالوماتو ته له لاسرسي او له ښکته-پورته خوا ته له حساب ورکونې پرته ښه حکومتولي منځته نه شي راتلای. ولایتي شوراګانې او په نژدې راتلونکي کې ټاکل کېدونکې د ولسوالیو شوراګانې د ښې حکومتولۍ د دې ځانګړې استازیتوب کوي. پر ولایتي چارو د ولایتي شورا ګانو د څار حق د خلکو ټاکل شوي استازي د خپل قانوني ماموریت په بشپړونې کې توانمنوي.

---

[52] د افغانستان اسلامي جمهوریت، د افغان ښارونو وضعیت، (کابل: د افغانستان اسلامي جمهوریت، ۲۰۱۵)، ۱:۵.

# دویمه برخه: د ولسوالۍ او کلي استازیتوب

لکه وړاندې په لومړۍ برخه کې چې وویل شول، د ولسوالۍ او کلي په کچه د حکومتولۍ سمون یو څه تناقض لري. له یوه پلوه اوس په کابل کې د کورنیو او بهرنیو تکنوکراتانو او سیاستوالو ډېر پام په ملي کچه د والیانو ، ولسوالانو، او د ولایتي شورا د غړو او ښاروالانو ټاکلو ته اوښتی.[53] له بله پلوه دا ډېره جوته ده چې په ملي کچه په حکومتولۍ کې په معنی داره توګه سمونونه د کلي او ولسوالۍ له معقول او هر اړخیز استازیتوب پرته نه شي رامنځته کیدای. سره له دې چې په سیمه ییزه کچه د حکومتولۍ سمون ډېر ارزښت لري خو بیا هم د اوږدې مودې لپاره د تکنوکراتانو له خوا د سمونونو له پاره په جوړه شوې اجندا کې له پام غورځول شوی و.

په وروستیو کې چې د ولسمشر له خوا د اساسي قانون له حکم سره سم په سیمه ییزه کچه د ټاکنو ژمنه شوې، نو د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ د سمون موضوع یو ځل بیا راپورته شوې ده.[54] (لومړۍ برخه، ۲-۳ ځانګه وګورئ). د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ سمون ته بیرنۍ اړتیا له هغه تړونه سرچینه اخلي چې د ګډ حکومت د رامنځته کولو لپاره د ولسمشر اشرف غني او اجرایي رئیس عبد الله عبد الله ترمنځ شوی دی. په دغه تړون کې ویل شوي چې د اساسي قانون په لویه جرګه کې به د افغانستان د سیاسي نظام پر بدلون بحث او خبرې کیږي. که څه هم دا یوائې په هغه صورت کې چې د ولسوالیو شورا ګانې د اساسي قانون د حکم له مخې جوړې شي او استازي به یې په لویه جرګه کې برخه واخلي.

لکه چې مخکې وویل شول د ولسوالیو د شوراګانو د رامنځته کولو لپاره بیلابیلې لارې شته، ځینې یې د کلي په کچه د اوسني جوړښت پر بنسټ دي چې د شورا ټولنیز ارزښت او مقام په کې په اصلي بڼه ساتل کیږي. ځینې نورې لارې چارې بیا داسې دي چې د شورا په اوسني جوړښت کې لږ یا ډېر بدلون راولي لکه د ولسوالۍ په کچه د همغږۍ شورا رامنځته کول. خو ځینې نورې لارې چارې لکه د آزادو ټاکنو له لارې د کلي او یا ولسوالۍ د شورا ټاکل، بیا په اساسي توګه په افغانستان کې د سیمه ییزې حکومتولۍ څرنګوالی بدلوي او شورا ته د مدني ټولنې د یوه ارګان حیثیت ورکوي چې پر پرمختیایي چارو به تمرکز کوي. د حل هره لاره چې غوره کیږي غوره دې شي خو نور د کلي په کچه د حکومتولۍ سمون له پامه نه شي غورځول کیدای.

په کلیواله کچه د حکومتولۍ په اړه پریکړه دومره ساده خبره نه ده ، ځکه په دې سره د کلیوالو سیمو د اوسیدونکو ژوند مستقیما اغیزمنیږي او بالاخره په دې اړه پریکړه د افغانستان د اکثرو اوسیدونکو پر ژوند اغیز کوي. د کلیوالو سیمو په کچه د حکومتولۍ په اړه د بحث کولو لپاره د دې څېړنې دویمه برخه د تجربوي موندنو پر بنسټ د افغانستان له شمال ختیځ څخه د شورا اړوند یو مثال وړاندې کیږي. موږ په ځانګړې توګه دا پوښتنه کوو چې شورا د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ د بیلابیلو ډولونو برداشت څه ډول اغیزمنوي. زموږ موندنې د شورا د ترکیبي برخو په اړه په دوه مهمو برخو کې په پخوانیو څیړنو سره توپیر لري. لومړی دا چې د نورو څیړنو پرتله چې تمرکز یې پر څومره والي و ، په دې څېړنه کې د شورا ټیټه کچه په وروستي پړاو کې ارزول شوې لکه ټولنیزې پرمختیایي شوراګانې. د مثال په توګه د بیت، کرستیا او انیکولوپوف له خوا له ۲۰۰۷ تر ۲۰۱۱ کال پورې د څلورو کلونو په موده کې د ملي پیوستون پروګرام ارزونه، هغه پروګرام چې سیمه ییزې پرمختیایي شوراګانې یې جوړې کړې او مالي ملاتړ یې کړی.[55] په دغې موده کې ارزول شویو سیمه ییزو پرمختیایي شوراګانو د ملي پیوستون پروګرام د مالي ملاتړ یوه برخه تر لاسه کړې وه. توپیر یې دادی چې موږ معلومات د ۲۰۱۰-۱۱( پیل ) او **۲۰۱۴-۱۵** (پای) ترمنځ موده کې راټول کړي. د پای مودې ته په کتو د ذکر شوې سروې پر تله زموږ له خوا ارزول شوې سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې د پام وړ زیاته موده پاتې شوې چې احتمالا د شوراګانو د بنیادي کولو درجه اغیزمنوي.

**۵۳** باید وویل شي چې د امریکا د وسله وال مخالف ضد ستراتیژۍ د یوې برخې په توګه ، د امریکا د جګړه ییز ماموریت ( ۱۲-۲۰۱۰ ) په موده کې پر ولسوالیو او کلیوالو سیمو ډېر تمرکز و . د وسله وال مخالفت ضد فعالیتونو په چوکاټ کې د افغان حکومت حضور په هغو سیمو کې رامنځته کیده چې امریکایي او نړیوال مرستندویه ځواک ( آیساف ) له وسله والو مخالفینو څخه نیولې. لکه څرنګه چې د افغان حکومت د جوړښت له مخې ولسوالي تر ټولو ټیټ اداري واحد دی ، نو دغه فعالیتونه د ولسوالۍ په کچه متمرکز و ، پر ولسوالیو د تمرکز پرمهال په هغو سیمو کې چې د امریکا د نړیوالې پرمختیایي اداري (USAID) د ولسوالۍ د پراختیا او په مهمو سیمو کې د ثبات پروګرامونه فعال و، ځانګړي پروژې ډیزاین کیدلې. دغه دواړو پروګرامونه ۲۰۱۰ او **۲۰۱۳** کلونو ترمنځ موده کې فعال و. که څه هم پر ولسوالیو له شک پرته تمرکز ډېر و خو هیڅکله هم د ولسوالۍ په کچه هر اړخیزه رغنیزه کړنلاره په پام کې ونه نیول شوه، برعکس دوی د ولسوالۍ په کچه د امنیتي مشخص حضور د یقیني کولو لپاره په بیړه ګامونه پورته کول، دوی په دې کار سره آن د ادارو ترمنځ ګډوډې رامنځته کړې وه او اداري پروسیجرونه یې له پامه غورځولي و.

**۵۴** په دې څېړنه کې له ( د کلیوالو سیمو حکومتولي ) څخه مطلب له ولسوالۍ د ټیټې کچې بنسټونه دي، لکه محلي پراختیایي شورا CDCs ، د کلستر په کچه پرمختیایي شورا CLDCs ، سیمه ییزې جرګې ، شورګانې او داسې نور.

**۵۵** انډریو بیت ، کرستیا فوټیني او ربین اینکولوپوف "د ملي پیوستون پروګرام : په افغانستان کې د ټولنې له خوا د کیدونکو پرمختیایي چارو د اغیز ارزونه" د نړیوالې سولې ساتنه ۲۲، No ۴ (**۲۰۱۵**) : ۳۰۲-۲۰

بله دا چې د سروې د پای نیتې په رارسیدلو تر څېړنې لاندې اکثرو سیمه ییزو پرمختیایي شوراګانو د ملي پیوستون له خوا دویمه ورکړل شوې بودجه لګولې او یا یې د لګولو په پړاو کې و. دویم توپیر دا دی چې زموږ معلوماتو د لوړې کچې شوراګانې په پام کې نیولی لکه د کلستر په کچه پرمختیایي شوراګانې او د ولسوالۍ د پرمختیایي چارو اسامبلېDDAs ، د یادونې ده چې دا یواځینې معلومات دي چې د لوړې کچې د شوراګانو د تحلیل لپاره یې د کمیت او کیفیت له پلوه د سروې لوړ معیار په پام کې نیولی دی.

په لاندې کرښو کې د افغان او نړیوالو کړنلاره جوړوونکو له ارزونې وړاندې ، لومړی شورا او په ادبیاتو کې د هغې د مقام په اړه بحث کوو. له دې وروسته د ګڼ اړخیزې تړاوي شنني میتود په کارولو سره له یوه پلوه د کم فعالیت لرونکو او یا ډېرو فعالو سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو او د سمو او یا ناسمو سره یو ځای سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو ترمنځ اړیکې او له بله پلوه د کلیوالو برخه اخستل او د ولسوالۍ په کچه حکومتولي څېړو. سره پیېلې کلمه د سیمه ییزه پرمختیایي هغو شوراګانو ته کارول کیږي چې په لوړه کچه د شورا په بڼه په خپل منځ کې همکاري او اړیکي لري، په تېره بیا د کلستر په کچه پرمختیایي شوراګانې او د ولسوالۍ د پرمختیایي چارو شوراګانې.[52] موږ دغه راز په دې اړه څېړنه کوو چې آیا داسې ملاحظات شته چې له ځینې ځایي شرایطو سره تړاو لري او یا پرې اغیز کوي لکه امنیتي وضعیت او یا د ولسوالۍ لرې والی. په تړاوي میتود کې موږ هغه نور فکتورونه په پام کې نیسو چې ښایي په حکومتولۍ اغیز وکړي ( موږ د احصائیې له مخې هغه ۲۱ بدلونونه هم څېړو چې زموږ په نامستقلو حکومتي متحولونو کې د ملاحظه شویو توپیرونو بدیله شرحه وړاندې کوي ) او دریم دا چې موږ خپلې پایلې خلاصه کوو او د خپلو موندنو لپاره ازمېښتي شرحه وړاندې کوو. وروستی دا چې سپارښتنې مو د تجربه شویو موندنو څخه سرچینه اخلي.

52 دا مهمه ده چې پوه شو چې ځینې بدلونونه شته چې ښیي سیمه ییزه پرمختیایي شورا څه ډول له عمومي شورا سره اړیکي لري. ځینې یې د کلستر په کچه له خپلې پرمختیایي شورا سره په منظم ډول همکاري لري او د ولسوالۍ د پرمختیایي چارو اسامبلېDDAs د فعالیتونو په اړه ښه معلومات ورکړل شوي دي. په ځینو نورو حالاتو کې ښایي سیمه ییزه پرمختیایي شورا د کلستر له پرمختیایي شورا سره ښه کاري اړیکي ولري خو د DDA په اړه معلومات نه لري. له بله پلوه ځینې د کلستر په کچه سیمه ییزې پرمختیایي شوراګانې ښه فعالیت نه کوي خو ځیني سیمه ییزې پرمختیایي شوراګانې بیا هم په خپله ولسوالۍ کې له DDA سره په اړیکه کې دي. او وروستی دا چې د ځینو سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو اړیکي په بشپړه توګه په خپله ولسوالۍ کې له عمومي شورا سره پرې شوې دي.

# ۵. د پرمختیایي شورا جوړښت

## ۵.۱ د شورا دندې او تنظیم

کله چې موږ شورا یادوو نو مطلب هغه پرمختیایي شوراګانې دي چې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت له خوا رامنځته شوي دي. د دغه جوړښت اصلي هسته سیمه ییزې پرمختیایی شوراګانې دي چې په لومړي ځل په ۲۰۰۳ کال کې د ملي پیوستون پروګرام له خوا جوړې شوې. ملي پیوستون پروګرام په درې فیزونو کې پلي شو او په ۲۰۰۹-۱۰ کال کې یې لمن ټول هیواد ته خوره شوه. سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې د هغو ټولنو استازیتوب کوي چې له ۲۵ تر ۳۰۰ پورې کورنۍ په کې ژوند کوي.[57] د سیمه ییزه پرمختیایي شورا غړي د پټو رایو له لارې ټاکل کیږي چې د دغې ټولنې ټول ښځینه او نارینه وګړي په کې برخه اخلي. د ولسمشرۍ ، ولسي جرګې او د ولایتي شوراګانو د ټاکنې په یوه ورځ ترسره کیږي خو د سیمه ییزه پرمختیایی شوراګانو ټاکنې په اوږده موده کې په جلا ډول د ټولنې په همغږي کولو تر سره کیږي.[58] دغه ټول بهیر د نا دولتي مؤسسو له خوا پر مخ بیول کیږي چې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت له خوا ورته د ملي پیوستون پروګرام د عملي کولو چاره په ولسوالیو کې سپارل کیږي. دا چې د ټولنې وګړي په دومره پراخه کچه په دې بهیر کې برخه لري نو د سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو ټاکنې په یوه ورځ په یوه ولسوالۍ کې نه بلکې په پرله پسې توګه ترسره کیږي.

د سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو اصلي دنده په خپلو سیمو کې د لومړیتوبونو ټاکل، څارنه او د پرمختیایی پروژو د یوې برخې پلي کول دي. په لومړیو کې په پام کې و چې سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو ځینې نور هدفونه هم تعقیب کړي لکه دا چې د " سیمه ییزه حکومتولۍ او د سیاسي او ټولنیز پرمختګ فعال بنسټ " په توګه رول ولوبوي.[59] د پرمختیایي چارو ترڅنګ سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې شخړې هم هواروي ، حشرونه هم تنظیموي او په نور ځایونو کې د خپلې ټولنې استازیتوب هم کوي.[60] لږ تر لږه د افغانستان په شمال ختیځ کې له ۲۰۰۷ کال څخه تر ۲۰۱۵ پورې موده کې سیمه پرمختیایی شوراګانې په سیمه ییزه کچه د حکومتولۍ د یوه بنسټ په توګه فعالیت کړی. ((Fig. ۱ له ۲۰۱۱ کال راهیسې په ځانګړې توګه د شورا د مشر ارزښت زیات شوی. د شورا د مشر د ارزښت له لوړیدو سره هم مهال په کلیو کې د مشرانو او واکدارانو د اساسي بدیل د ارزښت په اړه پوهاوی هم زیات شو. دا ډول یو ملاتړ بې جنجاله نه و. ځینې حکومتي او نړیوال چارواکي چې آریا نجات ورسره د ( حکومتولي د افغانستان لپاره ) پروژې لپاره مرکې کړې، پر دې نظر دي، چې ټولنیزې پرمختیایي شوراګانې تر ډېره د مرستندویانو په ملاتړ چلېدونکي بنسټونه دي، چې پر پرمختیایي چارو تمرکز کوي، خو د حکومتولۍ اغېزناک او مثبت فعالیت نه لري.[61]

---

۵۷ د ملي پیوستون د اصولو له مخې یوه سیمه باید پنځه ویشت کورنۍ ولري چې بودجه تر لاسه کړي. د ملي پیوستون پروګرام په چوکاټ، په هغه کلي یا سیمه کې د سیمه ییزې پرمختیا شورا نه شي جوړیدای چې د کورنیو شمیر یې له ۲۵ کم وي. د دوی لپاره د بودجې سقف درې ملیونه افغانۍ دی. په هغو سیمو کې چې له درې سوو زیاتې کورنۍ په کې میشتې وې هڅه کوي چې په وړو برخو وویشل شوي او زیاته بودجه ترلاسه کړي. د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ملي پیوستون پروګرام دریمه برخه (NSP III) وګورئ. د عملیاتو لارښود کتاب ۲ ((OM VI ( کابل ، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت )


۵۸ د سیمه ییزې پرمختیایی شورا د غړو د ټاکلو لپاره دوه میتودونه کارول کیدای شي: یو یې د کلستر او بل د محل په کچه میتودی ( د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت ، د ملي پیوستون پروګرام دریم فیز ۲۹ )

۵۹ د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت ، د ملي پیوستون پروګرام ، دریم فیز ۱۱.

۶۰ د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت ، د ملي پیوستون پروګرام ، دریم فیز ، دغه راز کتلی شئ: هامیش نیکسون " د سمیه ییزې حکومتولۍ بدلون ، په افغانستان کې د سیمه ییزه پرمختیا شوراګانې " ( کابل افغانستان ، د څېړنې او ارزونې یونټ ۲۰۰۸ ) ؛ جان کویلر او کرستوف ګوسزټوني (( ځایي حکومتولي : سویل انجینیرنګ او د افغانستان په شمال ختیځ کې ځایي حکومتولي ))

۶۱ م م م د ځایي حکومتولۍ نړیوال کارپوه ، ۱۵ سپتمبر ۲۰۱۵ کابل.

**۱ شکل: په کلي کې د تر ټولو پیاوړي کس په اړه د پوښتل شویو کسانو برداشت د ۲۰۰۰ کال له نیمایي راهیسې د سیمه ییزې پرمختیایي شورا مشر د کلي په کچه د مهم مشر په توګه ځای نیولی. سرچینه: پنځه بریالۍ سروې ګانې چې جان کویلر د کندز او تخار ولایتونو په څلورو ولسوالیو کې کړې دي. په عین کلیو کې په هرو دوه کالونو کې سروې شوې ده ، خو له عین کسانو څخه بیا نه دي پوښتل شوي. نو دا یوه کلاسیکه سروې نه ده.[۲۲] (C۹۷۰۰ Freie Universitنt Berlin, SFB)**




د سیمه ییزې پرمختیایي شورا پر بنسټ له ۲۰۰۷ کال راهیسې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د بنسټونو د رامنځته کولو په برخه کې دوه نور نوښتونه هم کړي دي. په سیمه ییزه کچه د پرمختیا ملي پروګرام، په اړه کې سیمه ییزه شوراګانې د جغرافیوي موقعیت پر اساس د ؛ کلستر په کچه د پرمختیایي شوراګانو (CLDCs) ؛ په اړه کې سره یو ځای کړل شوې چې د سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو غړي په کې شامل دي. د کلستر په کچه د پرمختیایي شوراګانو بیا په خپل وار د ولسوالۍ پرمختیایي شورا (DDAs) ، ته خپل استازي استوي، چېرته چې د کلستر په کچه د ولسوالۍ د ټولو پرمختیایي شوراګانو استازي سره یو ځای کېږي. د کلستر پرمختیایي شوراګانو او د ولسوالۍ د پرمختیایي شوراګانو دندې یو شان دي خو دلته دغه دندې په لوړه کچه پر مخ وړل کیږي.[۲۳] دوی لومړیتوبونه ټاکي، ملاتړ جلبوي ، د پرمختیایي پروژو ته زمینه برابروي، حشرونه تنظیموي، د پروژو حفظ او مراقبت کوي، شخړې هواروي او په دولت کې د خپلې ټولنې د ګټو استازیتوب کوي. په دې ډول شورا هغه یواځینې بنسټ دی چې په سیمه ییزه کچه ټاکل شوی ، او په یوه مرکزي دولت کې په نوبتي ډول د حکومتولۍ یو بنسټ دی. له مرکزي دولت سره د ارتباط لویه لاره له همدې شورا تیرېږي.

د شورا په درې پوړونو کې تر ټولو ټیټ پوړ یعنې سیمه ییزه پرمختیایي شورا تر ټولو ښه د یوه بنسټ ښه غوره کړې او په سمه توګه دندې ترسره کوي ، له دې وروسته چې تر دې یې په کمه اندازه د یوه بنسټ ښه غوره کړې هغه د ولسوالۍ پرمختیایي شورا ده. په وروستیو کلونو کې دغو دواړو بنسټونو له ملي او نړیوالو ارګانونو د پام وړ مالي امکانات او د ظرفیت لوړولو لپاره ملاتړ تر لاسه کړی دی. د شورا په اړه کې د کلستر په کچه پرمختیایي شورا تر ټولو په لږه اندازه د یوه بنسټ ښه غوره کړې، او آن په ځینو ولسوالیو کې نشته ( لکه د بلخ په چارکینت او د تخار په ورسج ولسوالیو کې)

وروستۍ مهمه تبصره د شورا د قانوني حیثیت په اړه ده. سیمه ییزه پرمختیایي او د ولسوالۍ پرمختیایي شوراګانې د سیمه ییزه حکومتولۍ رسمي بنسټونه دي، خو دغه شوراګانې د حکومت یوه برخه نه دي. دغه شوراګانې رسمي ځکه دي چې دندې او جوړښت یې په فرمانونو او د پالیسیو په اسنادو کې ذکر شوې: د سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو لپاره د ولسمشر فرمان چې ۲۰۰۷ کال کې لاسلیک شو او د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت مقررات، او د ولسوالیو پرمختیایي شوراګانو لپاره د سیمه ییزې پرمختیا ملي پروګرام چې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت له خوا د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام په مرسته پلي کیږي.[۲۴] خو د سیمه ییزه پرمختیایي او ولسوالۍ د پرمختیایي شوراګانو برخلاف د کلستر پرمختیایي شورا ګانې دغه ډول یو رسمي اساس نه لري. د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت له اړخه خو ویل کیږي چې دغه شوراګانې یواځې د ولسوالۍ پرمختیایي شورا د ټاکنو د

۲۲ له C۹ SFB۷۰۰څخه چې مالي ملاتړ یې DFG کړی مننه کوو چې خپل معلومات یې زموږ په واک کې راکړل. سروې د OSDR له خوا د جان کیولر تر څارنې لاندې تر سره شوې. دغه معلومات له هغو جلال دې چې په دې څېړنه کې کارول شوي او هدف یې دادی چې د پر حکومتولۍ د شورا اغیز وڅیړي او دا لاندې په ۳.۲ برخه کې شرحه شوي دي. دغه راز کتلای شئ، جان آر بونکي ، جان کویلر او کرستوف زورکر " د افغانستان په شمال ختیځ کې د پرمختیایي همکارۍ د اغیز ارزونه ۲۰۱۳ وروستی رپوټ " بون ، برلین د فډران د اقتصادي همکاریو او پرمختیا وزارت ( BMZ) ۲۰۱۵ .

۲۳ د افغانستان اسلامي جمهوریت ( د سیمه ییزه حکومتولۍ پالیسي) دغه راز وګورئ ، د افغانستان اسلامي جهوریت ( په ولسوالیو او کلیو کې د حکومتولۍ پیاوړي کول ) کابل: (د محلي ارګانونو خپلواکه اداره او د کلیو د بیارغونې او پرمختیا وزارت ۲۰۱۳ )

۲۴ د افغانستان اسلامي جمهوریت ( د سیمه ییزې حکومتولۍ پالیسي)

اسانه کولو لپاره رامنځته شوي. په ډیرو سیمو کې که څه هم د کلستر پرمختیایي شوراګانې د ولسوالۍ پرمختیایي شورا له ټاکنو وروسته فعالیت کوي او آن ځینې نا دولتي مؤسسې یې ملاتړ هم کوي، دا چې دغه شوراګانې د حکومتولۍ دنده او د سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو پر سر د یو پرمختیایي ارګان ماهیت لري خو د ولسوالۍ شورا څخه په درجه کې ټیټې دي ، نو کیدای شي چې دغه شوراګانې غیر رسمي بنسټونه وبلل شي.

که څه هم د سیمه ییزه پرمختیایي او ولسوالۍ د پرمختیایي شوراګانو قانون ډیر پیچلی دی ، البته دې ته په پام سره چې د کلي او ولسوالۍ په اړه اساسي قانون صراحت نه لري خو دغه دواړه شوراګانې CDCs او DDAs کولی شي چې خپلې دندې ترسره کړي. د سیمه ییزه ارګانونو د خپلواکۍ اداري، د سیمه ییزه حکومتولۍ په پالیسۍ کې راغلي دي چې:

> سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې هغو خلکو ته ځواب ورکوونکي دي چې د دغو شوراګانو غړي یې ټاکلي دي. سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې دغه راز د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت ته چې دوی ته مالي بودجه ورکوي ، ځواب ورکوونکي دي. سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې به د کلیوالو شوراګانو د راتلونکې د رول تر سره کولو پرمهال خلکو ته ځواب ورکوونکي وي.[۶۵]

> د ولسوالۍ پرمختیایي شوراګانې به خپل اوسنی رول او مسؤولیتونه ترسره کوي تر هغه چې د اساسي قانون له مخې د ولسوالیو منتخبې شوراګانې په ۲۰۱۰ کال کې رامنځته شي. د ولسوالیو پرمختیایي شوراګانې به تر هغه د پلانونو دندې ته دوام ورکړي تر څو چې د اساسي قانون د حکم له مخې د ولسوالیو شوراګانې رامنځته شي.[۶۶]

## ۵.۲ د شورا جوړښت او ارزونه یې:

په ملي او له نړیوالې ټولنې سره په بحثونو کې شورا په مخلوطه بڼه ارزول شوی . په مشخصه توګه سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې چې تر ټولو پخوانۍ او تر زیاتې اندازې یې د بنسټ بڼه غوره کړې ده ، په عمومي توګه مثبت ارزول شوي دي. البته دا فرضیه اکثرا په پام کې نیول شوې ده چې دغه شوراګانې یو موقت حل دی چې په راتلونکې کې به یې ځای د کلي شورا نیسي. برسیره پر دې سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو ته اکثراً د کلي په کچه د پرمختیا د اسان چارې په سترګه کتل کیږي، خو دې ته چې دغه شوراګانې په پراخه کچه د سیمه ییزه حکومتولۍ اسانتیا وړاندې کوي، لږ پام اړول کیږي. له همدې ځایه ده چې د سیمه ییزه حکومتولۍ په سند کې راغلي:

> له شک پرته چې سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو په ټول هیواد کې د خلکو د هوساینې په برخه کې د پام وړ برخه لرلې ده دغه راز د همدې شوراګانو په مرسته افغانانو وکولی شول چې د پرمختیایي لومړیتوبونو په ټاکلو کې برخه واخلي. په هرحال د دغو شوراګانو منل او مشروعیت یې د ټولنې لپاره د یوې اضافي منبع په توګه د دوی د رول دې پورې تړاو لري.[۶۷]

د پورته یادو شویو مرکو پرمهال چې د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر نه د ۲۰۱۶ کال تر جنورۍ پورې موده کې آریا نژاد ترسره کړې ( لومړۍ برخه وګورئ ) د پام وړ اکثرو کورنیو او بهرنیو کارپوهانو او کړنلاره جوړوونکو د سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو په اړه مثبت نظر ورکړی او د ولسوالۍ د پرمختیایي شورا یا اسامبلې په اړه له دې لږ څه کم، ځینو آن په سیمه ییزه حکومتولۍ کې د شوراګانو رول منلی ( لومړۍ برخه ، ۳،۳ څانګه وګورئ ) . د دغو کسانو له خوا چې مرکې ورسره شوې یوه موضوع تکراراً او په انتقادي بڼه راپورته شوې چې هغه د سیمه ییزو پرمختیایي شوراګانو او د ولسوالۍ د پرمختیایي اسامبلېو قانوني حیثیت په اړه ده. د ولسوالۍ او کلي په کچه د ټاکنو د ترسره کولو ستونزو ته په کتو ځینې مرکه کړل شوي کسانو دا موضوع هم را سپړله چې سیمه ییزې پرمختیایي شوراګانې او د ولسوالۍ پرمختیایي اسامبلېو ته قانوني حیثیت ورکړلی شي چې د کلي او ولسوالۍ د شورا قانوني حیثیت خپل کړي.[۶۸] خو په ورته وخت کې اکثرو مرکه کړل شویو کسانو د عملي دلایلو پر بنسټ د شورا له ترکیبي برخو سره خواخوږي لرله، اکثرو د شورا رول ته د حکومتولۍ په برخه کې د ناکامۍ په سترګه کتل [۶۹] ، د یوه سخت دریځه نظر په توګه ځینو آن سیمه ییزې پرمختیایي شوراګانې او په ټوله کې شورا ته په عمومي توګه د یوه موازي بنسټ په سترګه کتلې چې د دولت مشروعیت تر اغیز لاندې راولي.[۷۰]

---

۶۵ د افغانستان اسلامي جمهوریت " د سیمه ییزه حکومتوالۍ پالیسي " ۱۸

۶۶ د افغانستان اسلامي جمهوریت " د سیمه ییزه حکومتوالۍ پالیسي "۱۷

۶۷ د افغانستان اسلامي جمهوریت " د سیمه ییزه حکومتوالۍ پالیسي " ۷۳

۶۸ م م م د حکومتولۍ په اړه د نړیوالو کارپوهانو نظرونه : سپتمبر ۲۴ ، ۲۰۱۵ کابل.

۶۹ م م م د ټولنې د پرمختیا او حکومتولۍ په اړه د نړیوالو کارپوهانو نظرونه : جنوري ۴ ، ۲۰۱۶ کابل.

۷۰ کرېستوفر زورکر ، کترین ګلوکوفځبوا ، ګریګ فیفي او نورا رونر، د افغانستان ستراتیژیک پېژندلیک. بون: د اقتصادي همکارۍ او پرمختیا فدرالي وزارت، ۲۰۱۳.

په ملي کچه په دې اړه دوه ګوني نظرونه شته ، ځینې ولسوالانو چې د څو کلونو په اوږدو کې ورسر مرکې شوي، په خپلواکه توګه د پروژو په اړه د پریکړو لپاره د شورا د وړتیا په اړه ناخوښي ښودلې ده، دوی یې پر ځای د داسې یوه جوړښت پلوي کړې چې خپلواکي یې د شورا پر تله لږ وي، لکه د پخوا په شان د حکومت له خوا منل شوي ملکان او اربابان. خو ځینو بیا ویلي چې دولت کولی شي د همدې شوراګانو له لارې خلکو ته ځان ورسوي. په مشخصه توګه د ولسوالۍ د پرمختیایي شورا یا اسامبلې رول په یوه مشخص حد کې دوام لري: ځیني ولسوالان د ولسوالۍ د پرمختیایي شورا د رول او د مالي چارو له کنټروله ناخوښ دي، خو ځینو نورو ولسوالانو بیا له شورا سره مثبت ، دوه اړخیزه او ګټورې کاري اړیکي جوړ کړې دي.

اکادمیک مواد هم د شورا د ارزښت په اړه دوه ګونی نظر لري، د شورا په اړه د ادبیاتو په پراخه ساحه کې [71] درې سروې ګانې چې د خپلو میتودونو په نظر کې نیولو سره یې په ترڅ کې د شورا د پراخ اغیز ارزونه کیږي. بیت او ملګرو چې د **۵۰۰** کلیو کې د ملي پیوستون د پروګرام ارزونه یې کړې ده [72] ، نو له همدې ځایه ده چې په دې ارزونه کې یوازې د ملي پیوستون جوړښت په لومړني پړاو – سیمه ییزه پرمختیایي شورا – په پام کې نیول شوی دی ، د کلستر په کچه پرمختیایی شورا او د ولسوالۍ پرمختیایي اسامبله په پام کې نه دي نیول شوي. سروې په درې پړاوونو کې تر سره شوې ده ( لومړنی **۲۰۰۷** منځنی **۲۰۰۹** او وروستی **۲۰۱۱** ) او هغه پراخه سیمې یې تر ارزونې لاندې نیولي چې په پام کې و هلته د ملي پیوستون پروګرام دا ډول پایلې ولري: عامه خدماتو او زیر بینا ته لاس رسی ، اقتصادي هوساینه ، ځایي حکومتولي ، سیاسي دریځونه او حکومت جوړلو او ټولنیز نورمونه. د اړونده اغیز په اړه [73] د سروې ترسره کوونکي موندلې چې په منځني پړاو ( **۲۰۰۹** ) کې ملي پیوستون د سیمه ییزه حکومتوالۍ پر څرنګوالي مثبت اغیز درلود ( لکه په شوراګانو کې د ښځو ګډون ، په عمومي اسامبلو کې د کلیوالو ګډون ) ، سیاسي دریځونه ( لکه د ټاکنو منل ) د حکومت جوړول ، ( لکه د مرکزي حکومت مشروعیت ). [74] که څه هم په منځني پړاو کې څو مثبتې لیدل شوې اغیزمنتیاوې له منځه تللي دي، خو د سروې ترسره کوونکي له نظره دغو لاسته راوړونو پایښت په دې پورې اړه لري چې د مرکزي حکومت له خوا عمومي خدمات او عامه اداري دوام داره حضور ولري. [75]، په دې توګه دا مهمه ده چې په پام کې ولرو چې په وروستي پړاو کې سروې شویو سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو یوازې یول ځل ټاکنې کړې وې او د ملي پیوستون پروګرام له خوا یې یوازې یوه ورکړل شوې بودجه لګولې وه.

دویمه میتودولوژیکي پیاوړې سروې جاکم او ملګرو یې کړې ده چې لکه د تیرې ارزونې په څېر د کلي په کچه یې د ملي پیوستون پروګرام ارزونه کړې ده.[76]د بیت او د هغه د ملګرو د سروې برخلاف دی هڅه نه کوي چې د حکومتولۍ پر مشخصو برخو د سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو اغیز وارزوي ، د دې پر ځای دی د سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو په اړه نظرونه له نورو سیاسي ممکنه تشکیلاتو سره پرتله کوي. دغه سروې په **۲۰۱۱** کال کې شوې ده او پوښتل شویو کسانو ته د کلیوالو سیمو د استازیتوب لپاره درې سناریوګانې وړاندې کړل شوي دي: د کلي شورا چې په ملي کچه د سري ټاکنو له لارې ( هغه فرضي ماډل چې اوس نشته ) ټاکل کیږي ، د اوسنیو سیمه ییزو پرمختیایي شوراګانو پر ځای د کلیو د شوراګانو رامنځته کول او په رسمیت پیژندل یې ، او دریمه دا چې د دودیزه شوراګانو پر ځای د کلیو شوراګانې رامنځته کول او بیا هغوی ته رسمیت ورکول. د سروې پایلو د دغو درې فرضیو د اروزنې په اړه کوچني توپیرونه را برسیره کړل. ځواب ویونکو د لومړنیو دوه فرضیو ( د کلیو لپاره په ملي کچه ټاکنې او د ټاکل شویو سیمه ییزه پرمختیایی شوراګانو رسمي کول ) پر تله په لږه اندازه سري ټاکنې غوره وګڼلې. دوی داسې احساس ښودلی چې دودیزه شوراګانې او سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې په ملي کچه د کلیوالي ټاکل شویو شوراګانو پر تله د حکومت په مقابل کې د سیمه ییزه ګټو ښه استازیتوب کولی شي. خو له طالبانو او نورو وسله والو سره د سولې په برخه کې ځواب ویونکو ډراماتیک بدلون سره

---

71 جنیفر بریک ، ((په افغانستان کې د ټولنیز پرمختګ د ثبات څېړنه )) (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې یونټ ، ۲۰۰۸ ) کویلر او ګوسزتوني ((سیمه ییزه حکومتولي )) نیکسون (( د سیمه ییزه حکومتولۍ بدلیدونکې بڼه ؟ )) دوګلاس سلتمارش او ابیلاش میدهی (( سیمه ییزه حکومتولي د سیمه ییزه اړتیاوو لپاره: مهمې موندنې او د افغانستان لپاره د پالیسۍ انتخابونه )) کابل افغانستان ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې یونټ ۲۰۱۱، دوګلاس سلتمارش او ابیلاش میدهی (( په افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولي : له ساحې یوه کتنه)) کابل : د افغانستان د څېړنې او ارزونې یونټ ۲۰۱۱ ، میشیل شرکین (( په افغانستان کې سیمه ییز ملي حکومت )) سنتا مونیکا CA RAND , ۲۰۱۱

72 بیت et al (( د ملي پیوستون پروګرام )) انډیرو بیت ، کرستیا فوتیني ، روبین انیکولوپوف او شهیم کابلي (( د ملي پیوستون پروګرام د دویم فیز ارزونه : د منځ مهالي پروګرام د اغیز اټکلونه ، له لومړۍ تعقیبي سروې)) ( واشنګټن ډي سي ، نړیوال بانک ۲۰۱۰) : انډریو بیت ، کرستیا فوتیني او روبین انیکولوپوف (( د پرمختیا له لارې د ذهنونو او زړونو ګټل : په افغانستان کې د ساحوي تجربو شواهد )) ( MIT د سیاسي علومو څانګه ، د څېړنیز سند نمبر ۲۰۱۱-۱۴, ۲۰۱۲ )

73 دا ښیي چې د دغې څېړنې اصلي تمرکز پر حکومتولۍ او اداري فساد باندې د شورا پر اغیز دی . دغه راز زموږ د ادبیاتو برخې تمرکز پر دغو موضوع ګانو دی.

74 بیونکي et al ، (( د پرمختیایي همکارۍ د اغیز ارزونه )) د اوږدې مودې په ترڅ کې - له ۲۰۰۷ څخه تر ۲۰۱۳ پورې د ۸۰ کلیو سروې – په ولسوالۍ کې د حکومتي بنسټونو پر مشروعیت د کلیوالي پراختیا د اغیز په اړه یې ورته ملاحظات لرلي دي.

75 بیت او ملګري یې (( د ملي پیوستون پروګرام )) ۳۱۵ – ۱۶

76 تورستین جاشم ، الیا مرتضاشویلي او جنیفر مرتضاشویلي (( په کمزورو دولتونو کې د سیمه ییزې حکومتولۍ رامنځته کول: له افغانستان څخه تجربه شوي شواهد )) نړیواله پراختیا ۷۷ ( ۲۰۱۲ ) : **۲۹۳ – ۳۱۰**

خپل نظر داسې څرګند کړې چې ګواکې په دې برخه کې دودیزه شوراګانې له ټاکل شویو هغو او یا د سیمه ییزه پراختیایي شوراګانو پر تله دوه برابره ښې دي. ډیره جالبه ده چې د هغو کلیو پر تله چې د مقرر کړل شویو ملکانو او اربابانو له خوا اداره کیدلې په هغو کلیو کې دیموکراتیک پروسیجرونه ډیر منل کیږي چې د سیمه ییزه پراختیایي او یا دودیزه شورا په کې فعالیت کوي.

له دوه لومړنیو سروې ګانو په توپیر سره دریمه څېړنه د قوي اغیز د ارزونې میتود په کارولو سره د ولسوالۍ پر پراختیایي اسامبله تمرکز کوي ( لکه د شورا لوړه کچه ) [۷۷]. دغه څېړنه د افغانستان په شمال ختیځ کې پر ثبات د هغو پروګرامونو اغیز څېړي چې د مرستندویانو په مالي ملاتړ پلي شوي دي، دا هغه سیمې دي چې د ولسوالۍ پرمختیایي اسامبلو په کې د ولسوالۍ په کچه زیر بنایي پروژې عملي کړي او روزنه یې هم تر لاسه کړې ده . څېړنه د پیل د پړاو ( ۲۰۱۰ – ۱۱ ) او د منځني پړاو ( ۲۰۱۲ یواځې ټاکل شوې لومړنۍ پایلې وړاندې کوي.[۷۸] دغه لومړنۍ پایلې د ولسوالۍ د پراختیایي اسامبلې د څرګندتیا او د دغې اسامبلې له خوا زیربنایي ټاکل شویو پروژو ترمنځ مختلطې خو اکثرا مثبتې اړیکې ښیي او دا چې اغیز یې پر امنیتي موضوعاتو او د ولسوالۍ پر عکس العمل څه دی.

همدغه خپلواک متحولونه ( د ولسوالۍ پرمختیایی اسامبلې او ددغې اسامبلې له خوا د پلي شویو پروژو څرګندتیا ) د کلي په کچه په حشر کې د برخې اخستو په برخه کې له مختلطو خو اکثرا منفي پایلو سره تړاو لري : له نیمایي لږ زیات سروې شوې ولسوالۍ ، د ولسوالۍ پرمختیایي اسامبله او د پروژو څرګندیا او د اطاعت ټیټه کچه د متحولونو په توګه سره یو ځای شوي دي. دغه مختلطې ( نه یو طرفه پایلې ) ښایي د لنډ مهال پروژو ( له یو نیم تر دوه کالونو پورې ) سره اړیکه ولري ځکه د پروژو د بشپړ اغیز څرګندیدل ښایي ډیر وخت وغواړي. له یوه پلوه دغه پایلې دا نظر تاییدوي چې پر حکومتولۍ د پرمختیایي مرستو اغیز د دغو مرستو د څومره والي او څرنګوالي پورې تړاو لري. په هر حال د کولر او د هغه د ملګرو له خوا روانه څېړنه دغه راز وړاندیز کوي چې د ګډو وړتیاوو لوړول او په لوړه کچه د ولسوالۍ پرمختیایي اسامبلې له خوا د بنسټیزو پروژو پلي کول په دوهم تعقیبي پړاو کې لاډیر همغږی او منظم اغیز رامنځته کوي. لکه د پروګرام له پیله تر څلور ، پنځه کلونو وروسته پورې.

۷۷ جان کویلر ، کرستوف ګوسزتوني ، کیت چلډ او بصیر فدا (( د اغیز د ارزونې مختلط میتود : د پرمختیایي همکارۍ لپاره د ثبات ارزونه )) د سولې او امنیت اقتصادي ژورنال ۱۰ ، No ۲ ( ۲۰۱۵ ) : ۲۱ – ۷۴.

۷۸ په ۲۰۱۵ کال کې د دغې څېړنې د خپریدو پرمهال د اساسي څېړنې ډلې لا هم د دوهمې تعقیبي سروې معلموات را ټولول . دلته د دوهمې تعقیبي سروې پایلې په پام کې نه دي نیول شوي.

# ۲. د څېړنې اړوندې پوښتنې

## ۲.۱ د شورا او حکومتولۍ په پوهاوي کې خلاګانې

دا برخه د شورا په اړه هغه نظرونه او څېړنې خلاصه کوي چې ښيي شورا د سيمه ييزه پرمختيا لپاره د يوې لومړنۍ وسيلې په توګه کاروي، خو دا چې دغه شورا د سيمه ييزه حکومتولۍ دندې لږ او که ډيرې ترسره کولی شي په دې اړه د نظر خاوندانو ځينې پوښتنې مطرح کړې دي. ځينو آن شورا موازي جوړښت بللی او داسې انګيرې چې ګواکې شورا د دولت مشروعيت تر اغيز لاندې راولي. د دې پروژې لپاره يو مرکه کړل شوی کس هم دا فکر نه کوي چې شورا ښايي د سيمه ييزه خلکو او دولت ترمنځ د راکړې ورکړې ښه بدله کړي ، خو دا په داسې حال کې ده چې ځيني پرمختيايي پروژې لکه ملي پيوستون پروګرام د همدې مقصد لپاره جوړ شوی دی. تر دې ځايه د علمي ميتودونو له مخې ترسره شوې کره څيړنې د شورا په اړه اندېښنې ردوي او ښيي چې د سيمه ييزه پرمختيايي شورا د کار په پايله کې د سيمه ييزه حکومتولۍ پايلې ښې شوې او د ديموکراتيکو پروسيجرونو منل هم زيات شوي دي.

خو دغه مثبتې پايلې له يوه خبرداري سره ملې دي: بيت او ملګري يې اټکل کوي چې ډير هغه مثبت بدلونونه چې را ښکاره شوي دي لنډ مهال دي، او د پروژو له پای ته رسيدو وروسته په چټکۍ سره کمزوري کيږي. ( د ملي پيوستون د لومړي پړاو څخه وروسته).[79] د لوړې کچې شورا په اړه د کولر او د هغه د ملګرو د منځي پړاو شننه ښيي چې د ولسوالي د دادارې له خوا د همکارۍ په صورت کې د ولسوالۍ پرمختيايي اسامبلې ځيني مثبت اغيزې لرلې دي.[80] په هر حال د منځني پړاو د دې شننې په نظر کې نيولو سره چې پروژې يې له يو نيم تر پنځو کلونو پورې وخت اخلي ، دا بيله خبره ده چې وواېو چې د حکومتولۍ د ښه والي اړوند پايلې چې پرمختيايي اسامبلې ته يې لاس ورکړی همداسې دوام وکړي : دوی به لا پياوړې او که به له منځه ولاړې شي لکه بيت او د هغه ملګري يې چې د ځينو سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانو په اړه اټکل کړی.[81]

همدا اوس د شورا او حکومتي ادارو د لاسته راوړنو په اړه زموږ په پوهاوي کې خلاګانې شته. لومړی دا چې پر حکومتولۍ د سيمه ييزه پرمختيايي شورا د اغيز ارزونې ښيي چې دغه اغيز په ۲۰۱۱ کال کې د ملي پيوستون د پروګرام له لومړي پړاو له پلي کولو وروسته په سروې شويو کليو کې په ټيټه درېدلی. د ولسوالۍ د پرمختيايي اسامبلې په اړه تازه خپرونې د ۲۰۱۲ کال پر معلوماتو تکيه کوي.[82]وس پوښتنه داده چې د ملي پيوستون لپاره د نورې بودجې منظورول او نوې ټاکنې به د شورا پر بنسټيزه کولو او د حکومتولۍ په پياوړتيا لا ډير اغيز وکړي؟ بله خلا د شورا د مجموعي ارزونې په اړه ده. د ذکر شوې څېړنې پايلې د سيمه ييزه پرمختيايي شورا او يا د ولسوالۍ د پرمختيايي اسامبلې پورې تړاو لري ، خو په ټوله کې يې په خپله شورا له پام غورځولې ده. دغه راز تر اوسه د څېړنو خپرو شويو پايلو د حکومتوالۍ چارې په پام کې نه دي نيولي لکه عامه خدمات ، د شخړو هوارول او اداري فساد.

وروستی دا چې هيڅ يوې څېړنې دا نه ده ارزولې چې د حکومتولۍ اړونده تر لاسه شوې پايلې کوم حالت پورې اړه لري ( لکه لرې والی او امنيتي وضعيت). د کولر او د هغه د ملګرو پورته ذکر شوې څېړنه د حکومتولۍ شپږ برخې مشخصوي ، هغه برخې چې په بيلابيلو بڼو او کچه په کې د بيلابيلو کسانو له خوا حکومتولۍ چلول شوې ده.[83] لکه په دغو برخو کې اساسي حکومت چلوونکي ښايي دولت ، جهادي قوماندانان يا ښايي وسله وال وي ، او يا ښايي دغه سيمه په خپله د خلکو له خوا اداره کيږي او يا ښايي د حکومت او وسله والو ترمنځ د سيالۍ ډګر وي. تر ټولو مهمه دا چې د حکومت چلولو دغه برخې بيلابيلو ( د مشخصې احصائيې له مخې ) پايلو سره تړاو لري البته د حکومتولۍ د باورې شاخصونو مربوط پايلې، په داسې توګه چې په ملي کچه د مشخصو شرايطو سره سم له مخ په زياتيدونکي مداخلې سره ځان عيار کړي.[84]

---

۷۹ بيت او ملګري يې (( د ملي پيوستون پروګرام.))

۸۰ کولر او ملګري يې (( د د مختلط ميتود له مخې د اغيز ارزونه

۸۱ بيت او ملګري يې (( د ملي پيوستون پروګرام.))

۸۲ کولر او ملګري يې (( د د مختلط ميتود له مخې د اغيز ارزونه ))

۸۳ جان کويلر (( د مراتبو د سلسلې په سيورې کې ټولنيز نظام : په افغانستان کې د حکومتولۍ بيلګې )) څېړنه ۳۳، SFB ۲۰۱۲ )) -http://www.sfb governance.de/publikationen/working_papers/wp۳۳ index.html (accessed ۳۱ May ۲۰۱۲); ، جان کويلر, کريستوف ګوسزتوني او جان بيونکي (( په افغانستان کې شخړه او ټيکاو : ميتوديک نهج يا روش )) پريزنټيشن ، تاوتريخوالی ، نشه يي توکي او حکومتولي : د مکسيکو امنيت په پرتله ييزه اړيکو کې ، سټنفورډ ۴ اکتوبر ۲۰۱۱)) ، http://fsi.stanford.edu/sites/default/files/evnts/media//۲۰۱۳۰۵۱۳_StabilityConflict_Final_FINAL_Koehler_Gosztonyi_Boehnke.pdf (accessed ۵ January ۲۰۱۲).

۸۴ کولر او ملګري يې ((په افغانستان کې شخړه او ټيکاو ))

د سیمه ییزه شرایطو له مخې د پرمختیا په برخه کې له مداخلو سره ځان بلدول د فعالینو ترمنځ څېړل شوې او د پروژو په ډیزاین کې په پام کې نیول شوي دي.[85] خو د دغه ډول پروژو مخ بیلګې جوړول او هغه شواهد چې له مخې یې قرینې سره سم پروګرام جوړیدای شي روښانه نه دي.

## ۲.۲ د تشو ډکول

په لاندې متن کې به هڅه وکړو چې په دې اړه د پوهاوي په برخه کې شته تشه وڅیړو چې څه ډول شورا د حکومتولۍ له پایلو سره تړاو لري. د دغې تشې په څېړلو سره هیله لرو چې په دې اړه یو واضح تصویر وړاندې کړو چې د افغانستان په کلیوالو سیمو کې شورا څه ډول د حکومتولۍ او خدماتو په وړاندې کولو کې مرسته کوي. موږ دلته د مشخصو تشو په اړه په درې زاویو بحث کوو ، چې زموږ د څېړنې لاندې پوښتنې یې خلاصه کوي.

- آیا د سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو ښه فعالیت د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ له ښه درک سره تړاو لري.؟
- آیا د شورا د درې پوړونو ( سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې ، د کلستر پرمختیایي شورا او د ولسوالۍ پرمختیایي اسامبله) ترمنځ ښه همغږي د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ له ښه درک سره تړاو لري؟
- آیا د حکومتولۍ اړونده ترلاسه شوې کومه یوه پایله د شورا په اړه شته چې کلستر یې اغیزمن کړي وي ( مشخص شرایط ) او آیا دا په مختلفو شرایطو کې رامنځته کیږي؟

## ۲.۳ شمېرنې او چلنلار

موږ د همدغو پوښتنو په اړه په ۲۰۱۴- ۱۵ کلونو کې د افغانستان په شمال ختیځ کې د ترسره شوې سروې د معلوماتو په رڼا کې څېړنه کوو. دغه څېړنه جان کویلر او کرستوف ګوسزتوني د یادې شوې سیمې د ۲۵ ولسوالیو په ۲۵۳ کلیوالو سیمو کې ترسره کړې ده. [86] په سروې کې له څه باندې پنځه زره کسانو د نفوس ، سیاست ، حکومتولۍ او تاریخي معلوماتو په برخو کې د سروې شویو کلیو ، د کلي د کلسترونو او ولسوالیو په اړه پوښتنې او دغه راز د کیفیت پر بنسټ لوبې مرکې دي شوې.

موږ د څېړنې پوښتنې لومړی د احصائیو پربنسټ څېړلي او بیا دا چې پوښتل شوي کسان څنګه د کلي او ولسوالۍ په کچه ارزول شوي دي. وروسته بیا د تجزیې پر بنسټ شننه شوې چې معلومه شي چې آیا د شورا مشخص ترکیبي اجزاء له نسبي ښو او یا بدو پایلو سره تړاو لري، دغه راز د سروې له هغه اوسط سره پرتله شوي چې په تشریحي احصائیه کې راغلی دی. په ځانګړې توګه موږ وغوښتل چې د حکومتولۍ پر برداشتونو د سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو د فعالیت اغیز او د شورا په لوړه کچه کې د هغوی د ادغام په اړه معلومات تر لاسه کړو.

د څېړنې د وروستۍ د پوښتنې په اړه – د شرایطو حساسه چلند لاره – موږ په سروې کې د شاملو ۲۵ ولسوالیو لپاره د ټاکلو معیارونو ( لکه امینتي وضعیت ، د جغرافیې له پلوه لرې والی ، د ژوند چاپیریال زونونه ) پر بنسټ فرعي برخې رامنځته کړې او بله دا چې دا معلومه شي چې د شورا ذکر شوې برخې ( د سیمه ییزه پرامختیایي شورا فعالیت او په چارو کې دخیل کیدل ) په بیلابیلو فرعي ځانګو کې بیلابیلې پایلې رامنځته کوي.

۸۵ د مثال په توګه (( په بیړنیو حالاتو کې د ځواب ویلو او ښه والي په برخه کې د جي آی زیډ پروژه)) د نړیوالې همکارۍ لپاره د جرمني ټولنه ، ۲۰۱۴ ، ۳۱ en-factsheet- overview-infrastr-emerg-resp.pdf (accessed-https://www.giz.de/nothilfe/de/downloads/giz۲۰۱۴ May ۲۰۱۷).


۸۶ د DFG له خوا د مرستې شوې C۹ SFB۷۰۰ څخه د دغې پروژې د ملاتړ له امله مننه کوو؛ دغه سروې د افغانستان د بشري حقونو څېړنې او ملاتړ سازمان (AHRRAO) ، د لیکوالانو تر نظر لاندې.

# ۷. عملي پايلې

## ۷.۱ تشريحي احصائيې

په دې برخه کې موږ په لنډه توګه د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ د برداشت په اړه خبرې کوو. لکه څنګه چې په لاندني دويم شکل کې ښودل شوی د افغانستان په شمال ختيځ کې د کلي په کچه حکومتولۍ - لکه چې د کليوالو سيمو پوښتل شويو کسانو ويلي – په عمومي توګه ښه ده. لکه چې په لومړي شکل کې وليدل شول په دغې سيمه کې، سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانو په اساسي توګه د کلي په کچه حکومتولۍ رامنځته کړې ده. پر دې اساس ۷۲٪ سلنه پوښتل شويو کسانو ويلي چې د سيمه ييزه پرمختيايي شورا مشر د کلي په کچه تر ټولو پياوړی شخص دی، [87] په داسې حال کې چې ۷۲٪ سلنه پوښتل شويو کسانو باور ښودلی چې د سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانو پريکړې د ځو قدرتمندو ښکيلو کسانو په ګټه نه بلکې د خلکو په ګټه وې. او وروستی دا چې د ښځو په هواري کې د سيمه ييزه پرمختيايي شورا رول هم نسبتا مثبت ارزول شوی دی: ۳۳٪ او ۳۲٪ پوښتل شويو کسانو باور ښکند کړی چې په دوامداره توګه سيمه ييزه پرمختيايي شورا ، تل او يا په اکثره وختونو کې شخړې په عادلانه توګه هوارې کړې دي. په کلي تر ټولو پياوړی شخص


**۲ شکل: د کلي په کچه د حکومتولۍ برداشت**




د ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ د برداشت پايلې ډيرې مثبتې نه دي ( دريم شکل ). د شخړو د هواري لپاره د ولسوالۍ پريکړې د سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانو د پريکړو پر تله لږ عادلانه بلل شوي، په ولسوالۍ کې د ښوونځي زده کړې تر ډيرو نيوکو لاندې راغلي او د خلکو اړتياوو ته د ولسوالۍ د ځواب ويلو کچه ټيټه ښودل شوې ده . د دولتي جوړښت له نظره ، يواځينۍ مثبته پايله چې د پوښتل شويو کسانو له ځوابونو په ولسوالۍ کې د ډير واکدار شخص په اړه راوتلې: ۵۹٪ کسان په دې باور دي چې ولسوال تر ټولو واکدار شخص دی. د ځو کلونو په اوږدو کې د هغو کسانو شمير مخ په ډيريدو ده چې باور لري چې ولسوال تر ټولو واکدار شخص دی، هغه واقعيت چې د تاوتريخجن بغاوت سره ، سره ښيي چې په ولسواليو کې د دولت واکداري شته.

[87] بايد وويل شي چې په پورته لومړي شکل کې د ښودل شوې سروې عنوان له بلې څېړنې اخستل شوی او د افغانستان په شمال ختيځ کې د دې سروې لپاره د ټاکل شويو **۲۵** ولسواليو يوه برخه نورې ولسوالۍ دي.

**۳ شکل: د ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ برداشتونه**





## ۷.۲ پر حکومتولۍ د شورا د جوړښت د اغېز کړن اړخيزه تړاوي شننه

په دې برخه کې د تړاوي شننې د ميتود په کارولو سره دا څېړو چې ښايي ډېرې فعالې او ښکيلې سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانې د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ پر برداشتونو اغيز وکړي. زموږ د څېړنې د اړونده سوالونو په تړاو دا تحليل دوه هدفونه لري. لومړی موږ غواړو په دې اړه څېړنه وکړو چې د مشخصې احصائيې له مخې د شورا د کيفيت او د حکومتولۍ په اړه د برداشتونو ترمنځ اړيکې شته؟ البته دا د هغو عواملو له کنټروله وروسته چې دغه برداشتونه اغيزمنوي. دويم دا چې زموږ تحليل بايد د شورا د اجزاوو او د حکومتولۍ د برداشتونو ترمنځ د احصائيوي مشخصو اړيکو موجوديت کره کړي، موږ د دغه ډول اړيکو د پياوړتيا او لورې د موندلو په لټه کې يو.


زموږ د څېړنې د موخو له مخې زموږ د regression يا .... دوه ټولګې موډيلونه وضع شوي دي. د regression لومړی موډيلونو لومړۍ ټولګه د سروې شويو سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانو وظيفوي فعاليت ته پام کوي، ځکه دا يې اساسي هدف دی ( خپلواک متحول independent variable ) او په دې اړه څېړنه وکړو چې متحول فکتور د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ پر برداشتونو څه ډول اغيز کوي – زموږ نامستقل متحول فکتور ( ۴ او ۵ شکل ) . د regression موډيل دوه نور مستقل متحول فکټورونه کنټرولي – د سميه ييزه پرمختيايي شورا تکراري ټاکنې او د ملي پيوستون پروګرام د دويم پړاو لپاره د مالي لګښت برابرول، دغه راز يو زيات شمېر دخيلوونکي متحول فکټورونه .

**۴ شکل: د سیمه ییزه پرمختیایي شورا CDC د فعالیت او د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ د برداشتونو ترمنځ د اړیکو د اغیزد څېړنې موډل دغه موډل دوه اساسي خپلواک متحول فکتورونه– د سیمه ییزه پرمختیایي شورا لپاره بیا ټاکنې او د ملي پیوستون پروګرام NSP د دویم پړاو لپاره د مالي سرچینو برابرول– ځاري موډل دغه راز د تیورۍ له پلوه اړوند یو شمیر نور متحول فکتورونه هم رانغاړي**




د regression دویم موډل په ورته توګه ترسره کیږي، خو دا یو خپلواک متحول فکټور دی چې په ټوله کې د شورا پوړې تړاو لري. (شکل ۵) یو ځل بیا د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ برداشتونه څېړو او دا چې دغه برداشتونه د شورا د دندې اجرا کولو په تړاو څنګه بدلیږي.

**۵ شکل: د اغېز موډل د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ د برداشتونو او د شورا د تکامل (د شورا د فعالیت شاخص ) ترمنځ اړیکي څیړي دغه موډل د ټولو اړخونو په پام کې نیولو سره کټ مټ د لومړي موډل په څیر دی، البته زموږ د اساسي شاخص په استثنی ( د شورا تکامل ) دغه توپیر د رنګونو په بدلولو روښانه کوو.**




په لاندې توګه ادامه ورکوو، لومړی: غواړو روښانه کړو چې زموږ خپلواک متحول فکتور لکه د حکومتولۍ برداشتونه چې زموږ پر فرضیو بنا دي، باید د شورا د ښه او یا کمزوري فعالیت څخه اغیزمن شي. وروسته نامستقل متحول فکتورونه چې د شورا بیلوونکو نښو ( د شورا فعالیت او ښکیلتیا ) پورې تړاو لري، شرح کوو. لکه چې مخکې وویل شول تمه لرو چې دغه خپلواک متحول فکتورونه د نا مستقلو متحولو فکتورونو ( د حکومتولۍ برداشتونه ) وراندوینه وکړي. له دې وروسته د خپلواکو او نا مستقلو متحولو فکتورونو په اړه بحث کیږي، موږ په تړاوي بڼه شننه کوو. د کنټرولوونکو متحولو فکتورونو تفصیل او دا چې خپلواک، نا مستقل او د کنټرول متحول فکتورونه څنګه رامنځته شوي دي په لومړی ضمیمه کې کتلی شئ.

## ناخپلواک متحولونه

په ټوله کې اوه شاخصونه ( چې د کمي سروې له پوښتنو اخستل شوي دي ) ټاکل شوي چې د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ ارزونه وکړي. دغه اوه شاخصونه نامستقل متحول فکټورونه دي، چې درې يې د کلي په کچه دي.

- په کلي کې تر ټولو پياوړی کسان: د سيمه ييزه پرمختيايي شورا مشر په کلي کې تر ټولو پياوړی کس ښودل شوی، او دا فکټ د دولتي واک د ټينګښت د يوه شاخص په توګه په پام کې نيول کيږي.
- د شورا پريکړې د خلکو په ګټه دي: دغه متحول فکټور ښيي چې سيمه ييزه پرمختيايي شورا د کلي د نورو پياړو ګټو ساتونکو پر ځای تر کومه حده د خلکو د ګټو استازيتوب کوي.
- په رڼه بڼه د سيمه ييزې شورا له خوا د شخړو هوارول: د سيمه ييزې شورا له خوا د شخړو په هواري د عدالت په پام کې نيول د دغو شوراګانو د وظيفوي مسؤوليت مهمه برخه ده او د دې لپاره د شورا غړي روزل شوي هم دي، نو له همدې ځايه ده چې دغه شاخص د حکومتولۍ هغه دنده په ګوته کوي چې د ځايي ټيکاو لپاره بنسټيز رول لري.

د ولسوالۍ په کچه څلور شاخصونه ( نامستقل متحول فکټورونه ) دي چې حکومتولۍ ښيي:

- په ولسوالۍ کې تر ټولو پياوړی شخص: د ولسوالۍ په کچه د پياوړي شخص په توګه د ولسوال يا امنيه قوماندان لپاره ګډ شاخص؛ ولسوال او امنيه قوماندان په ولسوالۍ کې د حکومت تر ټولو لوړ مهم استازي دي. له همدې ځايه ده چې موږ دغه واقعيت د دولتي واک د ټينګښت لپاره يو شخاص بولو.
- د شخړې په هواري کې د روڼتيا مفهموم: د يوې پوښتنې پر بناء سروې کې د ولسوالۍ په کچه ۲۱ بيلابيل ښکيل بنسټونه لست کړل شوي دي (د يوې پوښتنې ترڅنګ ، ، نور ، ، يو بل انتخاب و ) له پوښتل شويو کسانو پوښتنه شوې چې په دغه بنسټونو کې کوم يو د شخړې په هواري کې د يوه عادل منځګړي په توګه ورته ښکاري. د پټو ډلو شننه د هغو ۱۱ بنسټونو او ادارو په اړه چې ډېر اړونده دي ، ددې لپاره کارول شوی و چې د پوښتل شويو کسانو د ځوابونو څرنګوالی معلوم شي.[۸۸] د LCA دريم ګروپ د تړاوي ميتود له مخې د تحليل لپاره غوره شوی و ، له هغه ځايه چې د ۳ ګروپ غړي ( چې د ټاکل شوي بيلګې ۲۳٪ و ) په عمومي توګه د کلي په کچه او د حکومت له خوا د شخړو د هواري د اکثرو لارو چارو په اړه مثبت نظر درلود نو د تړاوي ميتود له مخې د شننې ياتحليل لپاره غوره شوي و ، نو همدا وو چې د خپل لاسي / مصنوعي متحول فکټور په بڼه رامنځته شو, ۱ د ګروپ د غړو لپاره او صفر د نورو لپاره.
- د خلکو غوښتنو ته د ادارې د ځواب ويلو په اړه د پوښتل شويو کسانو برداشت: دې پوښتنې ته چې آيا ولسوال د کلي ستونزو ته پام کوي ؟ په سروې د پوښتل شويو کسانو ځوابونه د دولت د مشروعيت د يوه شاخص په توګه ګڼل شوي.
- د روغتيايي خدماتو او تعليم کيفيت ( ترکيبي شاخص) : دا شاخص د روغتيا او تعليم د ارزونې په اړه پوښتنې را نغاړي دا دواړه برخې د دولت له خوا د عامه خدماتو اساسي برخې دي. دغو دواړو برخو ته موږ د دولت په د مشروعيت په برخه کې د يوه کره او مشخص شاخص په سترګه ګورو. ( روغتيا او تعليم ته ځکه ارزښت ورکول کيږي چې دا دواړه هغه اساسي خدمات دي چې دولت يې مسؤول دی)

---

۸۸ LCA د احصائيې يو ميتود دی چې د ټولنې د هغو ډلو د پېژندلو لپاره کارول کيږي چې ښکاره نه دي، البته د ليدل شويو متحولو فکټورونو يا چلند په کارولو سره. د مثال په توګه : د څېړنې لپاره غوره شوي بيلګه په بيلابيلو برخو يا ډلو ويشو ، ځواب ورکوونکي د ۱۱ بيلابيلو عناصرو ( لکه مشران ، سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانې ، ولسوال، قاضيان ، طالبان) له خوا د شخړو د هوارولو په برخه کې ددوی د قناعت له مخې ويشل کيږي. د دوی قناعت د دغو عناصرو په پريکړو کې د روڼتيا له ارزونې معلوم شو. د ارزونې لپاره دغه انتخابونه وړاندې شوي و چې دوی ( تل ، اکثرا ، کله کله، ډير لږ ، هيڅکله هم نه) په عادلانه توګه پريکړې کړې دي. په دې مثال کې LCA اوه بيلابيلې طبقې يا classes وړاندې کوي د مثال په توګه يو ګروپ (Class ۵) د سيمې په کچه د شخړو د هواري پر څرنګوالي يو ډول نيوکې درلودلې او د دولت د شخړو د هواري پر څرنګوالي يې ډيرې زياتې نيوکې کولې. دوهم ګروپ ( Class ۲) په سيمه ييزه کچه د شخړو هوارول منل، خو نه يې غوښتل چې د حکومت له خوا د شخړو د هواري په اړه نظر ولري. ( ځواب يې داو (( نه پوهيږو )) ) دريم ګروپ ( Class ۳ ) په سيمه ييزه کچه د شخړو د هواري په اړه مثبت نظر درلود او د دولت له خوا د شخړو هواری يې منلو (( په سيمه ييزه کچه د شخړو هواري ته يې ميلان درلود )). LCA موږ ته دا امکان برابروي چې په ټوله کې د غوره شوي بيلګې په منځ کې د مشخصې طبقې خلکو د شومره والي په اړه معلومات تر لاسه کړو او هغه داسې چې هر ځواب ويونکی د يوې طبقې / پوړ پورې تړاو لري. زموږ په دې غوره شوې بلګه کې چې د LCA له خوا وړاندې شويو ګروپونو له ډلې څخه دريم ګروپ دويم لوی ګروپ و چې ۱۲۲۹ کسان په کې شامل و پنځم ګروپ دريم لوی ګروپ و چې ۸۲۰ کسان په کې شامل و ، شپږم ګروپ پنځم لوی ګروپ و چې ۵۷۳ کسان په کې شامل و. LCA د مشخصو اړونده ګروپونو د پيژندلو په موخه د پيچلو رويه لرونکو بيلګو د څېړلو لپاره (( د سروې د پوښتنو پر بنسټ )) کارول کيږي. د LCA ميتود په اړه د لا ډير تفصيل لپاره د Z,rcher et al " په افغانستان کې د ستراتيژيکو پروژو بيا کتنه " ۲۹

**خپلواک متحولونه:**
موږ د لاندنیو تشریحي / مستقلو متحولونو له لارې چې د تیوریکي اړتیاوو له مخې د اغیز په موډیل کې راغلي د ټولو بیلابیلو نامستقلو متحولونو لپاره موډیلونه مشخص کوو چې په ( ۴ او ۵ شکلونو ) کې یې کتلای شئ. د دې څېړنې په لومړنۍ اساسي برخه کې یواځې څلور هغه مهم مستقل متحولونه تشریح کوو چې د حکومتولۍ برداشتونه اغیزمنوي ، هغه برداشتونه چې موږ غواړو پرې پوه شو. ( په ۱ ضمیمه کې د کنټرلوونکو متحولونو تفصیلي لست وګورئ) په لاندینۍ برخه کې دغه متحولونه او دا چې ولې یې مستقل بولو شرحه کوو.

د سیمه ییزې پرمختیایي شورا فعالیت: د تحلیل پیل له سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو کوو  چې اساسي، تر ټولو مخکنۍ او د شورا تر ټولو کاري برخه ده. په پرمختیایي برخو کې له دندو سربیره دغو شوراګانو ته په جوته توګه د کلي په کچه د حکومتولۍ دندې هم ورکړل شوي دی.[89] دغه راز سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو په مخ په زیاتیدونکي توګه د خپلې ټولنې د استازیتوب دنده هم ترلاسه کړې ده، او په لویه کچه د شورا د یوې برخې په توګه له دولتي ارګانونو سره د ارتباط یوه وسیله هم ګرځیدلې ده . په ټوله کې له نورې نړۍ سره او په خاصه توګه د ولسوالۍ په کچه دغه ډول اړیکې دا په ډاګه کوي چې د ټولنې له نقطې نظره سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې درې ممکنه دندې ترسره کوي، دا وسیله ښایي د ټولنې د اړتیاو او په ټولنه کې د تیریو په اړه معلومات ولسوالۍ ته ورسوي ، په پایله کې دا تعامل د ولسوالۍ په کچه د دولتي واکمنۍ پر څرنګوالي اغیز کوي، او یا لږ تر لږه په دې برخه کې برداشتونه اغیزمنوي، دغه لارې چارې ښایي کلیوالو ته د نږدې کیدو په برخه کې ښه یا بد اغېز ولري او په پایله کې ښایي کلیوالو ته د دولت مفهوم واضح او یا د خلکو او دولت ترمنځ منځګړیتبو وکړي.

د دې لپاره چې پوه شو چې سیمه ییزې پرمختیایي شوراګانې د ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ برداشت څه ډول اغیزمنوي ، لومړی مو د ټولو سروې شویو پرمختیایی شوراګانو خبرې را اخستې دي: (۱) فعالې سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې چې په مخ په زیاتیدونکي توګه اغیزناکې دي، (۲) د فعالیت له پلوه منځنۍ شوراګانې چې اغیزمنتیا یې بدلون نه مومي، (۳) تر یوه حده فعالې او یا بې کاره چې اغیزمنتیا یې کمیږي. موږ سروې شوې سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو ته د دغو شوراګانو د پوښتل شویو استازو د ارزونې له مخې کوډونه ورکړي چې د کلي پروفایل یا ځانګړتیاوې یې بولي. د کلي پېژندلیکونه له هغو کیفي اوږدو مرکو څخه عبارت دي چې د ټولو سروې شویو کلیو له استازو سره شوي دي او د دیموګرافي ، اقتصادي ، ښوونیز ، له دولت سره اړیکې ، امنیت او په شورا کې د دوی د استازو د ادغام په برخو کې معلومات رانغاړي.

د سیمه ییزه شورا ګانو د فعالیت له مخې د دغو شوراګانو د کټګورۍ پر بنسټ، مو د دې معلومولو لپاره چې په کلیو کې د ښې ( ډیرې فعالې ) یا بدې ( لږ فعالې یا بیکاره  ) سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې د حکومتولۍ پر برداشت په بیلابیل ډول اغیز کوي او کنه درې فرعي سروې ګانې وکړې. لومړی مو د کلي په کچه د حکومتولۍ برداشتونه په پام کې ونیول او بیا مو د ولسوالۍ په کچه دغه موضوع وڅېړله. عمومي تمه مو دا وه چې په سیمه ییزه کچه ډیر فعال او کاري بنسټ ( سیمه ییزه پرمختیایي شورا  ) به د سیمه ییزه حکومتولۍ په اړه تر ټولو ښه برداشتونه وړاندې کړي.

د شورا  د فعالیت شاخص: تر اوسه موږ دا موضوع څېړله چې فعالي او کاري سیمه ییزه پرمختیایی شوراګانې څنګه کیدای شي چې د کلي او ولسوالۍ په کچه د دولت په ګټه د حکومتولۍ په اړه ګټور اغیز ولري. خو د شورا نورې برخې ( د کلستر په کچه پرمختیایي شوراګانې او د ولسوالۍ پرمختیایي شوراګانې ) د حکومتولۍ پر برداشت څنګه اغیز کوي؟ د دې موضوع د څېړلو لپاره، موږ د لوړې کچې له شورا سره د همکارۍ په برخه کې د سروې شوې سیمه ییزه پرمختیایي شورا د غړو څرګندونې  را اخستې دي. د کلستر په کچه د سیمه ییزه پرمختیایي شورا او د سیمه ییزه پرمختیایي شورا ترمنځ تړاو د سیمه ییزه پرمختیایي شورا د خپلې ارزونې له مخې په لاندې توګه ځانګړې کړې دي: (۱) د کلستر په کچه د سیمه ییزه پرمختیایي شورا په چارو کې په منظمه توګه برخه اخستل، ( ۲ ) کله ، کله او یا په ځینو مناسبتونو کې برخه اخستل، (۳) برخه نه اخستل او همکاري نه کول. د ولسوالۍ د پرمختیایي شورا سره تړاو  د دغې شورا د کار په اړه د سیمه ییزه پرمختیایي شورا د خپل اعتراف یا پوهاوي له مخې په لاندې توګه ځانګړې شوي دی: (۱) د ولسوالۍ د پرمختیایي شورا د کار په اړه بشپړ پوهاوی،(۲) جزءي پوهاوی، (۳) د پوهاوي نشتوالی. د کلستر په کچه د پرمختیایي شورا په کار کې بشپړه برخه اخستل او د ولسوالۍ د پرمختیایي شورا د کار په اړه بشپړ پوهاوی د سیمه ییزه پرمختیایي د ښه ادغام په معنی دی، په داسې حال کې چې د کلستر له سیمه ییزې پرمختیایي شورا سره نه همکاري او د ولسوالۍ د پرمختیایي شورا د کار په اړه نه پوهیدل دا معنی لري چې ګواکې سیمه ییزه پرمختیایي شورا په ټوله کې د شورا په جوړښت کې ښه نه ده مدغم شوې.

89 د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت (( د ملي پیوستون پروګرام دریم فیز ))

په ټوله کې د کلي په کچه د حکومتولۍ د کيفيت او د شورا د سيستم ترمنځ د اړيکو پر څرنګوالي پوهيدلو لپاره ، د سروې شويو سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانو له نقطې نظره موږ يو متحول رامنځته کړ چې د شورا د درې کچو ترمنځ د همکارۍ د کيفيت انځور وړاندې کوي. د فکټوري تحليل په کارولو سره مو درې بُعدونه په يوه شاخص کې سره يو ځای کړي چې د شورا فعاليت اندازه کړي، د دې ترڅنګه په ټوله کې د شورا د فعاليت د اندازه کولو نور لسګونه واحدونه شته دي.

هغه سيمه ييزه پرمختيايي شورا چې دويم ځل ټاکنې يې کړي دي: د سيمه ييزه پرمختيايي شورا ټاکنې او د ملي پيوستون پړاوونه چې د دغو شوراګانو له خوا عملي شوي دي. د سيمه ييزه پرمختيايي شورا ټاکنې د شورا اساسي برخه ده. د سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانو ماموريت له سري ټاکنو سرچينه اخلي چې ښځې او نارينه چې عمرونه يې له اتلسو کلونو پورته وي په کې برخه اخلي. نوې ټاکنې سيمه ييزه ټولنو ته دا امکان برابروي چې د سيمه ييزه پرمختيايي شورا لپاره وړتيا لرونکي ، مخلص او هڅاند غړي بيا وټاکي او يا دا چې د غير فعالو غړو پر ځای نوي کسان وټاکي. د سيمه ييزه پرمختيايي شورا د استازيتوب له نقطې نظره ټاکنې مهمې دي، دا ځکه چې ټاکنې کولی شي دوی ته نوی ماموريت ورکړي او يا دا چې هغو کسانو ته چې له دندې ستړې شوي دا چانس ورکوي چې دنده يې بل څوک په غاړه واخلي. له همدې ځايه ده چې ټاکنې دا واقعيت روښانه کوي چې په سيمه ييزه پرمختيايي شورا کې واک مطلق نه دی. د ټاکنو بيا تر سره کول ښايي له هغه څه چې Faguet او Pschl يې ټولنيزه زده کړه بولي، هم ګټه واخلي چې له ټوليز پوهاوي ، نورمونو ، عملي کارونو او د رايه ورکوونکو له باور څخه عبارت دي.[۹۰] ټولنيزې زده کړې يعنې هغه څخه چې په ديموکراتيکو بهيرونو کې له برخې اخستو يې زده کوو، هغه زده کړې چې په ټيټه کچه له وړو سياسي فعاليتونو سرچينه اخلي. د مثال په توګه ، د سيمه ييزه پرمختيايي شورا په فعاليتونو کې برخې اخستلو له لارې کليوال کولی شي د هغو کسانو په اړه دقيق پوهاوی تر لاسه کړي چې د دغې شورا دندې په ښه توګه تر سره کولی شي.

د همدې لپاره موږ فرض کوو چې د سيمه ييزه پرمختيايي شورا لپاره څو ځله ټاکنې د دغو شوراګانو د ښه فعاليت لپاره بنسټيز فکټور دی او د حکومتولۍ په برخه کې ښې پايلې لرلای شي، ( او په پايله کې د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ په اړه لا ډير مثبت برداشتونه رامنځته کوي). د نهو ولسواليو له **۲۴۲** سروې شويو کليو څخه ۳۰ يې ( د بيلګې ۱۲.۲٪ ) د سيمه ييز پرمختيايي شورا دويم ځل ټاکنې نه وې کړې.[۹۱] کولی شو دا پرتله کړو چې په هغو ټولنو کې چې د سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانو يو يا څو ځله ټاکنې يې کړې دي، د حکومتولۍ برداشت څومره توپير لري. له همدې امله ده چې د هغو کليو سروې پايلې مو کارولي چې يو يا دوه ځل يې ټاکنې کړې دي. په راتلونکې برخه کې د کلي او ولسوالۍ په کچه په دوه فرعي ټولنو کې د حکومتولۍ د برداشتونو پرتله کوو.

د ملي پيوستون دويمه بوديجه: له هغه ځايه چې د سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانو اصلي دنده د ملي پيوستون پروګرام د پرمختيايي پروژو عملي کول دي، غواړو پوه شو چې د دغه پروګرام په څو پړاوونو کې برخه اخستل او د دغه پروګرام د پروژو عملي کول د حکومتولۍ پر برداشتونو اغيز لرلی. واقعيت دادی چې د سيمه ييزه پرمختيايي شورا له خوا د ملي پيوستون پروګرام د پروژو عملي د ټولنې په وړاندې د دغې شورا مشروعيت ښايي لا غښتلې کړي، ( او په پايله کې يې واک هم زياتوي )، د شتون دليل يې وړاندې کوي، او موجوديت يې توجيه کوي. په پايله د سيمه ييزه پرمختيايي شورا وړتيا لوړوي چې وکولی شي د ټولنې د پرمختيا ترڅنګه د حکومتولۍ دنده هم پرمخ بوځي. د سروې شويو ټولنو ارزونه ښيي چې د ملي پيوستون د پروګرام څو پړاوونه ( لکه دوی چې په خپله وايي ) د هغو ټولنو ترمنځ (۱) چې د دغه پروګرام يو پړاو يې عملي کړی ( له **۲۴۲** څخه **۷۲** يې چې **۳۰,۹** ٪ کيږي )[۹۲] او هغه چې دوه يا له دوه زيات پړاوونه يې عملي کړي دي، ۱۷۰( ټولنې، **۱.۲۹** ٪ ) د پرتلې چانس برابروي. بايد وويل شي چې د ملي پيوستون د پروګرام د څو پړاوونو پلي کول او د سيمه ييزه پرمختيايي شورا ټاکنې دواړه يو شان کټګورۍ نه دي.[۹۳]

۹۰ ژن-پال فاګېت او کرولين پوشل، ((آيا نامتمرکزول د پرمختيا لپاره ښه دی؟ )) ( اکسفورډ پوهنتون پريس **۲۰۱۵** ) **۲۷** .

۹۱ هغه ټولنې چې د سيمه ييزه پرمختيايي شورا ټاکنې يې يوازې يو ځل کړې، په خان آباد ، دشت ارچي ، چال ، ينګي قلعه او رستاق ولسواليو يوازې يو ، يو کلی ، د تخار په بهارک کې درې کلي او په کشم کې هم درې ، په مرکزي بغلان کې نهه کلي او په مرکز کندز کې لس کلي و.

۹۲ هغه **۷۲** سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانې چې د ملي پيوستون دويم پړاو يې نه دی عملي کړی له **۲۵** سروې شويو ولسواليو څخه په **۱۲** ولسواليو کې دي.

۹۳ د اصولو له مخې د ملي پيوستون پروګرام د هر نوي پړاو په پيليدو سره بايد د سيمه ييزه پرمختيايي شورا لپاره نوې ټاکنې وشي (م م م په بلخ کې د ملي پيوستون مشر ۳، سپتمبر **۲۰۱۵**) که څه هم د کلي په کچه مرکې ښيي چې داسې په ټولو حالاتو کې نه کيږي. د هغو **۷۲** ټولنو له ډلې چې د ملي پيوستون يوازې يوه بوديجه يا يې هيڅ نه درلوده، **۲۵** يې يو ځل ټاکنې کړې ، په داسې حال کې چې **۵۱** يې دوه ځل ټاکنې کړې وې. امکان لري چې دغه ټولنې به اوس خپلې بودجې ته سترګې په لاره وي. خو د دې برعکس د ۱۷۰ هغو ټولنو له ډلې چې د ملي پيوستون دوه يا زياتې بودجې يې تر لاسه کړې **۱۲۵** يې دوه ځله ټاکنې کړې دي ، په داسې حال کې چې پنځو يې يوازې يو ځل ټاکنې کړې وې.

هغه دوه مستقل متحول فکټورونه چې د هغو سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو پورې تړاو لري چې دویم ځل ټاکنې یې ترسره کړې او هغه چې د ملي پیوستون پروګرام دویم پړاو یې عملي کړی په ځانګړې توګه د هغه وړاندیز په اړه دي چې بیت او ملګرو یې کړی و. د کلیوالو سیمو په کچه د حکومتولۍ په برخه کې په دوامداره توګه ښه والي او هغوعامه توکو او خدمتونو پورې تړاو لري چې د مرکزي حکومت له خوا سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو ته ورکول کیږي. [94]

## د سیمه ییزه پرمختیایي شورا فعالیتونه او د حکومتولۍ لاسته راوړنې. [95]

اوس به د تړاوي میتود له مخې د سیمه ییزه پرمختیایي شورا د فعالیتونو د شننې پایلو ته راشو. آیا د سیمه ییزه پرمختیایي شورا فعالیت او کاري وړتیا د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ برداشتونه پیاوړي کوي؟ لکه چې د اغیز په موډیل کې ښودل شوي دي، د د مستقل متحول فکټور (( د سیمه ییزه پرمختیایي شورا فعالیت )) ترڅنګ دوه نور متحول فکټورونه هم په پام کې نیسو چې له دویم پړاو ټاکنو او د ملي پیوستون له دویمې بودجې پورې تړاو لري. پایلې د درې متحول فکټورونو ترمنځ اړیکې را سپړي او د کلي په کچه د حکومتولۍ برداشتونه په لاندې لومړني ( ۱ ) جدول کې خلاصه شوي دي. په پام کې ولرئ چې دغه جدول یوائې د مشخص شوي موډیل د پایلو یوه برخه ښیي، ټولې پایلې د ځای د کموالي له امله دلته نه دي راوړل شوي.

لکه چې تمه یې کیدله د شورا د فعالیتونو او د ټاکل شوي نوملړ له مخې د کلي په کچه د حکومتولۍ د برداشتونو ترمنځ اړیکې په مشخصه توګه مثبتې وې. د سیمه ییزې پرمختیایي شورا په فعالیت کې د یوې سلنې زیاتوالی د کلي په کچه د ۱۴ سلنې په اندازه د واک له ټېنګیدو سره تړاو لري چې د حکومتولۍ په اړه له ښه برداشته سرچینه اخلي ( په مشخصه توګه ۱٪ په کچه). دا په دې معنی چې فعاله سیمه ییزه پرمختیایي شورا د سیمې په خلکو کې دا ذهنیت پیدا کوي چې د شورا مشر په کلي کې تر ټولو پیاوړی کس دی. سربیره پر دې د سیمه ییزه پرمختیایي شورا په فعالیت کې یو سلنه زیاتوالی ، د دغې شورا له خوا د شخړو په هواري کې د عدالت په پام کې نیولو سره، د مفهوم له شپږ سلنه زیاتوالي او په خلکو د دې باور د څلور سلنه زیاتوالي پورې تړاو لري چې د سیمه ییزه پرمختیایي شورا پریکړې د سیمې د خلکو په ګټه دي، که دا پایلې تر ۵٪ وي نو بیا د پام وړ دي. تر دې ځایه د تړاوي میتود له مخې زموږ شننه د سیمه ییزه فعاله پرمختیایي شوراګانو او د کلي په کچه د حکومتولۍ د برداشتونو د ښه والي ترمنځ فرضي تړاو ثابتوي. دې ته په پام سره چې په تړاوي میتود کې ډیر شمیر ضوابط په پام کې نیول شوي نو موږ ډیر ډاډه یو چې ملاحظه شوې اړیکې په چانسي توګه نه دي رامنځته شوي بلکې د متحولو فکټورونو ترمنځ ریښتینې اړیکې دي.

**۱ جدول: د سیمه ییزه پرمختیایي شورا فعالیت او د کلي په کچه د حکومتولۍ پایلې**

| متحول فکټورونه | لومړی موډیل | دویم موډیل | دریم موډیل |
|---|---|---|---|
| | په کلي کې ډیر پیاوړی کس | د سیمه ییزه پرمختیایي شورا له خوا د شخړو په هواري کې د عدالت برداشت | د شورا پریکړې د خلکو په ګټه دي. |
| د سیمه ییزه پرمختیایي شورا زیاتیدونکی اغیز | ***۰,۱۴۳ | **۰,۰۶۶ | **۰,۰۳۹۶ |
| | (۰,۰۳۰۵) | (۰,۰۲۷۹) | (۰,۰۱۲۴) |
| د ملي پیوستون دویمه بودجه | ۰,۰۲۸۳ | ۰,۰۲۹۳ | ۰,۰۳۰۳- |
| | (۰,۰۸۰۵) | (۰,۰۵۶۳) | (۰,۰۲۱۱) |
| د سیمه ییزه پرمختیایي شورا دویمې ټاکنې | ۰,۰۹۳۵ | *۰,۱۵۰- | ۰,۰۴۴۰ |
| | (۰,۰۹۴۸) | (۰,۰۸۶۴) | (۰,۰۳۲۹) |
| ملاحظات | ۴,۳۸۳ | ۴,۲۷۳ | ۴,۳۸۳ |
| R-squared | ۰,۱۲۹ | ۰,۲۰۷ | |

یادونه: په شننه کې د ۱۵-۲۰۱۴ کلونو د سروې معلومات کارول شوي، لومړی موډیل او دویم موډیل د Regression عادي واړه مربع شکلونه ordinary least squares (OLS) کاروي، دریم موډیل لوژستیکي Regression کاروي (متوسط حاشیوي تاثیرات)، د کلي په کچه یو ځای شوې لویې غلطۍ د قوسونو په منځ کې ***،**،* د ۱٪ ، ۵٪ او ۱۰٪ سلنه په کچه آرزښت ښیي، په ترتیب سره ، ددې متحول لپاره د کټګورۍ پر بنسټ ماخذ "د سیمه ییزه پرمختیایي شورا یو ځل ټاکنې" دی، د دې متحول لپاره د کټګورۍ پر بنسټ ماخذ "د ملي پیوستون یوه بودجه" ده. د میتودولوژي په اړه د نورو معلوماتو لپاره ۲ ضمیمه وګورئ.

۹۴ بیت او ملګري یې (( د ملي پیوستون پروګرام )) ۳۱۲ .

۹۵ بیت او ملګري یې ۲۰۱۵, p.۳۱۲

د دوه نورو خپلواکو متحولو فکټورونو ارزونه، د سیمه ییزه پرمختیایي شورا ټاکنې او د ملي پیوستون پړاوونه، یوازې یوه د پام وړ اړیکه ده ( په ۱۰٪ کچه کې د پام وړ ده ): د سیمه ییزه پرمختیایي شورا دویم ځل ټاکنې ( د یو ځل ټاکنو پرتله ) په رڼه بڼه د سیمه ییزې شورا له خوا د شخړو د هوارولو په برداشت کې د **۱۵**٪ زیاتوالي سره اړیکه کړي. دا نبایي په دې معنی وي چې آن په دقت ترسره شوې ټاکنې، چې له وړاندې د پروژې د پلي کوونکي له خوا د تړلنې د آماده کولو چاره هم تر سره شوي وي او تړلنې یې هم په تنظیم کې برخه اخستې وي، په تړلنه کې یو ډول کشمکش او بیلوالی رامنځته کوي. دا واقعیت چې دغه ډول یوه اړیکه د ملي پیوستون د دویمې بودجې تر لاسه کولو پرمهال نشته. حقیقت دادی چې دا ډول یوه اړیکه د ملي پیوستون د دویمې بودجې په تړاو ونه لیدل شوه ، خو سره له دې دغه کشمشکونه له یوې مودې وروسته کمیږي. تفصیل یې داسې دی چې د ملي پیوستون د پروګرام په لړۍ کې لومړۍ ټاکنې کیږي، خو د نویو پروژو لپاره بودجه په تدریجي سره له ټاکنو یو یا دوه کاله وروسته ، او کله چې تړلنه له نوې پرمختیایي شورا سره د پلي کیدو وړ پروژې معلومې کړي تر لاسه کیږي.

بیرته د ولسوالۍ په کچه د اغیزمنتیاو او فعالې پرمختیایي شورا ترمنځ اړیکو ته راګرځو ( **۲** جدول ) ، په دې برخه کې د احصائیوي ارزښت له مخې اړیکي نه وې. په هر حال ، دوه نور خپلواک متحول فکټورونه – د سیمه ییزه پرمختیایي شورا دویم ځل ټاکنې او د ملي پیوستون دویمه بودجه – یو لړ د پام وړ پایلې په ډاګه کوي. د سیمه ییزه پرمختیایي شورا دویمې ټاکنې د بیلګې په منځ کې د هغې ډلې پورې د تړاو په احتمال کې د **۱۲٫۵**٪ په اندازه کې کموالي پورې ارتباط لري چې په عمومي توګه د شخړو په هواري کې د روښتیا څخه خوښ نه دي. ( د د دې شاخص په اړه د نورو معلوماتو لپاره ۱ ضمیمه وګورئ). دا موندنې یو ځل بیا د هغه منفي اغیز پوتنشیل په ډاګه کوي چې د سیمه ییزه پرمختیایي شورا له ټاکنو سره تړاو لري. د ولسوالۍ په کچه شته اغیز موقتي ښکاري، هغه داسې چې منفي اغیز د دویمې بودجې تر لاسه کولو ته راجع کیږي ، هغه اغیز چې LCA ګروپ د هغو پوښتل شویو کسانو چې د شخړو د هواري په شته غوراویو کې له روښتیا خوښ نه دي د تړاو په احتمال کې ۱۰٪ زیاتوالي پورې ارتباط لري. د نورو پایلو په اړه چې احصائیوي ارزښت لري، دویم ځل ټاکنې د دولت په ثبات کې ( په دې اړه برداشت چې ولسوال او یا امنیه قوماندان د ولسوالۍ په کچه پیاوړی شخص دی، د دولتي واک لپاره یو شاخص دی) د **۲۸** ٪ په اندازه د ډیر زیاتوالی ( **۵**٪ یې ارزښت لري ) پورې تړاو لري، دا دغه راز د **۲۲**٪ په اندازه په دې کې له ډیر والي سره تړاو لري چې د روغتیایي خدماتو او تعلیم څخه خلک ګومره خوښ دي.

له دې پایلو دې نتیجې ته رسیږو چې یوازې د سیمه ییزه پرمختیایي شورا فعالیت او وړتیا د کلي په کچه د حکومتولۍ پر برداشتونو اغیز کوي. سره له دې موږ دوه میکانیزمونه وړاندې کړي چې سیمه ییزه شورا د ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ د اجرا په برخه کې سره نښلوي، چې د سیمه ییزې پرمختیایي شورا ټاکنې او د ملي پیوستون د پروژې عملي کول دي ( د بودجې لګول ) . له هغه ځایه چې د سیمه ییزه پرمختیایي شورا دویم ځل ټاکنې او د ملي پیوستون پړاوونه په بشپړه توګه په ولسوالیو کې په خواره واره ډول ویشل شوي، ( لکه د امن ولسوالیو په ګټه هیڅ ډول پریتوب نشته ) موږ د " حذف شوي متحول د پلوی " امکان په نظر کې نه نیسو. سربیره پر دې موږ دغه راز د امنیت په برخه کې څو کنټرلوونکي عناصر په پام کې نیسو ( ۱ ضمیمه وګورئ) - په ځانګړې توګه **۳** ، **۴** ، **۵** او **۱۵** کنټرلوونکي عناصر - په داسې حال کې چې **۱۴** متحول د جغرافیې له پلوه لرې وال اندازه کوي او په ورته وخت کې دولت ته د لاس رسي یو بل مهم اړخ هم دی. د دغو ملحوظات پر بنسټ له همدې ځایه ده چې موږ داسې یوه فرضیه وړاندې کوو چې دا دویمې ټاکنې او د ملي پیوستون بودجې دي چې په یوه سیمه ییزه پرمختیایي شورا کې د ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ برداشتونه بدلوي، او دولت ته له موانعو پرته لاس رسی. د ښه امنیت له امله نه دی. په راتلونکې برخه کې په دې اړه څېړنه کوو چې د شورا ښه ادغام ښایي ورته دنده ترسره کړي: د ولسوالۍ په کچه کلي له ودولت سره نښلوي.

**۲ جدول: د سیمه ییزه پرمختیایي شورا فعالیت او د ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ پایلې**

| متحولونه | ۱ موديل | ۲ موديل | ۳ موديل | ۴ موديل |
|---|---|---|---|---|
| | د شخړو په هواري کې د روښتیا برداشت (د LCA ګروپ غړیتوب) | په ولسوالۍ کې پیاوړی شخص | د خلکو اړتیاوو په برخه کې د ولسوالۍ د اجرائاتو برداشت | د تعلیم او روغتیا کیفیت (مرکب شاخص) |
| د سیمه ییزه پرمختیایي شورا زیاتیدونکی اغیز | ۰,۰۰۸۱ | ۰,۰۲۷۹- | ۰,۰۲۳۹- | ۰,۰۴۴۲- |
| | (۰,۰۱۴۹) | (۰,۰۲۴۴) | (۰,۰۴۱۱) | (۰,۰۳۷۴) |
| د سیمه ییزه پرمختیایي شورا دویمې ټاکنې | ۰,۱۲۵-** | ۰,۲۸۰*** | ۰,۱۳۰ | ۰,۲۲۴** |
| | (۰,۰۴۴۷) | (۰,۰۸۰۱) | (۰,۰۹۲۷) | (۰,۱۰۹) |
| د ملي پیوستون بودجه | ۰,۰۹۷۳*** | ۰,۰۱۴۰ | ۰,۰۴۷۲- | ۰,۰۱۷۲ |
| | (۰,۰۲۵۱) | (۰,۰۵۵۲) | (۰,۰۷۳۲) | (۰,۰۷۷۹) |
| ملاحظات | | ۴,۲۰۲ | ۴,۲۰۲ | ۳,۴۰۸ |
| R-squared | | ۰,۲۷۲ | ۰,۱۴۹ | ۰,۲۲۵ |

یادونه: په شننه کې د ۱۵-۲۰۱۴ کلونو د سروې معلومات کارول شوي، ۱ موديل لوژستیکي regression کاروي (متوسط حاشیوي تاثیرات)، ۲، ۳، او ۴ موديل د عادي واړه مربع شکلونه regressions، (OLS) ordinary least squares کاروي. د کلي په کچه یو ځای شوي لويې غلطۍ د قوسونو په منځ کې ***،**،* د ۱٪، ۵٪ او ۱۰٪ سلنه په کچه ارزښت ښيي په ترتیب سره، ددې متحول لپاره د کټګورۍ پر بنسټ ماخذ "د سیمه ییزه پرمختیایي شورا یو ځل ټاکنې" دی، د دې متحول لپاره د کټګورۍ پر بنسټ ماخذ "د ملي پیوستون یوه بودجه" ده.

## د شورا د بیلا بیلو برخو او د ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ ښکیلتیا

دا برخه په دې اړه تمرکز کوي چې په ټوله کې د شورا ښکیلتیا د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ له برداشتونو سره تړاو لري. یو ځل بیا درې مهم خپلواک متحولونه کاروو: د شورا د کاري فعالیت شاخص ، د سیمه ییزه پرمختیایي شورا دویم ځل ټاکنې او د ملي پیوستون دویمه بودجه. د کلي په کچه پایلې په لاندني ۳ جدول کې په تفصیل وړندې کیږي.

**۳ جدول: د شورا کالي فعالیت او د کلي په کچه د حکومتولۍ برداشتونه د سیمه ییزه پرمختیایي شورا له خوا**

| متحولونه | ۱ موديل | ۲ موديل | ۳ موديل |
|---|---|---|---|
| | د سیمه ییزه پرمختیایي شورا مشر په کلي پیاوړی شخص دی | د سیمه ییزه پرمختیایي شورا له خوا د شخړو په هواري کې د روښتیا برداشت | د شورا پریکړې د خلکو په ګټه دي |
| د شورا د کاري فعالیت شاخص | ۰,۰۸۱۷*** | ۰,۰۵۲۸ | ۰,۰۴۹۵** |
| | (۰,۰۴۲۲) | (۰,۰۳۴۸) | (۰,۰۱۲۷) |
| د ملي پیوستون دویمه بودجه | ۰,۰۴۸۵ | ۰,۰۳۷۵ | ۰,۰۲۷۱- |
| | (۰,۰۸۳۸) | (۰,۰۵۴۵) | (۰,۰۲۱۱) |
| د سیمه ییزه پرمختیایي دویمې ټاکنې | ۰,۰۹۰۴ | ۰,۱۵۴-* | ۰,۰۴۷۱ |
| | (۰,۱۰۳) | (۰,۰۸۵۲) | (۰,۰۳۵۲) |
| ملاحظات | ۴,۳۸۳ | ۴,۲۷۳ | ۴,۳۸۳ |
| R-squared | ۰,۱۵۵ | ۰,۲۰۲ | |

ملاحظات: په شننه کې د ۱۵-۲۰۱۴ د سروې معلومات کاروي، ۱ او ۲ موديلونه regressions، (OLS) ordinary least squares کاروي، ۳ مودل لوژستیکي regression کاروي (متوسط حاشیوي تاثیرات)، د کلي په کچه یو ځای شوي لويې غلطۍ د قوسونو په منځ کې ***،**،* د ۱٪، ۵٪ او ۱۰٪ سلنه په کچه ارزښت ښيي، په ترتیب سره د سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو مرکب شاخص زیاتیدونکی/ کمیدونکی اغیز او د کلستر په کچه د پرمختیایي شورا کار او د ولسوالۍ د پراختیایي شورا د فعالیتونو پوهاوی د polychoric factor analysis; له لارې ددې متحول لپاره د کټګورۍ پر بنسټ ماخذ "د سیمه ییزه پرمختیایي شورا یو ځل ټاکنې" دی، د دې متحول لپاره د کټګورۍ پر بنسټ ماخذ "د ملي پیوستون یوه بودجه" ده.

د شورا د کاري فعاليت په شاخص کې د يوه پواينټ په اندازه زياتولی ، لکه د سيمه ييزه شورا د اغيز زياتيدل او د کلستر او ولسوالۍ له پرمختيايي شوراګانو سره يې په چارو کې ښکيلتيا په اوسط ډول د سيمه ييزه پرمختيايي شورا په غښتلتيا کې له ۸٪ زياتوالي سره تړاو لري، لکه پوښتل شويو کسانو ويلي چې د سيمه ييزه پرمختيايي شورا مشر په کلي کې تر ټولو پياوړی شخص دی. دا دغه راز په هغه احتمالي برداشت کې له ۵٪ زياتوالي سره تړاو لري چې د شورا پريکړې د خلکو په ګټه وبلل شي ( همغه شان چې دغه پريکړې د لږ شمير خلکو په ګټه نه وي ) . د شورا د ټاکنو او د ملي پيوستون د بودجو په اړه يوازې يوه پايله ده چې د احصائيې له مخې ارزښت لري. د سيمه ييزه پرمختيايي شورا دويم ځل ټاکنې په هغه برداشت کې له ۱۵٪ کموالي سره تړاو لري چې د سيمه ييزه پرمختيايي شورا له خوا د شخړو د هواري لپاره شوې پريکړې عادلانه بولي.

اوس د ولسوالۍ په کچه پايلو ته ورګرځو ( ۴ جدول ) د شورا د کاري فعاليت په شاخص کې د يوه پواينټ زياتوالی په اوسط ډول د هغو پوښتل شويو کسانو ګروپ ته په تمايل کې د ۵٪ احتمالي کموالي پورې تړاو لري چې په عمومي توګه د شخړو د هواري لپاره له شته غوراويو / انتخابونو خوښ نه دي. ( د دې متحول د شرحې لپاره ۱ ضميمه وګورئ). دا په دې معنی ده چې له لوړې کچې سيالانو ( د کلستر په کچه سيمه ييزه او د ولسوالۍ په کچه پرمختيايي شوراګانې ) سره په چارو کې د سيمه ييزه پرمختيايي شورا په ښه توګه ښکيلتيا د شخړو د هوارې په برخه کې د شته غوراويو په اړه د قناعت کچه را کموي. په هر حال دا اغيز کمزوری ده او يوازې د ۱۰٪ ترکچې ارزښت لري. د شورا د کاري فعاليت په شاخص کې د يوه پواينټ په اندازه زياتوالی هم په دې برداشت کې له ۸٪ کموالي سره تړاو لري چې ولسوال يا امنيه قوماندان په ولسوالۍ کې تر ټولو پياوړی شخص دی ( د ۱۰٪ په کچه د ارزښت وړ دی) . دا منفي پايلې يوه تشريح غواړي. دا سې ښکاري چې دا پايلې له لرې ولسواليو تر لاسه شوي ( دا هغه ولسوالۍ دي چې مرکزونو ته يې له پاخه عمومي سړکه تر نيم ساعته پورې لارده ) . په دغو ولسواليو کې د ولسوالۍ د پرمختيايي شورا او د ولسوال ترمنځ اړيکې ډيرې کمزورې وې، دا هغه ولسوالۍ دي چې ولسوالان يې په پرمختيايي برخو کې د شورا واکونه نه خوښوي، او د ولسوالۍ پرمختيايي شوراګانې هم له ولسوالانو سره همکاري نه کوي. په هغو ولسواليو کې چې ډيرې لرې نه دي د دغو دوه مهمو عناصرو ترمنځ کاري اړيکې ښې دي، او د دغو اړيکو وضعيت هغه حالت ته ډيرې ورته دي چې د سيمه ييزه ارګانونو اداري په پاليسۍ کې يې يادونه شوې ده. پايله دا چې د ولسوالۍ د پرمختيايي شوراګانو او ولسوالانو ترمنځ کاري کمزورې اړيکي ښايي د دولتي واکمنۍ او د شخړو په هواري کې د روښتيا په اړه برداشتونه کمزوري کړي.

**۴ جدول د شورا کاري فعاليت او د ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ په اړه برداشتونه**

| متحولونه | ۱ موديل | ۲ موديل | ۳موديل | ۴ موديل |
|---|---|---|---|---|
| | د شخړو د هواري پريکړو کې د روښتيا برداشت ( د ايل سي اې غړتوب ) | په ولسوالۍ کې تر ټولو پياوړی شخص | د خلکو غوښتنو ته د ولسوالۍ ځوابوينه | د روغتيا او تعليم کيفيت ( مرکب شاخص ) |
| د شورا د کاري فعاليت شاخص | *۰,۰۳۲۸- | *۰,۰۷۵۰- | **۰,۱۱۳ | **۰,۰۹۸۵ |
| | (۰,۰۱۸۵) | (۰,۰۴۱۴) | (۰,۰۴۷۰) | (۰,۰۴۵۴) |
| د سيمه ييزه پرمختيايي شورا دويمې ټاکنې | **۰,۱۲۰- | ***۰,۲۷۹ | ۰,۱۲۴ | **۰,۲۱۹ |
| | (۰,۰۴۵۵) | (۰,۰۸۱۱) | (۰,۰۹۹۱) | (۰,۱۰۹) |
| د ملي پيوستون دويمه بودجه | ***۰,۰۹۸۵ | ۰,۰۱۳۲ | ۰,۰۵۳۹- | ۰,۰۰۲۷۸ |
| | (۰,۰۲۴۸) | (۰,۰۵۴۰) | (۰,۰۷۱۷) | (۰,۰۷۹۱) |
| ملاحظات | ۴,۲۰۲ | ۴,۲۰۲ | ۴,۲۰۲ | ۳,۴۰۸ |
| R-squared | | ۰,۲۸۱ | ۰,۱۵۴ | ۰,۲۲۷ |

يادونه: په شننه کې د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کلونو معلومات کارول شوي دي. ۱ موديل لوژيستيکي regressions (متوسط حاشيوي تاثيرات ) : ۲، ۳، او ۴ موديلونه OLS ( ordinary least squares ) د کلي په کچه يو ځای شوې لويې غلطۍ د قوسونو په منځ کې ***,**,* د ۱٪ ، ۵٪ او ۱۰٪ سلنه په کچه ارزښت ښيي، په ترتيب سره د سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانو مرکب شاخص زياتيدونکی/ کميدونکی اغيز او د کلستر په کچه د پرمختيايي شورا کار او د ولسوالۍ د پراختيايي شورا د فعاليتونو پوهاوی د polychoric factor analysis; له لارې ددې متحول لپاره د کټګورۍ پر بنسټ ماخذ "د سيمه ييزه پرمختيايي شورا يو ځل ټاکنې" دی، د دې متحول لپاره د کټګورۍ پر بنسټ ماخذ "د ملي پيوستون يوه بودجه" ده.

لاندنۍ دوه پایلې مثبتې او د **۵**٪ سلنې په کچه کې د ارزښت وړ دي. د شورا د کاري فعالیت په شاخص کې د یو پواینټ زیاتوالی په دې برداشت کې د **۱۱,۳**٪ زیاتوالي پورې تړاو لري چې ولسوالۍ د خلکو اړتیاوو ته پام کوي. دا ډېره مهمه / پیاوړې پایله ده او معنی یې داده چې په هغه کلي کې اوسېدل چې سیمه ییز پرمختیایي شورا یې په چارو کې ښه ښکیله ده د **۲۲,۲**٪ په اندازه په دې باور کې زیاتوالي پورې تړاو لري چې ولسوالۍ د خلکو اړتیاوو ته پام کوي. په ورته توګه په شاخص کې د یوه پواینټ زیاتوالی د روغتیا او تعلیم په مثبت ارزولو کې د ۱۰٪ په اندازه زیاتوالي پورې تړاو لري، ( په چارو کې د ښو ښکیلو سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو لپاره دا د **۲۲**٪ زیاتوالي په معنی دی )

د سیمه ییزه پرمختیایي شورا د دویم ځل ټاکنو او د ملي پیوستون د دویمې بودجې په برخه کې د همدې شورا د فعالیت په اړه تر لاشویو پایلو ته ورته دي ( **۲** جدول ) . د سیمه ییزه پرمختیایي شورا دویمې ټاکنې ( د یو ځل ټاکنو پر تله ) په اوسط ډول په دې امکان کې د **۱۲**٪ په اندازه کموالي پورې تړاو لري چې د LCA ګروپ غړي د شخړو د هوارې لپاره د شته غوراویو څخه ډېر خوښ دي ( **۵**٪ سلنه یې ارزښت لري ) . دا دغه راز د **۲۸**٪ په اندازه په زیاته پیماته په دې برداشت پورې چې ولسوال یا امنیه قوماندان په ولسوالۍ کې ډېر پیاوړي کسان دي، تړاو لري، او د روغتیا او تعلیم له کیفیت څخه په قناعت کې د **۲۲**٪ په اندازه زیاتوالي پورې هم تړاو لري ) د **۱**٪ او **۵**٪ په اندازه پایلې د پام وړ دي). د ملي پیوستون ددیمې بودجې تر لاسه کولو ( د یوې بودجې پر تله ) په برخه کې یوائې یوه د پام وړ اړیکه شته: د ۱۰٪ په اندازه له هغه ګروپ پوښتل شویو کسانو سره د تعلق زیاتوالی چې د شخړو د هوارې په برخه کې له شته غوراویو ډېر خوښ دي. دا پایلې یو ځل بیا دا وړاندیز کوي چې د سیمه ییزه پرمختیایي شورا بل ځل ټاکنو له امله رامنځته شوی کشمکش او جلاوالی طبیعتا موقتي دي.

## ۷.۳ سیمه ییزې حکومتولۍ ته د رسیدو قرینوي تګلاره؟ ځایي ګواښونه او توان

تر اوسه مورږ دا جوته کړه چې د سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو کاري فعالیت او د شورا له لوړو پوړونو سره ښکیلتیا ، د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ برداشتونه اغیزمنوي ( اکثراً په مثب لارو ) . په دې وروستۍ برخه کې دا پوښتنه مطرح کوو چې آیا د حکومتولۍ پر برداشتونو دا ملاحظه شوې او اکثرا مثبتې اغیزې د ټاکلو ولسوالیو د قرینو لپاره ځانګړې دي ( لکه امنیتي وضعیت) او یا دا چې آی دا په عمومي توګه ځانګړي شرایطو په کې په پام کې نه دي نیول شوي . په بل عبارت ، مورږ پوښتنه کوو چې آیا شورا د ځانګړو شرایطو له مخې ښه کار کوي. دا پایلې ښایي د افغان حکومت او نړیوالو پرمختیایي سازمانونو لپاره ډېرې زیاتې مهمې وي ځکه دوی به وکولی شي ددې په مرسته پوه شي چې د ښه اغیز لپاره ښکیلتیاوې په نښه کړي.

دا تصور چې ګواکې ټولنه په یوه سیمه کې د یوه دولت له خوا په یوه ډول کنټرولیږي، ډېر پراخ ، خو ډېر زوړ نه دی. د عمومي قانونو له مخې په متنوع او ګڼ توکمه ټولنو کې پر ټولو یو شان سیاسي حکم چلول د عصري ملي دولتونو د زمانې یو ابتکار دی. په پخوا زمانو کې امپراتوریانو ، شاهي نظامونو او یا فیوډالي نظامونو – ځینو یې د ملي دولتونو تر زمانې پورې ښه دوام کړی – دا تصور ددې لپاره په پام کې نیولی و چې واک چلول تر ډېره د خبرو له لارې د توافق یو بهیر او په تر لاس لاندې ټولنو د واک چلولو یو پلان شوی مرکزی طاقت دی.

د افغانستان امارت ، له هغه وړاندې شاهي نظام او وروسته بیا د یو کولو لپاره له تاوتریخوالي ډکې هلې ځلې او د عصري کولو لپاره د عبد الرحمن خان او امان الله خان هڅې، دا ټولې د یوه قوي مرکزي ځواک د رامنځته کولو لپاره ښکاره بیلګې دي، چې د مملکت په بیلابیلو برخو کې یې د سیمه ییزه حکومتولۍ لبیلابیل ډولونو سره توافق ښودلی دی. [92] آن نن ډېر داسې دولتونه چې په بنسټ کې سره یو دي او په سیالي لحاظ ملی متمرکز دولتونه دي، اکثراً وړتیا او سیاسي اراده نه لري یا ډېر ساده ، په ټولنه کې د یو ډول قوانینو او حکومتي بنسټونو له لارې د نفوذ لپاره کورنی مشروعیت نه لري.[97]

په نننۍ افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولي د بېلابېلو بنسټونو لخوا په بېلابېلو لارو او کچو وړاندې کېږي. خو دا کار د فدرالي او نامتمرکزو دولتونو په څېر د اساسي قانون په حکم په لوی لاس نه تر سره کېږي، ځکه چې د دغه قانون له مخې افغانستان یو متمرکز دولت دی. د حکومتولۍ د دې بڼې لامل غیر ارادي، خو اټکل وړ بهیرونه دي، چې د تاریخي عواملو په نظر کې نیولو سره د ټولنیزې رنګارنګۍ، د واک د سیمه ییزو مرکزونو ، هغو سیمو ته د مرکزي دولت د محدود لاسرسي چې د هغو سیالو بنسټونو لخوا اداره کېږي، چې نه یوازې د حکومت بلکې د دولت د بنسیزې بڼې هم مخالف دي. په پایله کې یې سیمه ییزه حکومتولي وېشل شوې، خو ګډوډوونکې نه ده.

۹۲ بارنېټ آر روبین (( د افغانستان پاشل کېدل: په نړیوال سیستم کې د دولت جوړول او ړنګېدل )) هیو هیون ، د یلو پوهنتون پرس. ۲۰۰۲

۹۷ . یان کولر او بوریس ویلک له دولته پرته امنیت څنګه تینګېږي؟ په شمال ختیځ افغانستان او پاکستان کې موندنې. د ماریان بیشیم، تانیا بورزیل، فیلیپ ګینشیل او برنارد زانګل لخوا ایډېټ شوی، **۵۵**-**۸۲**( بادېن: نوموس: ۲۰۱۱).

په دې پوهيدل او شننه چې په افغانستان کې د حکومتولۍ موډيلونه څه ډول عمل کوي، د سيمه ييزه حکومتولۍ د پاليسيو په اړه د معقولو پريکړو لپاره اړين دي. که څه هم دا موږ ته دا را په ګوته کوي چې کومې لارې چارې د ځانګړو ځايي شرايطو په پام کې نيولو سره ښې پايلې لرلای شي. د کليوالو سيمو زونونه، نظر ښايي د دوه لاملونو له کبله عملي نه وي : لومړی دا چې دغه موډيلونه ډير زيات سره ويشلي دي او دويم دا چې ډير يې په لنډه موده کې بدليدونکي دي. نو ځکه موږه پريکړه وکړه چې د دولت او خلکو ترمنځ په اړيکو کې د بدلون په اړه ډير ثابت خو د جغرافيې له پلوه غير قابل مقايسه اړونده معيارونه وټاکو. په دې برخه کې د سروې شويو ولسواليو په يوه معينه جغرافيه کې د ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ پر ښوواندو د شورا اغيز څيړو. له نظري پلوه د ولسواليو دغو فرعي سيمو ته د (( له حکومتولۍ اغيزمن کلسترونه )) په توګه مراجعه کوو ، له احصايوي پلوه دا د سروې پربنسټ د ملاحظاتو فرعي برخې دي چې د تيوريکي معيارونو له مخې رامنځته شوي دي.

په دې څيړنه کې موږ د حکومتولۍ د اغيز په کلسترونو د سروې لاندې ولسواليو دويشلو لپاره له تيورۍ د دوه اخستل شوي معيارونه کارول: امنيت او ترانسپورټي او مواصلاتي بنسټيزو اسانتياوو ( د مواصلاتو لويې لارې لکه سړکونه ) ته لاس رسی. امنيت ځکه مهم دی چې هغه شرايط چې شورا په کې فعاليت کوي ، په بنسټيزه توګه بدلوي. لمړی دا چې امنيت د شورا د عادي فعاليتونو مخه نيسي ( ښايي د شورا غړي وګواښل شي او يا ښايي خپل کار ځای ته په تللو کې ستونزې ولري. ) او دويم دا چې ښايي د امنيت له امله شورا د خپل فعاليت لومړيتوبونه بدل کړي. په داسې حال کې چې د شورا بيلابيلو کچو کې په ښه امنيت کې د پرمختيا ، د ځايي حکومتولۍ د دندو او د خلکو او دولت ترمنځ د اړيکو په ټينګولو کې اندېښنې لري، نو په ناسمو امنيتي شرايطو کې ښايي دوی خپله دنده بدله کړي او له وسله والو سره د خپلو ټولنو په استازيتوب خبرې او مذاکرات وکړي. د شورا له خوا د خلکو او دولت ترمنځ د نږديوالي د هڅو له امله ښايي وسله وال مخالفين دوی په ښکاره وګواښي. تر هغه ځايه چې له امنيتي پلوه د اغيز خبره ده ، ولسوالۍ د امنيتي پيښو او حکومت او يا د وسله والو مخالفينو د حضور پر بنسټ په څو کټګوريو ويشل شوي دي، خو د شخړو او نا امنيو د موضوع د روښانه کولو لپاره د وخت عنصر هم په پام کې نيول شوی دی. دا کار مو ددې لپاره وکړ چې د سروې په موده کې ( ۲۰۱۰ تر **۱۵** – **۲۰۱۴** پورې ) د امنيتي وضعيت بدلون په پام کې ولرو.

ترانسپورټي او د اړيکو بنسټيزو اسانتياوو ته لاس رسی مهم دی ، ځکه چې همدا اسانتياوې دي چې ولسوالي له مرکزي حکومت او اقتصادي فعاليتونو سره نښلوي. دا چې د افغان دولت ډير متمرکز دی نو په کابل کې حکومتي ادارو ته لاس رسی بايد د يو لړ ساده اداري اصولو له مخې ترسره شي چې ډير څرګند وي او په ټوله کې د دولت بانفوذ موجوديت ته لاره هواره کړي. په پرتله ييز ډول، په لرې پرتو ولسواليو کې تمه ده چې نورې ځانګړتياوې ، ځايي اداري او د حکومتولۍ لپاره د حل لارې ومومو او په ټوله کې مرکزي حکومت ته محدود لاس رسی.

لرې والی او يا نږديوالی يوازې د حکومتولۍ د څرنګوالي پورې تړاو نه لري، بلکې له اقتصادي او د ژوندانه له فرصتونو سره اړيکه لري. دغه فرصتونه کيدای شي چې پر ټولنيز جوړښت او د ځايي حکومتولۍ په حل لارو کې د دوی د ګډون پر ګټو ډير اغيز ولري، لکه هغه چې د شورا له خوا وړاندې شوي دي. په دې اړه چې ارتباط کلستر اغيزمنوي، ولسوالۍ په دې اساس چې مرکز يې له پاخه عمومي سړکه ( د اړيکو لار ) نيم ساعت مزل لرې ده ، په فرعي توګه ويشل شوي دي. په سروې شوې سيمه کې دوه لويې لارې تيرې شوي دي : يوه يې له کابله ، د بغلان او قندز له لارې شيرخان بندر سرحدي ښار ته چې له تاجکستان سره پر پوله پروت دی، غزيدلې او بله يې قندز له فيض آباد سره د تالقان له لارې نښلوي. له هغه ځايه چې نښلول کيدل يا ارتباط د دغو معيارونو سره تړاو لري نو د سروې په موده کې په خپل حال پاتې شول.

## پر امنيت د ولسوالۍ د کلستر اغيز او د شورا د کاري فعاليت اغيز د حکومتولۍ په اړه نظرونو باندې

لاندنی **۵** جدول په ولسوالۍ کې د امنيتي وضعيت د اړونده پايلو لنډيز وړاندې کوي . د شورا ښه کاري فعاليت په امن او نسبي امن ولسواليو کې د خلکو اړتياوو ته د ځوابولو په اړه برداشتونو کې له زياتوالي سره په منځني ډول تړاو لري. د امن ولسواليو پر تله په نسبتا امن ولسواليو کې په يو ډول مثبت اغيز ډير دی. په نا امنو ولسواليو کې پر نا مستقل متحول د پام وړ احصائيوي اغيز نشته.

د شورا د کاري فعاليت په شاخص کې د يوه پوائنټ زياتوالی، په نسبتا امنو ولسواليو کې د شخړو په هواري کې د روڼتيا په اړه برداشت کې د **۹**٪ په اندازه کموالي پورې تړاو لري. په امنو او نا امنو ولسواليو کې پر نا مستقل متحول د پام وړ احصائيوي اغيز نشته.

د **۱۵**- **۲۰۱۰** کلونو ترمنځ موده کې ، شورا د ولسوالۍ - که هغه امن او يا نا امنه ولسوالۍ دي- په کچه د دولتي واک په ټينګښت کې ټاکلي احصائيوي اغيز نه درلود. د شورا ښه کاري فعاليت په منځني ډول په امن ولسواليو کې د روغتيايي او تعليمي خدماتو د کيفيت په اړه د برداشت ښه والي ( په مثبت توګه ښه برداشت ) سره تړاو لري ( يوازې ۱۰٪ د ارزښت وړ دی ) . په امنو او نسبتا امنو ولسواليو کې پر نا مستقل متحول د پام وړ احصائيوي اغيز نشته.

**۵ جدول: د امنیت وضعیت له مخې په ویشل شویو ولسوالیو کې د شورا د کاري فعالیت شاخص**

| متحولونه | ۱ موډیل | ۲ موډیل | ۳ موډیل | ۴ موډیل |
|---|---|---|---|---|
| دامنیت له مخې په ویشل شویو ولسوالیو کې د شورا د کاري فعالیت شاخص | د ټولنې اړتیاوو ته د ولسوالۍ ځوابونه کې د روښتیا برداشت | د شخړو په هواري کې د روښتیا برداشت ( د LCA ګروپ غړیتوب ) | په ولسوالۍ کې تر ټولو پیاوړی شخص | د تعلیم او روغتیا کیفیت ( مرکب شاخص ) |
| نا امنه ولسوالۍ | ۰,۱۳۵- | ۰,۰۴۵۷- | ۰,۱۴۰- | ۰,۰۷۹۲ |
| | (۰,۰۹۲۰) | (۰,۰۳۴۴) | (۰,۱۰۳) | (۰,۰۲۸۸) |
| نسبتا امن ولسوالۍ | ***۰,۲۴۰ | **۰,۰۸۷۱- | ۰,۰۱۰۸ | **۰,۱۸۸ |
| | (۰,۰۸۰۸) | (۰,۰۳۷۴) | (۰,۰۵۷۲) | (۰,۰۸۳۷) |
| امن ولسوالۍ | **۰,۱۷۳ | ۰,۰۱۲۹- | ۰,۰۵۹۰- | ۰,۰۲۲۲ |
| | (۰,۰۷۰۰) | (۰,۰۲۴۰) | (۰,۰۴۴۵) | (۰,۰۲۵۷) |
| ملاحظات | ۴,۲۲۲ | ۴,۲۰۲ | ۴,۲۲۲ | ۳,۴۵۴ |

یادونه: په شننه کې د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کلونو معلومات کارول شوي دي. متوسط حاشیوي تاثیرات یوائې د ولسوالۍ د فرعي برخو لپاره دي؛ هغه چې له ټاکل شویو بیلګو تر لاسه شوي دي لکه په ۲ او ۴ جدولونو کې بیان شوي ؛ ۲ موډیل لوژستیکي regression کاروي؛ نور ټول موډیلونه اټکل شوي OLS کاروي؛ د کلي په کچه یو ځای شوي لویې غلطۍ د قوسونو په منځ کې ***,**,* د ۱٪ ، ۵٪ او ۱۰٪ سلنه په کچه ارزښت ښیي، په ترتیب سره د سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو مرکب شاخص زیاتیدونکی/ کمیدونکی اغیز او د کلستر په کچه د پرمختیایي شورا کار او د ولسوالۍ د پراختیایی شورا د فعالیتونو پوهاوی د polychoric factor analysis؛ له لارې د ولسوالۍ د پرمختیایي شورا فعالیتونه سرچینه اخلي.

د نښلولو او د حکومتولۍ پر برداشتونو د شورا د کاري فعالیت د اغیز لپاره د ولسوالۍ د کلستر اغیز

لاندینی جدول د ولسوالیو د لریوالي / نښلولو په اړه د پایلو لنډیز وړاندې کوي. د شورا د ښه کاري فعالیت سیستم په منځني ډول د ټولنې اړتیاوو ته په هغو ولسوالیو کې د ځوابویلو په برداشت کې زیاتوالي پورې تړاو لري چې له نښلوونکو لارو لرې پرتې دي. په هغو ولسوالیو کې چې له لویو لارو د نیم ساعت مزل په اندازه لرې دي د احصائیوي ارزښت له مخې پر ناخپلواک متحول ( ځوابوینه ) اغیز نشته.

د شورا د کاري فعالیت په شاخص کې د یوه پوائنټ په اندازه زیاتوالی په منځني ډول په لرې ولسوالیو کې د شخړو په هوارې کې د روښتیا په اړه برداشت کې د ۲٪ کموالي پورې تړاو لري. دا په هغو ولسوالیو کې چې ښې نښلول شوي دي د احصائیوي ارزښت له مخې پر نا خپلواک متحول اغیز نه لري. د شورا سیستم د ولسوالۍ په کچه ، په هغو ولسوالیو کې چې لویو لارو ته د نږدیوالي پر بنسټ ویشل شوي دي ، د دولتي واک پر ټینګیدو احصائیوي ارزښت لرونکی اغیز نه لري.

د شورا ښه کاري فعالیت په لرې پرتو ولسوالیو کې د تعلیم او روغتیا د کیفیت په اړه په برداشت کې له زیاتوالي سره منځنۍ اړیکه لري. په هغو ولسوالیو کې چې لاس رسی ورته اسان دی پر ناخپلواک متحول احصائیوي ارزښت لرونکی اغیز نشته.

**۲ جدول: لويو لارو (عمومي پاخه سړکونه ) ته د لاس رسي پر بنسټ د ويش له مخې د شورا د کاري فعاليت شاخص**

| متحولونه | ۱ موديل | ۲ موديل | ۳ موديل | ۴ موديل |
|---|---|---|---|---|
| د امنيتي وضعيت له مخې په ويشل شويو ولسواليو کې د شورا د فعاليت شاخص | د ټولنې اړتيا وو ته د ولسوالۍ د ځوابويلو په اړه برداشت | د شخړو په هواري کې د روڼتيا برداشت ( د LCA ګروپ غړيتوب ) | په ولسوالۍ کې تر ټولو پياوړی شخص | د تعليم او روغتيا کيفيت ( مرکب شاخص ) |
| په ښه توګه نښلول شوې ولسوالۍ | ۰,۰۳۷۱ | ۰,۰۱۴۲ | -۰,۱۱۲ | -۰,۰۳۲۲ |
| | (۰,۰۲۳۴) | (۰,۰۲۲۹) | (۰,۰۷۲۴) | (۰,۰۲۱۳) |
| لرې پرتې ولسوالۍ | ۰,۱۷۱** | -۰,۰۲۰۴** | -۰,۰۲۳۹ | ۰,۱۳۴** |
| | (۰,۰۲۴۰) | (۰,۰۲۳۵) | (۰,۰۳۲۵) | (۰,۰۵۷۲) |
| ملاحظات | ۴,۲۰۲ | ۴,۲۰۲ | ۴,۲۰۲ | ۳,۴۰۸ |

يادونه: په شننه کې د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کلونو معلومات کارول شوي دي. متوسط حاشيوي تاثيرات يوازې د ولسوالۍ د فرعي برخو لپاره دي؛ هغه چې له ټاکل شويو بيلګو تر لاسه شوي دي لکه په ۳ او ۲ جدولونو کې بيان شوي ؛ ۲ موديل لوژستيکي regression کاروي؛ نور ټول موديلونه اټکل شوي OLS کاروي؛ د کلي په کچه يو ځای شوې لويې غلطۍ د قوسونو په منځ کې ***,**,* د ۱٪ ، ۵٪ او ۱۰٪ سلنه په کچه ارزښت ښيي، په ترتيب سره د سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانو مرکب شاخص زياتيدونکی/ کميدونکی اغيز او د کلستر په کچه د پرمختيايي شورا کار او د ولسوالۍ د پراختيايي شورا د فعاليتونو پوهاوی د polychoric factor analysis; له لارې د ولسوالۍ د پرمختيايي شورا فعاليتونه سرچينه اخلي.

په دې اړه زموږ څېړنه چې د بيلابيلو قراينو ( امنيت وضعيت ، نښلول شوې ولسوالۍ / لرې ولسوالۍ ) له مخې شورا د سيمه ييزه حکومتولۍ په اړه برداشتونه څه ډول بدلوي ، تر اوسه تر ډيره په لومړني پړاو کې ده. زموږ لومړنۍ شننه ښيي چې د شورا ښه کاري فعاليت په امن او لرې ولسواليو کې د دولت له خوا د حکومتولۍ په اړه په منځني ډول له مثبتونو برداشتونو سره تړاو لري. په نا امنو او مرکزونو ته نږدې ولسواليو د حکومتولۍ په اړه پر برداشتونو د شورا اغيز لږ دی. دا چې د شورا جوړښت به د حکومتولۍ نور اړخونه په مثبت يا منفي توګه اغېزمن کړي او يا به خپل اغېز له لاسه ورکړي، دا د راتلونکو پلټنو بحث دی.

## ۷.۴ تر اوسه لاس ته راغلې پايلې

وړاندې له دې چې د خپلو موندنو بحث پيل کړو، د تر لاسه شويو پايلو لنډيز وړاندې کوو. موږ سيمه ييزه پرمختيايي شورا د دې له خوا په خپله د دوی د کار او فعاليت د ارزونې له مخې کوډ کړې دي او دا چې دغه شوراګانې په ټوله کې د شورا په جوړښت کې له لوړو پوړيو سره په څه ډول په چارو کې ښکيلې شوي دي. دا وروستی هم د ځانې ارزونې پر بنسټ شوی. له دې موخه دا وه چې وګورو چې ډيرو فعالو او ښو ښکيلو سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانو د کلي او ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ په اړه برداشتونو کې ښه والي راوستی. د سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانو د ځانګړتياوو ( فعاليت او ښکيلتيا ) او د حکومتولۍ په اړه د برداشتونو ترمنځ د اړيکو د څېړلو لپاره موږ د تړاوي شننې ميتود کارولی، او دا د دې لپاره چې دا خبره کره کړو چې د حکومتولۍ په اړه په برداشتونو کې تر لاسه شوي توپيرونه د ( امنيت ، د سړکونو له لارې نښلول کيدل ) فکټورونو پايله ده او که د سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانو د پورته يادو شويو ځانګړتياوو پورې تړاو لری. د تړاوي ميتود له مخې شننه دغه راز موږ ته دا چانس راکوي چې د کره شويو اړيکو پياوړتيا وارزوو. د تړاوي ماډلونو په رامنځته کولو سره موږ پريکړه وکړه چې د شورا د نورو مهمو اړخونو په اړه هم څېړنه وکړو: په عمودي توګه د شورا ښکيلتيا، دويمې ټاکنې او د ملي پيوستون د دويمې بودجې تاديه.

شننې زموږ هغه مخکنې اټکلونه/فرضيې تاييدوي چې ډيره فعاله سيمه ييزه پرمختيايي شورا د کلي په کچه د حکومتولۍ په اړه له مثبتونو برداشتونو سره تړاو لري. زموږ د لومړنيو تمو برخلاف ، موږ د سيمه ييزه پرمختيايي شورا د فعاليت او د ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ ترمنځ اړيکي ، چې احصائيوي ارزښت ولري ، ونه موندلې. دا پايله سپارښتنه کوي چې د سيمه ييزه پرمختيايي شوراګانو ملاتړ او وړتيا لوړول د کلي په کچه حکومتولي پياوړي کوي ، خو دا سې ښکاري چې د دولت له خوا د حکومتولۍ په اړه پر شته برداشتونو او په ټوله کې پر دولت اغيز نه کوي.

زموږ شننه درې ميکانيزمونه وړاندې کوي چې د ولسوالۍ په کچه د دولت له خوا د حکومتولۍ د برداشتونو او د کلي په کچه د حکومتولۍ ترمنځ اړيکه رامنځته کوي. لمړی په عمودي توګه په چارو کې د شورا ښکيلتيا ده نو اغيز يې په جزي توګه ناجوت دی. هغه سيمه ييزه پرمختيايي شورا چې د لوړې کچې له پرمختيايي شوراګانو ( د کلستر سيمه ييزه پرمختيايي شورا او د ولسوالۍ

پرمختیایي شورا ) سره ښې اړیکي لري په ولسوالۍ کې د خلکو اړتیاوو ته له ښې ځوابوینې او ښو روغتیایي او تعلیمي خدمتونو پورې تړاو لري. دا مثبت اغیز په جزءي توګه له هغې نرمې منفي پایلې سره متوازن دی چې په دوه برخو کې دی، یو د شخړو د هواري په برخه کې او بل په دې کې چې په ولسوالۍ کې د پیاوړي شخص په توګه له ولسوال او امنیه قوماندان پرته نورو ته میلان لري. په ښو ښکیلو سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو کې پوښتل شویو کسانو ډیر دې ته میلان درلود چې د ولسوالیو پرمختیایي شورا او یا مشران د ولسوالۍ په کچه دپیاوړیو کسانو په توګه وښیي.

دویم میکانیزم چې کلي له ولسوالۍ سره نښلوي ( او بالاخره له دولت سره ) د سیمه ییزه پرمختیایي شورا له دویم ځل ټاکنو سره تړاو لري. د دغې شورا دویم ځل ټاکنې د دولتي واک ( دا باور چې ولسوال او یا امنیه قوماندان په ولسوالۍ کې تر ټولو پیاوړی کس دی ) له ټینګیدو او له روغتیایي او تعلیمي خدمتونو سره ټینګ مثبت تړاو لري. دغه مثبتې پایلې د شخړو د هواري پر برداشتونو د سیمه ییزه پرمختیایي شورا د دویمو ټاکنو د منفي اغیز له امله راکمې شوي دي. دغه منفي اغیز د کلي او ولسوالۍ دواړو کچو پورې تړاو لري. دا پایلې موږ د هغه کشمکش په څیر تعبیروو چې له ازادو ټاکنو سره تړاو لري.[98] دا تعبیر باید سم وي ، دا تعبیر باید د کلي د شورا په ټاکلو کې د غورایو په اړه یوه خبرداري په معنی وي، لکه دا چې که دغه ټاکنې د ټاکنو خپلواک کمیسیون له خوا ترسره شي. کله چې د سیمه ییزه پرمختیایي شورا ټاکنې چې د نادولتي اداري له خوا چې پروګرام پرمخ بیایي په سمه توګه او په هر کلي په جلا ډول تر سره شي، د اندازې وړ خلل رامنځته کوي نو که دا ټاکنې په ټول هیواد کې په یوه ورځ ترسره شي نو د کلي د شورا ټاکنې به څومره خلل رامنځته کړي؟ البته دې ته په پام سره چې که دغه ټاکنې د هر کلي شرایطو ته په پام تنظیم نه شي.

دریم میکانیز چې کلی له ولسوالۍ - او بالاخره له دولت - سره نښلوي هغه د ملي پیوستون پروګرام د دویم پړاو بودجه تادیه او پلي کول دي. په دې تړاو د احصائیوي ارزښت له مخې یوائې یوه اړیکه جوته شوه: د ملي پیوستون د دویمې بودجې تر لاسه کولو، د شخړو په هواري کې د رونټیا په اړه د خلکو په قناعت کې له زیاتوالي سره کلک او د پام وړ تړاو درلود. دغه موندنې د هغو منفي اړیکو په رڼا کې خوشبینانه دي چې د سیمه ییزه پرمختیایي شورا د دویم ځل ټاکنو او د شخړو د هواري په اړه برداشتونو ترمنځ شته دي: له هغه ځایه چې د ملي پیوستون پروګرام د سیمه ییزه پرمختیایي شورا له ټاکنو وروسته عملي کیږي، نو احتمالا هغه داخلي کشمکشونه چې د سمیه ییزه پرمختیایي شورا د ټاکنو له امله رامنځته شوي یوائې موقتي کشمکشونه وي.دا جوته نه ده چې دغه ډول یوه پایله یوائې د وخت خبره ده او که د مالي وجوهو تادیه ده چې د ټاکنو له امله رامنځته شوی ټکر له منځه وړي. دا د راتلونکې څیړنې هدف وي چې پر دغې موضوع زموږ د کیفي مرکو د نورې مفصلې شننې له لارې رڼا واچوي.

وروستی دا چې موږ وښودله چې د حکومتولۍ هغه اغیزې چې له شورا سره تړاو لري په امنو یا نسبتا امنو او په لرې ولسوالیو کې ټینګې دي. له هغه ځایه چې د دواړو کټګوریو - زموږ د سروې لرې ولسوالۍ هم دې ته نږدې دي چې امن وبلل شي - ترمنځ ټاکلی حد نشته، نو دا معلومه نه ده چې دا یو اغیز دی او که دوه بیلابیلې اغیزې دي چې د شورا د لا ډیر مؤثریت سره مرسته کوي.

98 . دا پایله جالبه ښکاري خو په ځانګړې توګه د افغاني ټولنې د شخړو د هواري ازادو لارو چارو ته وکتل شي ښایي ډیر حیرانوونکې نه وي، هغه شخړې چې د واک پر سر دي، ( د تاوتریخوالي پوتانسیل ) د ځاني مرستې میتوډونه، او د جوجاړې رامنځته کولو بنسټونه ( جرګې یا دودیزې شوراګانې ) چې له لارې شخړې ، سیالۍ او سیاسي موضوع ګانې هواریږي. د کولر او ملګري یې ( په افغانستان کې شخړه او ثبات ) وګورئ

# ۸. پایلې

د دې څېړنې اصلي هدف دا و چې د شورا (د سیمه ییزه پرمختیایي شورا کاري فعالیت، د شورا ښکیلتیا، ټاکنې او د ملي پیوستون پروګرام تادیات) د راتلونکې او د ولسوالۍ او کلي په کچه د حکومتولۍ په اړه د برداشتونو، ترمنځ اړیکې پیدا کړو. لکه په مخکنۍ برخه کې چې وښودل شول چې موږ په دې بریالي شولو چې د احصائیوي ارزښت له مخې داسې اړیکې پیدا کړو چې د دغه دوه اړخیزه تعامل د څرنګوالي یو انځور وړاندې کړي.

دا موندنې د دې هڅې په تمه بیانوو چې هغه ممکنه توضیحات چې نور کار غواړي تائید او یا ناسمې ثابتې کړو: د هغو سلګونه کیفي مرکو چاڼول چې د کلیو له استازو سره شوي دي او نور احصائیوي شننې ته اړتیا لري. په دې برخه کې به یواځې درې ازمایښتي توضیحات وړاندې کړو چې په راتلونکې کې باید وازمایل شي.

## ۸.۱ لامرکزي پرمختیا او حساب ورکونه

ملي پیوستون پروګرام په داسې یوه اډانه کې رامنځته شوی چې له ۱۹۸۰ لسیزې را په دېخوا د پرمختیایي موخو لپاره د ټولنې له لارې تر سره کیږي، معمولا د ټولنې له خوا په خپله پرمختیایي چارې پرمخ بیول کیږي. د ټولنې له خوا د پرمختیایي چارو ترسره کول دوه برخې لري: ټولنه د ځایي خلکو استازي (چې موږ دلته سیمه ییزه پرمختیایي شورا او د شورى پراخ جوړښت لرو) ټاکي چې د پریکړو صلاحیت ولري، ټولنه دغو استازو ته د پرمختیایي بودجې د لګولو واک ورکوي. د دغه پروګرام د تیورۍ له مخې، له دغه بهیر څخه ښه پرمختیایي کارونه او د حکومتولۍ په برخه کې ښې پایلې تر لاسه کیدای شي، دا ځکه چې د ځایي خلکو له خوا د پریکړې صلاحیت لرونکې دغه مرجع د هغو کسانو پر تله چې حکومت له بیرونه ټاکلي او یا له بیرونه د نادولتي مؤسسې کارکوونکې دي، د سیمې د خلکو په اړتیاو ښه پوهیږي او بله دا چې په دې سیستم کې د حساب ورکولو میکانیزم چې د ټاکنو له لارې رامنځته کیږي، د پریکړو صلاحیت لرونکې دغه مرجع اړ کوي چې هغه د ټولنې د ګټو لپاره وکاروي.

زموږ د سروې یو شمیر پایلې دغه فرضي میکانیزم تاییدوي. د پایلو له مخې ۸۴٪ پوښتل شوي کسان "بشپړ موافق" یا "موافق" دي چې په کلي د تر ټولو پیاوړي شخص واک له ټاکنو سرچینه اخلي، په داسې حال کې چې ۷۲٪ په دې باور دي چې په دیموکراتیکه بڼه د ټاکل شوې سیمه ییزه پرمختیایي شورا پریکړې د خلکو په ګټه دي. نږدې له درې دوه برخې (۲۳٪) پوښتل شوي کسان په دې باور دي چې دغه پریکړې "هیڅکله" یا "کله کله" د کلي له منځه او یا له بیرونه، لکه د قوماندانانو، لوی ځمکوالو، دولتي چارواکو، د نادولتي مؤسسو او طالبانو له خوا، تر اغیز لاندې نه دي راغلي دي. او وروستی دا چې اکثره (۷۰٪) په دې نظر دي چې د کلي په کچه پروژې ځکه ټاکل شوي چې دوی اکثرو رایه ورکړې، نه دا چې د پیاوړو کسانو یا د ناولتي مؤسسو له خوا د دغو پروژو د عملي کولو لپاره هڅې شوي دي. دا پایلې به نورې هم مثبتې وي خو په دې شرط چې سیمه ییزه پرمختیایي شورا ښه کاري فعالیت وکړي، په ټوله کې د شورا په فعالیتونو کې ښه ښکیله وي یا کلي د ملي پیوستون نور تادیات تر لاسه کړي. ځینې مثبتې پایلې ښایي په موقته توګه د سیمه ییزه پرمختیایي شورا د غړو د ټاکلو لپاره په سیالۍ کې د رامنځته شوي کشمکش له امله بې اندوله شي. که همداسې وي نو دا د خواشینۍ خبره ده. خو په اوږد مهال کې بل ځل ټاکنې د حساب ورکولو، مشروعیت او هڅونې لپاره بنستیز رول لري. د دې لپاره چې د حساب ورکولو کیفي مثالونه مو وړاندې کړي وي، موږ دداسې قضیو په اړه معلومات تر لاسه کړي چې ځینو سیمه ییزه ټولنو د پرمختیایي شورا غړي د درغلۍ د تورونو او یا د وړتیا نه لرلو له امله له دندې لرې کړي دي.

نو له دې ښکاري چې د ملي پیوستون پروګرام د ټولنې له خوا د پرمختیایي چارو د پرمخ بیولو له لارې ټولنې ته ښه لاره موندلې ده: دغه پروګرام سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې رامنځته او مشروعیت یې ورکړ، دوی یې خپلو سیمه ییزه ټولنو ته حساب ورکوونکي وګرځول او په دې کې بریالی شو چې - په سختو او ناسمو شرایطو کې یې –له داخلي او بهرنیو نا مشروعو لاس وهنو څخه وژغوري. زموږ په نظر دا واقعیت د یو لړ مثبتو پایلو په توګه بیانیدای شي چې د کلي په کچه تر لاسه شوي دي، چیرته چې سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې مشروعیت او واک لري. دا میکانیزم (ورکړل شوی صلاحیت د ځایي حساب ورکونې څخه سرچینه اخلي) که څه هم د ولسوالۍ په کچه د ترلاسه شویو مثبتو پایلو په برخه کې کافي نه دی. موږ د ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ په برخه کې د لاسته راوړنو د تفصیل لپاره د دوه نورو احتیاطي میکانیزمونه وړاندیز کوو: د برداشتونو بدلول او د یوه داسې چینل رامنځته کول چې اړتیاوې را برسیره او د شکایتونو چاره وکړي.

## ۸.۲ د بلدتیا او خبراوي له لارې بدلېدونکي نظرونه

هغو فعالیتونو ، خدمتونو او مالي سرچینو چې د ملي پیوستون پروګرام پورې تړاو لري، دولت یې خلکو ته ورنږدې کړ، دوی دا چاره په داسې توګه تر سره کړه چې د افغانستان د شمال ختیځو کلیوالو سیمو لپاره له معنی ډک و. نو له دې ځایه ده چې ویلی شو ښایي د څو نسلونو په ژوندانه کې دا لومړی ځل وي چې کلیوال له دولته یو ربښتینی او مثبت شی تر لاسه کوي. [99]دا چاره یواځې د مالي سرچینو ترلاسه کولو پورې محدوده نه ده بلکې د سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو د غړو د ټاکلو بهیر او د ملي پیوستون د بودجې پلي کول هم په کې شامل دي. دغه بهیر په ټولنه کې ټولنیز خوځښت او د استازو د ورتیا لوړول له ځان سره لرل. د همدې بهیر د پلي کولو له لارې د کلي استازي اړ شول چې په وار ، وار ولسوالۍ او آن کله د ولایت مرکز ته هم ولاړ شي او هلته له دولتي چارواکو سره وګوري. دغه بهیر په دې هم مرسته وکړله چې دولت د یوه خیر غوښتونکي په څېره کې وړاندې کړي او کلیوالو ته یې دا چانس په لاس ورکړ چې پوه شي چې دولتي چارې څه ډول ترسره کیږي، له همدې ځایه ده چې دغه بهیر مرسته وکړه چې د خلکو په ذهن کې د دولت منفي کلیشه یي او بدبینه شته تصویر تت شي. د یادولو ده چې ځینو هغو کسانو چې موږ ورسره مرکې کړي او د سیمه ییزه پرمختیایي شورا ځینو غړو د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت د پلار په توګه یاد کړی. [100] په هغو سیمو کې چې سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې ډیرې فعالې وې ، څو ځله یې ټاکنې کړې وې او څو ځله یې بودجه تر لاسه کړې وه، د ( نه پوهیږم ) ځواب ډیر کمو خلکو ویلی و ، دا پایله دا په ډاګه کوي چې: پوښتل شویو کسانو د ( نه پوهیږم ) ځواب ځکه لږ ویلی وو چې د ځایي حکومتولۍ په اړه په ډیر څه پوهیدل او تر هر څه مهمه دا چې دوی د ولسوالۍ په کچه حکومتولۍ باندې پوهیدل ، هغه څه چې دوی یې په اړه یو نظر هم درلود.

## ۸.۳ د اړتیاو په اړه د خبراوي او د ستونزو د اوارولو لپاره د اړیکو لار

د خلکو د برداشت له اړخه او دا چې خلک ډیر آشنا او پوه شوي دي، دغه راز شورا او ممکن د ملي پیوستون په بهیر کې د سیمه ییزه پرمختیایي شورا د غړو فعالیت او لیدنو کتنو په دې کې مرسته کړې وي چې د خلکو غوښتنې او ستونزې د یوه کره چینل له لارې دولتي چارواکو ته ورسیږي. په یوه بله سروې کې چې موږ په دې وروستیو کې د افغانستان په نهو شمالي ولسوالیو کې تر سره کړې ده ( له هغې سروې سره هم مهال نه ده شوي چې معلومات یې په دې څیړنه کې کارل شوي دي) **۵۹٪** کسانو ویلي چې د روغتیا او تعلیمي خدمتونو ، د کوم کس یا کومې ادارې په اړه د شکایت پرمهال دوی سیمه ییزه پرمختیایي شورا ته مراجعه کړې ده، ۱۷٪ ویلي چې دوی ولسوال ته مراجعه کړې ده. موږ دغه راز دا سې تکراري قضیې لیدلي چې سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو د ولسوالۍ پرمختیایي اسامبلې استازو ته مراجعه کړې چې د دوی له اړخه ولسوال یا اړوند حکومتي ادارې ته مراجعه وکړي.

د ولسوالۍ په کچه د حکومتولۍ په اړه مثبت نظر د شورا له ښکیلتیا سره اړیکه لري ، دا همدا میکانیزم تاییدوي. دا ممکنه ده چې څو ځله ټاکنې او د ملي پیوستون څو ځله بودجه مصرفول د دولت په اړه د پوهاوي او برداشت کچه لوړه کړي او ښایي عمودي اړیکي هم تامین کړي.

## ۸.۴ سپارښتنې: د شورا د جوړښت ساتنه او رغاونه

دا اړتیا چې د سیمه ییزه پرمختیایي شورا د رامنځته کولو په په برخه کې اساسي قانون تطبیق شي اوس په ولسوالۍ کې د فرعي حکومتولۍ په برخه کې سمونونه له ټیټې درجې لومړیتوبه د پالیسۍ لوړ لومړیتوب ته بدله شوې ده. د څو حل لارو په اړه په دې وروستیو کې بحث شوی دی:

تر اوسه اساسي قانون او خطر ونه یواځینۍ اندیښنې نه دي چې دا بحث راپورته کوي. دغه راز اړتیاده چې ورتیا او د پرمختیایي شورا د دندو د ترسره کولو په برخه کې د حل بیلابیلې لارې په پام کې ونیول شي، چې هغه د حکومت د مشروعیت د لا ښه کولو لپاره د کلیوالو سیمو په کچه د پام وړ پرمختیایي چارې او خلکو ته د حکومتولۍ د خدماتو وړاندې کول دي . د دې لپاره چې د دلایلو په وړاندې کولو سره د حل لارو په اړه دې بحث کې ښه ونډه واخستل شي ، د افغانستان له شمال ختیځه د کیفیت او کمیت پر بنسټ شوې سروې مو په نظر کې ونیوله. د دې څیړنې تمرکز په یاده شوې سیمه کې د ولسوالۍ او کلیوالو سیمو په کچه د حکومتولۍ پر اوسني څرنګوالي دي.

---

۹۹ د دولت او ټولنې اړیکې تر ډیره پیچلې دي ، په تیره بیا د شخړو د هوارې په برخه کې. ټولنې په دوامداره توګه په هغو صورت کې له دولته د شخړو د هوارې لپاره مرسته غواړي چې دوی ونه شي کولی د حل لاره یې ومومي. د جان کویهلر ( مرکزي بنسټونه د شخړو څیړنه: میتودولوژیکي روش او د افغانستان په ختیځ کې یې پلوي کول ) وګورئ. په ورځني ژوند کې د شخړې تشې: د آسیا په کچه برداشتونهو ed مارتین سوکیفیلډ , ۸۲-۱۱۳ (Bielefeld: transcript, ۲۰۱۵)

۱۰۰ م م م د یوې ټولنیزې پرمختیایي شورا مشر، دایکندي، ۸ نومبر ۲۰۱۲

موږ وموندله چې سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې د کلي په سطحه د لوړې کچې مشروعیت او د حکومتولۍ خدمتونه وړاندې کوي. ډیرې فعالې ( او ممکن ښې روزل شوې ) سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې د دې لامل شوي چې د کلي په کچه د حکومتولۍ په اړه خلک ښه برداشت ولري. په هر حال د سیمه ییزه پرمختیایي شورا ښه کاري فعالیت یواځې د کلي په کچه د حکومتولۍ په اړه د خلکو برداشتونه ښه کولی شي ، خو د ولسوالۍ په کچه په خپله د دولتي حکومتولۍ پر کیفیت او مشروعیت اغیز نه لري.

خو له دې سره ، سره موږ د حکومت له خوا د چارو د اداره کولو په اړه د شته برداشتونو د بدلون لپاره درې میکانیزمونه وړاندې کړي چې درې واړه شورا پورې تړاو لري: ( ۱ ) نوي ټاکنې (۲) د ملي پیوستون د پروګرام د بلې بودجې تادیه او (۳) د او کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت اړونده د لوړې کچې پرمختیایي شوراګانو ( د کلستر په کچه سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې او د ولسوالۍ پرمختیایي اسامبلې ) سره په چارو کې د سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو ښه ښکیلتیا. دا پایلې د هغو نظرونو برعکس دي چې د مرستندونه ټولنو له خوا د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په مشرۍ د شوراګانو په اړه شته دي، هغه نظرونه چې وایي د دغو شوراګانو د مشروعیت اړخ تت او اصلي دنده یې پرمختیایي چارو ته پام دی.

خو شورا چې د رامنځته کولو یې اوه اته کاله کیږي په سیمه ییزه کچه روښانه مشروعیت لري او د کلیوالو سیمو په کچه د حکومتولۍ مهم بنسټ دی. د کلي او ولسوالۍ په کچه یې پر حکومتولۍ اغیز محسوس دی. تر ټولو مهمه دا چې د شورا فعالیتونه له دولت سره په حکومتولۍ کې سیالي نه کوي، بلکې برعکس کلی له دولت سره نښلوي اود دولت له خوا د حکومتولۍ په اړه د شته برداشت د ښه والي لپاره هم کار کوي.[۱۰۱]

دویمه مهمه موندنه په دې پورې تړاو لري چې د شورا کاري فعالیت د ولسوالیو د امنیتي وضعیت او جغرافیوي موقعیت پورې په څه ډول تړلی دی. زموږ موندنې ښیي چې د شورا کاري فعالیت په لرې پرتو ولسوالیو کې تر ټولو ښه دی خو په امن ولسوالیو کې په نسبي ډول ښه دی. په دې سره شورا د دولت په اړه د خلکو پر برداشتونو ډېر مثبت اغیز لرلی. په نا امنو سیمو کې هغو شوراګانو چې ښې اړیکې لري او یا هغو سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو چې ښه کاري فعالیت لري د دولت په اړه د خلکو پر برداشتونو اغیز نه دی لرلی، خو دا په دې معنی نه ده چې شوراګانو په نا امنو ولسوالیو کې خپلې مهمې دندې سرته نه دي رسولې. سره له دې چې په نا امنو سیمو کې سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو او په ټوله کې د شورا جوړښت د دولت په اړه برداشتونه نه پیاوړي کوي، خو هغو سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو چې ښه فعالیت یې لرلی په چوپه خوله یې د غیر رسمي ملیشو ( اربکیان ) په اړه یې د ویرې کچه راکمه کړې ده . داسې ښکاري چې ډیرې فعالې سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې او هغه چې په ښه توګه دندې تر سره کوي کولی شي چې د خپل سرو ملیشو پر قوماندانانو یو ډول کنټرول ولري. له هغه ځایه چې په اوسني امنیتي وضعیت کې چې له امله یې په کلیوالو سیمو کې ملیشې په یو داسې واقعیت بدلې شوي چې خلاصی ترې نشته ، د سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانو دغه ډول ورتیا ډېر مهمه ده.

نو له دې ځایه ده چې د کلیوالو سیمو په کچه د حکومتولۍ لپاره د سیناریو په ټاکلو کې زموږ لومړۍ سپارښتنه داده چې په ټوله کې د شورا جوړښت وساتل شی او لا پیاوړی شي. له دې دوه خبرې اخستل کیدای شي. لومړی دا چې شورا باید یواځې د پرمختیایي کارونو ترسره کولو لپاره نه وي بلکې شورا باید د حکومتولۍ د یوه بنسټ او د ټولنې د استازې په توګه په بشپړ ډول دنده سرته ورسوي. دویمه سپارښتنه داده چې شورا باید خپل بشپړه مستقیمه / عمودي ښکیلتیا وساتي ، او دا یواځې د کلستر له پرمختیایي شورا او د ولسوالۍ د پرمختیایي اسامبلې سره د سیمه ییزه پرمختیایي شورا د ښکیلتیا له لارې کیږي چې کلی له دولت سره نښلوي او په دې سره د دولت په اړه د کلیوالو برداشتونه ښه کوي. د شورا د دندو بشپړ راکمول د هغو ازمایښتي اړیکو له منځه وړلو خطر رامنځته کوي چې ټولنې یې له دولت سره د اړیکو د ټینګولو لپاره په لا پیاوړي کولو لګیا دي.

زموږ دویمه سپارښتنه د شورا جوړښت ته د قرینوي حساسیت په اړه ده. دا اړینه ده چې په لرو خو امنو ولسوالیو کې پر پرمختیایي چارو د تمرکز او د شورا په چوکاټ کې د کارکولو له لارې د سیمه ییزه بنسټونو ودانیو ته د جغرافیوي موقعیت له پلوه تطابق ورکړو، په نا امنو ولسوالیو کې د شوا جوړښت کولی شي چې د دولت او مخالفینو ترمنځ د منځګړي رول ولوبوي، خو په داسې یوه وضعیت کې باید دا تمه ونه لرو چې شورا دې د دولت پر مشروعیت هم اغیزوکړي. په هغو سیمو کې چې ښې نښلول شوي او امن دي، دولت ښایي د خلکو له استازو سره د سلا مشورو، د خدمتونو د وړاندې کولو او د حساب ورکونې د دولتي چوکاټ له لارې تعامل وکړي ( لکه د اړونده وزارتونو له لارې ). په نا امنو سیمو کې سیمه ییزه پرمختیایي شوراګانې باید که څه هم پاتې او ښکاري چې په ځایي ملیشو یو ډول کنټرول هم لري ، او له همدې ځایه ده چې پر خلکو د دغو ملیشو له خوا رامنځته کیدونکی ګواښ کمولی شي.

۱۰۱ دا خبره له یوه خبرداري سره مله ده. د ( لرې ) او د ( نسبتا امنو ) ولسوالیو په لرې پرتو سیمو کې د شورا ښه کاري فعالیت د دولت له خوا د شخړو په هواري کې له نا خوښۍ سره تړاو لري. دا معلومه نه ده چې دا یوازې یو تصادف دی او که د ډیرې ښکیلې شورا او د دولت له خوا د شخړو له هواري د ناخوښۍ ترمنځ د علت او معلول اړیکه ده

دریمه او وروستۍ سپارښتنه د ټاکنو پورې تړاو لري، د سیمه ییزه پرمختیایي شورا آن په هغو ټاکنو کې چې په جلا توګه او دقت ترسره شوې وي د کلي په کچه موقتي خو د اندازې وړ کشمکش او جلا والی راولي. خو که د کلي ، ولسوالۍ او د ولسي جرګې ټاکنې په ټول هیواد کې په یوه وخت کې ترسره شي نو نور به کوم ډول کشمکشونه رامنځته کړي؟ د اوسني ناسم امنیتي وضعیت په رڼا کې دا ډول پراخې ټاکنې ښایي د هیواد لپاره ډېر دروند کاروي. د دغه خطر په پام کې نیولو سره موږ په ډېر ټینګار سره د کلي او ولسوالۍ په کچه په یوه وخت کې د ټاکنو د نه ترسره کولو سپارښتنه کوو ، ځکه په دې کار سره په هیواد کې د لا ډېر پراخ کشمکش ویره شته ده.

# ضمیمه

دا برخه د هغو متحولو فکټورونو ټولیز نوملړ وړاندې کوي، چې په تړاو-شننې او همداراز د دغه تړاو په کړنلارو کې ترې کار اخېستل شوی دی. دغه دواړه برخې د څېړنپاڼې په مرکزي برخې کې د دې لپاره ځای شوې، چې په پرتلیز ډول ډېرې تخنیکې وې.

## لومړۍ ضمیمه: نور- کنټرول متحولونه

د تړاو په مخبېلګو کې مو ګڼ شمېر له تیوریکې پلوه سره تړلي متحولونه د کابو کوونکو په توګه وکارول. د دغو متحولونو پر پایلو د څېړنپاڼې په مرکزي برخه کې بحث نه دی شوی. د دغو متحولونو مهمه موخه د دې ټکي باوري کول دي، چې د مهمو خپلواکو او ناخپلواکو متحولونو تر منځ اړیکې د هغو له تیوریکې پلوه سره تړلو متحولونو لخوا نه دي اغېزمن شوې، چې پر هغو ناخپلواکو متحولونو یې اغېز کولای شو، چې د حکومتولۍ د ښوواندو په توګه کارول شوي دي.

۱. له پرمختیایي پروژو سره بلدتیا: د سروې په یوه پوښتنه کې له ګډونوالو پوښتل شوي چې ایا د دوی ټولنې په ټوله کې په تېرو دوو کلونو کې د پرمختیایي همغږۍ شورا له څانګړو پروژو لکه سړکونو او پلونو (چې په ټوله کې لس ډوله پروژې وې) ګټه اخېستې که نه. د دغو ځوابونو اوسط د پرمختیایي فعالیتونو نه د ټولنو د برخمنتوب په اټکلولو کې کارول شوی دی.

۲. د پروژو شمېر (د ټولنیزې پرمختیایي شورا پر سر): د هرې ټولنیزې پرمختیایي شورا پر سر د پرمختیایي پروژو شمېر. شمېرنې د ټولنیزو پرمختیایي شوراګانو له پېژندلیکونو اخېستل شوي دي.

۳. له نړیوالو سوله ساتو ځواکونو وېره: د سروې په یوه پوښتنه کې له ګډونوالو د وېرې د هغې کچې په اړه پوښتل شوي، چې دوی یې له بهرنیو ځواکونو لري (د درې-ټکیزې لایکرټ تلې له مخې تر سره شوې).

۴. د "نه وېرېدونکو" ګډونوالو ټولګه: پورته په درېیم ټکي کې د یادې شوې پوښتنې په څېر د ځانګړې ټولګې د شننې له لارې د څلورو بېلا بېلو لاملونو په پام کې نیولو سره یو خپلاسي متحول تر لاسه شوی: په دغو عواملو کې طالبان، اربکې/ټولنیزې ملېشې، بهرني وسله وال سرې، او مجرمې ډلې شاملې دي. د "نه وېرېدونکو" ګډونوالو ټولګه د ټولې مخبېلګې یوه اړوند ټولګه ده او د هغو ګډونوالو استازیتوب کوي چې په پورته یادو شویو عاملینو کې له هېڅ یوه نه ډارېږي.

۵. د حکومتولۍ زونونه: د ځانګړو کوډ لرونکو پینځه-کټګورۍ متحول چې د ټولنیزو پرمختیایي شوراګانو د پېژندلیکونو پر بنسټ ټاکل شوی د حکومتولۍ د زونونو په ګوته کولو لپاره غوره شوی دی: ۱) حکومتي او ګډوله حکومتولي ۲) قوماندان واکي ۳) لرې پرتې سیمې ۴) د سیالۍ زونونه ۵) د طالبانو واکمنې. "د حکومتولۍ زونونه" په نامه ټکی په تړاو-مخبېلګې کې د دولت د کنټرول/شتون د په ګوته کولو لپاره کارول شوی دی.

۶. په کلي کې تر ټولو پیاوړی شخص: د سروې په یوه پوښتنه کې له ګډونوالو پوښتل شوي، چې د دولسو یادو شویو کسانو (چې د "بل" غوراوی هم پکې شته) له ډلې یو د تر ټولو زیات ځواک لرونکي شخص په توګه غوره کړي. په دې شننې کې د څلور-ډلو لرونکی متحول له اصلي پوښتنې راویستل شوی: ۱) سیمه ییز جهادي قوماندان، اربکي قوماندان او د پولیسو سیمه ییز قوماندان ۲) ښوونکی، سوداګر، ملا، جایداد لرونکی/خان، او ملک/ارباب؛ ۳) قومي او کلیوالي مشران، ښوونکی، ډاکټر، پولیس افسر؛ ۴) د ټولنیزې پرمختیایي شورا مشر.

۷. په اوو بېلابېلو پرمختیایي سېکټورنو کې د نړیوالو پرمختیایي ټولنو ونډه: د سروې په یوه پوښتنه کې له ګډونوالو پوښتل شوي، چې له هغو څرګندونو سره څومره موافق دي، چې په اوو بېلابېلو برخو کې د یو شمېر پرمختیایي عاملانو د ونډې په اړه شوې دي. د نړیوالو پرمختیایي ټولنو په اړه ځوابونه ترې راویستل شوي. په هرې کټګورۍ کې د ټولو سېکټورونو اړوند تر ټولو ډېر ځوابونه په ټوله کې له پرمختګه د رضایت د کچ کولو لپاره کارول شوي دي.

۸. د عصري کېدنې قیمتونه: د سروې په یوه پوښتنه کې له ګډونوالو پوښتل شوي چې په دې برخه کې د څلور-قیمتي څرګندونو سره څومره موافق دي (چې د لایکرټ د تلې له څلور-ټکي ارزونې له مخې تر سره شوې). دا څرګندونې له پټیو/کرنې هاخوا هغو کاري فرصتونو پورې اړه لري چې سړو او ښځو ته په لاس ورځي، همداراز پر هلکانو او نجونو

دوارو د تعلیم مثبت اغېز، پر ټولنې د د دولتي ښوونيز نصاب مثبت اغېز او همداراز له اسلامي ارزښتونو سره يې همغږي. د دغه متحول د تر لاسه کولو لپاره د سروې په **۲۴۲** کلیو کې د څلور-قیمتي ځرګندونو په هرې کټګورۍ کې د تر ټولو زیاتو ځوابونو له اوسطه کار اخېستل شوی دی.

**۹.** عصري رسنۍ: د سروې په یوې پوښتنې کې ګډونوال پوښتل شوي، چې د رسنیو د سرچینې په توګه ( ورځپاڼه، تلوېزیون، یا راډیو ) د اهمیت د کچې له مخې له ۱ نه تر **۵** درجو پورې وټاکي، چې د درې خپلاسي متحولونو شاخص پکې کارول شوی.

۱۰. مدرسې/دولتي ښوونځي: د درې-کټګوریو متحول چې د ټولنیزو پرمختیایي شوراګانو له پېژندلیکه اخېستل شوی: د یوې ټولنیزې پرمختیایي شورا په کچه له ښوونځیو نه د مدرسو د شمېر د زیاتوالي لپاره ۱، له مدرسو نه د ښوونځیو د شمېر د زیاتوالي لپاره ۲، او د مدرسو او ښوونځیو د مساوي شمېر لپاره ۰ کارول شوی.

۱۱. د پښتون د په ګوته کولو خپلاسي متحول: د ځان پښتون بلل: د پښتون لپاره ۱ شمېره کارول شوې. هغه ګډونوال چې ځانونه یې پښتانه نه بلل د هغوی د ښوونې لپاره ۰ کارول شوی.

۱۲. هغه ټولنیزې پرمختیایي شوراګانې چې د پښتنو شمېر پکې تر **۳۰** سلنې کم دی: د ټولنیزې پرمختیایي شوراګانو له پېژندلیکونو راټولې شوې شمېرنې. د هغو کلیو لپاره د یوه خپلاسي متحول کارول چې د پښتنو شمېر پکې تر **۳۰** سلنې کم دی.

۱۳. هغه ټولنیزې پرمختیایي شوراګانې چې د پښتنو شمېر پکې تر **۵۰** سلنې کم دی: د ټولنیزو پرمختیایي شوراګانو له پېژندلیکونو راټولې شوې شمېرنې. د هغو کلیو لپاره د یوه خپلاسي متحول کارول چې د پښتنو شمېر پکې تر **۵۰** سلنې کم دی.

۱۴. لرې والی: د ټولنیزو پرمختیایي شوراګانو له پېژندلیکونو راټولې شوې شمېرنې. د ګاډي په مټ د دقیقو په حساب د ولسوالۍ له مرکز نه د ټولنیزې پرمختیایي شورا لرې والی. دا چې شمېرنې ډېرې پېچلې وې، د مربع جذر د بدلون بڼه یې وکارول شوه.

**۱۵.** ځای ته لاسرسی: د سروې د ډلې لخوا د راټولو شویو مالوماتو پر بنسټ سیمو ته د لاسرسي متحول. دا متحول د سروې ځای ته د لاسرسي د په ګوته کولو لپاره د څلور-ټکي تلې په مټ ټاکل شوی دی.

## دویمه ضمیمه: تړاوي شننه او د فعالیت ازموینې

لکه څنګه چې پاس وویل شول، موږ د حکومتولۍ پر ښوواندو د مهمو خپلواکو متحولونو د اغېز د ارزولو لپاره د عادي کوچنیو مربعګانو (OLS) د چلندلارې له ټولګې کار اخلو. په مخبېلګه ټاکل شویو کلیو کې د ځوابونو د یو شان والي احتمال ته په کتو او په تړاوي شننه کې د یو شمېر کلي-کچ ښوواندو د کارونې له کبله، موږ د کلي د کچې معیاري تېروتنو د یو ځای کولو له لارې د تړاوي مخبېلګو اټکل کوو. کله چې ناخپلواک متحولونه خپلاسي کوډونه وي، یاني د دوه ګونو پایلو متحولونه وي، د مخبېلګو د اټکل لپاره لوژستیکي شننه کارول شوې. خو کله چې خپلواک متحولونه د لویو جزونو د شننې شمېرنې وي او یا هم څوومي کچې لري، د او اېل اېس شننه ورته کارول شوې ده. د دې خبرې د باوري کولو لپاره چې په مهمو متحولونو پورې تړلې پایلې د ناخپلواکو څوومي متحولونو لپاره کار وړ دي، موږ د هغو مخبېلګو بیا اټکل کوو، چې د او اېل اېس په مټ یې مخکې اټکل شوی وي او د دې موخې لپاره منظمه لوژستیکې شننه کاروو، دا یوه داسې طریقه ده، چې د څوومي-کچ شمېرنو د شننې لپاره ډېره مناسبه ده. د دغو دوو بېلابېلو شننیزو مخبېلګو په کارولو د اټکل شویو ضریبونو په لوري یا احصایوي اهمیت کې کوم پاموړ بدلونونه و نه لیدل شول. له همدې امله موږ هغه پایلې وړاندې کوو، چې له او اېل اېس مخبېلګې تر لاسه شوې، چې کارول یې ساده او پرې پوهېدل اسان دي.

دا چې د مخبېلګو د اټکلولو لپاره پاموړ شمېر خپلواک متحولونه کارول شوي، د هرې یوې اټکل شوې مخبېلګې لپاره ګڼ اړخیز هممهال ازمېښتونه تر سره شوي، چې دا باوري شي، چې خپلواک متحولونه له یوه بل سره د لوړې کچې تړاو نه لري، ځکه چې دا بیا د اټکلونې په بهیر کې ستونزې پیدا کوي. که دوه متحولونه سره نژدې تړاو ولري، یاني دواړه عین پدیده تر ډېره بریده کچ کړي، په یوه ماډل کې د دواړو کارول ښایي په ضریبي اټکلونو کې بې ټیکاوي را منځته کړي او د مخبېلګې تفسیرول ستونزمنولای شي. یادې شوې ازموینې د بېلابېلو مخبېلګو لپاره کومه ستونزه نه په ګوته کوي، که څه هم پاموړ شمېر خپلواک متحولونه پکې کارول شوي.

په دې مخبېلګو کې د شمېرنو هغو غیر عادي او اغېزناکو ټکو ته هم پام شوی، چې پر اټکلونو بېځایه اغېز کولای شي. د قسمي تړاو متحولونه د اغېزناکو شمېرنټکو د پېژندنې لپاره کارول شوي دي. له مخبېلګو نه هېڅ کتنې لرې شوې نه دي، ځکه د سختو اغېزناکو ټکو شواهد پکې نه وو. ځینې خورې ورې کتنې په ډېرې کوچنۍ کچې کې شته، خو دومره مهمې نه دي، چې پاموړ اندېښنې را پورته کړي.

په پای کې، د مهمو اټکلوونکو، پایلو پورې اړوندو متحولونو او د عملیې پر پای ازمېښتونه تر سره کېږي، چې موخه یې د دې ټکي باوري کول دي، چې مخبېلګې له مهمو انګېرنو تېرې نه کوي.

# اخځلیک

,,افغان ولسمشر راتلونکي کال ته د پارلماني ټاکنو د تر سره کېدو ژمنه وکړه.،، رویټرز، ۲۹ دسمبر ۲۰۱۵.

بیت، انډریو، کرېستینا فوتیني او روبین اینیکولوپوف. ,, د ملي پیوستون پروګرام: په افغانستان کې د ټولنې په مټ چلېدونکي پرمختیایي پروګرام د اغېزو ارزونه.،، نړیواله سوله ساتنه ۲۲، شمېره ۴ ( ۲۰۱۵ ): ۳۰۲-۳۲۰.

بیت، انډریو، کرېستینا فوتیني، روبین اینیکولوپوف او شهیم کابلي. ,, د افغانستان د ملي پیوستون پروګرام د دویم پړاو د اغېزو ناڵره ارزونه: د لنډمهالي پروګرام اغېز له ورپسې تر سره شوې سروې نه.،، واشنګټن، ډي سي: نړیوال بانک، ۲۰۱۰.

بیت، انډریو، کرېستینا فوتیني او روبین اینیکولوپوف. ,, د پرمختیا له لارې د زړونو او ذهنونو ګټل: په افغانستان کې د ډګر له تجربو تر لاسه شوي شواهد.،، د ایم آی ټي د سیاسي علومو ډېپارټمېنټ څېړنپاڼه شمېره. ۲۰۱۱-۱۴، ۲۰۱۲.

بوینکي، یان آر، یان کولر او کرېستوف زورشر. ,, په شمال ختیځ افغانستان کې د پرمختیا د اغېز ارزونه ۲۰۰۷-۲۰۱۳: وروستی رپوټ.،، بون/برلین: د جرمني د اقتصادي همکارۍ او پرمختیا وزارت، ۲۰۱۵.

بریک، جېنېفر. ,, په افغانستان کې د ټولنیزو پرمختیایي شوراګانو د پایښت په اړه پلټنه.،، کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې مرکز ۲۰۰۸.

فاګېت، ژن-پال، او کرولین پوشل. ,, ایا نامتمرکزول د پرمختیا لپاره ښه دي؟،، د ژن-پال فاګېت او کرولین پوشل لخوا اېډېټ شوی، ۱-۳۰. اکسفورډ: اکسفورډ پوهنتون چاپ، ۲۰۱۵.

,, په بېړني غبرګون او بیا رغونې پروژو کې د جرمني د نړیوالې پرمختیا ادارې ورتیاوې.،، د جرمني د نړیوالې پرمختیا اداره، ۲۰۱۴.

giz۲۰۱۴ https://www.giz.de/nothilfe/de/downloads/giz۲۰۱۴-en-factsheet-overview-infrastr-emerg-resp.pdf (accessed ۳۱ May ۲۰۱۷).

د افغانستان اسلامي جمهوریت. ,, د سیمه ییزې حکومتولۍ تګلاره.،، کابل: د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره، ۲۰۱۰.

د افغانستان اسلامي جمهوریت,, په ولسوالیو او کلیو کې د حکومتولۍ او پرمختیا د ښه کولو تګلاره.،، کابل: د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره او د کلیو پراختیا او بیا رغونې وزارت، ۲۰۱۳.

د افغانستان اسلامي جمهوریت. ,, د ځان بسیاینې پر لور د افغانستان لار: د لومړي پړاو د پرمختګ رپوټ.،، د افغانستان اسلامي جمهوریت، ۲۰۱۵.

د افغانستان اسلامي جمهوریت. ,, د ولایتي بودیجې جوړونې تګلاره،، کابل: د مالیې وزارت، ۲۰۱۵.

د افغانستان اسلامي جمهوریت. ,, د افغان ښارونو وضعیت.،، کابل: د افغانستان اسلامي جمهوریت، ۲۰۱۵.

د افغانستان اسلامي جمهوریت. ,, د سیمه ییزې حکومتولۍ د تګلارې مخلیکي متن.،، کابل: د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره، ۲۰۱۲.

جوشیم، تورستین، ایلیا مرتضاشویلي او جینیفر مرتضاشویلي. ,, په نازکو دولتونو کې د سیمه ییزې حکومتولۍ رامنځته کول: له افغانستانه تجربوي شواهد.،، نړیوال پرمخګ ۷۷ (۲۰۱۲): ۲۹۳-۳۱۰.

خطاب، محمد حسن. ,, د اجرایوي رییس دفتر د ټاکنو نېټه ردوي.،، پژواک، ۲۴ جنوري ۲۰۱۲.

کولر، یان. ,, د مراتبو د لړۍ د سیوري دننه او بهر ټولنیز نظم: په افغانستان کې د حکومتولۍ بنې.،، کاري څېړنپانه ۳۳، حکومتولي، ۲۰۱۲.

کولر، یان. ,, بنستي-متمرکز کړکېچ څېړنه: میتودي چلنلار او په ختیځ افغانستان کې یې تطبیقول.،، په ورځني ژوند کې د کړکېچ تشې: د اسیا په لر و بر کې لیدتوګې، د مارټین سوکفیلډ لخوا ایډېټ شوی، ۸۲-۱۱۳. بییلفیلډ: ترانسکرېپت، ۲۰۱۵.

کولر، یان او کرېستوف ګوستوني. ,, کلیوالي حکومتولي: په شمال ختیځ افغانستان کې ټولنیز جوړښت او سیمه ییزه حکومتولي.،، په ښې حکومتولۍ کې، چې د اېم شاپیر لخوا اېډېټ شوی، ۳۹-۷۴. لوکوم، ۲۰۱۱.

کولر، یان، کرېستوف ګوستوني او یان بوینکی. ,, په افغانستان کې کرکېچ او ټیکاو: میتودي چلنلارې.،، پرېزېنټېشن، تاوتریخوالی، نشه یي توکي او حکومتولي: د مکسیکو امنیت په پرتلیزه لیدتوګه کې، سټانفورډ، اکتوبر ۲۰۱۱. (په جنوری ۲۰۱۲ ترلاسه شوی).

کولر، یان، کرېستوف ګوستوني، کیت چایلډ او بصیر فدا. ,, د ګډ مېتود اغېز ارزونه: له ټیکاو ارزونو نه په پرمختیایي همکارۍ کې کار اخېستل.،، د سولې او امنیت اقتصاد ژورنال ۱۰، شمېر ۲ (۲۰۱۵): ۲۱-۷۴.

کولر، یان او بوریس ویلک. په ووزو ستات کې. د ماریان بیشیم، تانیا بورزیل، فیلیپ ګونشیل او برنارد زانګېل لخوا ایډېټ شوی، ۵۵-۸۲. بادېن-بادېن: نوموس، ۲۰۱۱.

د کلیو پراختیا او بیا رغونې وزارت. ,, د ملي پیوستون پروګرام دریم پړاو. د عملیاتي لارښود شپږمه بڼه. کابل: د کلیو پراختیا او بیا رغونې وزارت، ۲۰۱۲.

نېکسن، همیش. ,, د سیمه ییزې حکومتولۍ بدلېدونکی مخ؟ په افغانستان کې د ټولنیزې پرمختیا شوراګانې.،، کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې مرکز، ۲۰۰۸.

روبین، بارنېټ آر. ,, د افغانستان پاشل کېدل: په نړیوال سېستم کې د دولت جوړېدونه او ړنګېدنه.،، نیو هیون: یل پوهنتون چاپ، ۲۰۰۲.

سالتمارش، دوګلاس او ابهیلاش میدهي. ,, سیمه ییزه حکومتولي د سیمه ییزو اړتیاو لپاره: د افغانستان لپاره مهمې موندنې او د تګلارې غوراوي.،، کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې مرکز، ۲۰۱۱.

سالتمارش، دوګلاس او ابهیلاش میدهي. ,, په افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولي: له ډګره کتنه.،، کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې مرکز، ۲۰۱۱.

شورکین، مایکل. ,, په افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولي.،، سانتا مونیکا، کلیفورنیا: رانډ، ۲۰۱۱.

وان بیلېرت، مارټین. ,, د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ټاکنو لپاره د ۲۰۱۲ کال نېټه اعلان کړه- خو د ټاکنو سمون څنګه؟،،. د افغانستان د شنونکو شبکه، ۱۸ جنوري ۲۰۱۲.

زورشېر، کرېستوف، کترین ګلوخوفڅېفا، ګرېګ فیف او نورا رونر. ,, د افغانستان د ستراتیژیک پېژندلیک ارزونه،،. بون: د جرمني د اقتصادي همکارۍ او پرمختیا فدرالي وزارت، ۲۰۱۳.

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو یو دوامداره لوستونکي یاست، د AREU لیکچر یا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون یې کاروئ، یا یوازې په دې وروستیو کې له دغه ادارې سره بلد شوي یاست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پایلو د شریکولو طریقې و ارزوو. د نظرونو شریکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ایمیل کول دي: areu@areu.org.af

یا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: **۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸**. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته یې ویلی شئ، خو په ممکنه ډول یو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړیکه نیسئ (یعنې د خپرونو، غونډو یا نورو لارو)
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ
- تاسو د څېړنو بریښنایي که چاپ شوی بڼه کاروئ
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي
- زموږ د څېړنې د بهیرونو یا پایلو په اړه ستاسو نظرونه
- هغه برخې یا موضوع ګانې چې تاسو یې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ
- د AREU هغه خپرونې یا فعالیتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو
- ستاسو د خوښې یا لېوالتیا ډګر، دنده یا څېړنه، او دغه راز موقعیت

# د AREU وروستۍ خپرونې

ټولې خپرونې له www.areu.org.af وېبپاڼې ډاونلوډولی شئ، او ډېر يې په چاپ شوی يا هارډکاپي بڼه په کابل کې د AREU له دفتره هم لاسته راوړلی شئ.

| تاریخ | د خپرونې نوم | لیکوال | پښتو | دري | د خپرونې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| جولای ۲۰۱۷ | خلکو ته د دولت نږدې کول: په افغانستان کې د پلان او بودیجې جوړونې نامتمرکزول | نعمت الله بيژن فرحت ايمل او هارون نايبخېل | | | ولايتي پلان او بوديجه جوړونه او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| جولای ۲۰۱۷ | په افغانستان کې د ښې حکومتولۍ په ودې کې د مدني ټولنې رول | اورځلا اشرف نعمت او کرين ورنر | | | مدني ټولنه او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| می ۲۰۱۷ | د استخراجي سېکتور حکومتولۍ کې اړوند راوستونکی ګام | جاوېد نوراني او ليين دو بروکير | | | کانونه او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| می ۲۰۱۷ | له پولې پورې اوبو سرچينو پرمختيا: د افغانستان، پاکستان او ايران په منځکې د همکارۍ ليدتوګې | وينسېنټ تامس له مجيب احمد عزيزي او خالد بهزاد سره | | | د طبيعي سرچينو مديريت | کيس څېړنه |
| می ۲۰۱۷ | سړيو او نارينتوب ته له نږدې کتنه: په جنسيتي اندول کې د هغوی فعاله ونډه | ليا ويلفريدا، ري پيلونګو، شونا اشاوېز، پرويز طفيل، سيد مهدي موسوي | ✓ | ✓ | جنسيت | تګلار نوټ |
| اپريل ۲۰۱۷ | پر شګو جوړ شوی دولت: اپيونو څنګه افغانستان اغېزمن کړ | ډېوېډ مېنسفيلډ | | | د طبيعي سرچينو مديريت | کتاب |
| اپريل ۲۰۱۷ | په کندهار ولايت کې د ډګر کار په اړه توضيحي نوټ، دسمبر ۲۰۱۵-جنوري ۲۰۱۷: کوکنار او کليوال عوايد | پال فېشتاين | ✓ | ✓ | د طبيعي سرچينو مديريت | توضيح |
| مارچ ۲۰۱۷ | افغان ملي پوځ له آيسافه وروسته | انتونيو ګوستوزي او علي محمد علي | | | حکومتولي | توضيح ليک |
| فبروري ۲۰۱۷ | په ننګرهار کې د وسله والې، تاوتريخوالي او نشه يي توکيو د توليد پرله پسې زياتوالی | ډېوېډ مېنسفيلډ | ✓ | ✓ | د طبيعي سرچينو مديريت | توضيح |
| جنوري ۲۰۱۷ | د جنسيتي نابرابرۍ بل اړخ: په افغانستان کې سړي او نارينتوب | شونا اېشاوېز، سيد مهدي موسوي، او ليا ويلفريډو پيلانګو | ✓ | ✓ | جنسيت | څېړنپاڼه |

خـــيړنې د ښه افغانســـتان لپاره

ټولې خېړونې په دغه پاڼه کې د راښکته کولو لپاره www.areu.org.af لاس ته راوړی شی.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ شوی کاپیانې هم موجودی دی.


**افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**
دحاجي يعقوب له څلور لارى څخه د شهيد د څلورلاري په لور، کين اړخ ته دريمه کوڅه، ۱۴۴ کور، نوی ښار، کابل، افغانستان
تيلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰) ۹۳+
بريښناليک:publications@areu.org.af
ويب پاڼه:www.areu.org.af



ISBN 978-9936-628-53-3